# د پېل خبرې

د افغانستان په معاصر تاريخ کې نولسمه او شلمه پيړۍ ډېرې پيچلې او متحولې پيړۍ دي، چې له يوې خوا په کې سياسي تحولات رامنځ ته شوي دي او له بلې خوا په کلتوري او اقتصادي برخه کې هم د پام وړ تحولات لري. په دې پيړيو کې افغانستان د انګريزي ښکيلاک له خوا د دريو جګړو او يرغلونو سره مخامخ شوی دی، او له نيکه مرغه د تاريخ پاڼې ګواهي ورکوي چې افغان ملت يې په وړاندې ښه په ميړانه مقابله کړې او په نظامي ډګر کې يې يرغلګرو ته ثابته کړې چې افغان ملت هيڅکله د چا تر غلامۍ لاندې نه شي راتلی.

که ددې دورې سياسي اړخ ته وګورو؛ نو يو ټکی زيات څرګنديږي او هغه دا چې دا ملت او ددې ملت رهبران په نظامي ډګر کې بريالي وو، خو بيا برعکس په سياسي ډګر کې د دښمنانو په وړاندې له بشپړې ماتې سره مخامخ شوي دي چې ياده موضوع يوه تاريخي پوښتنه راولاړوي او هغه دا چې ولې له برياليتوب سره سره افغانان له ماتې سره مخامخ کيدل؟ او ولې د دښمنانو ناروا غوښتنې او شرايط پر افغانانو منل کيدل؟

دې پوښتنې ته ډېر ځوابونه شته او هر څوک کولای شي چې ډېر په ساده ډول ځواب ورکړي؛ خو هغه چې د تاريخ له مستندو پاڼو څرګنديږي دا دي چې د تاريخ په اوږدو کې افغانستان د وخت د هر زبرځواک تر يرغل لاندې راغلی دی او دا ځکه، چې ددې هيواد مهم جيوپوليتيک او ستراتيژيک موقعيتونو ددوی د راتلو لاره هواره کړې، او له همدې لارې ورته د نورو هيوادونو نيول او محاصره کول ډېر اسان تمام شوي دي. همدې حالت افغانان له ښکيلاکګرو سره جګړو ته هڅولي او اف[illegible] د سياسي [illegible] سيمه[illegible] رقابتونو [illegible] ډګر پاتې [illegible] دی. [illegible] خوا خپل منځي اختلافات او د قدرت له پراخنيا سره مينه چې تل يې ددې خاورې د واکمنانو د ژوند برخه جوړه کړې، دې ته لاره هواروله چې واکمنان د پرديو تر اغيزې لاندې راشي، د خپل قدرت د ډېروالي لپاره د پرديو لمنې ته وروغورځيږي او بيا اړ شي چې د هغوی په اشارو تګ وکړي. دا او دې ته ورته نور لاملونه ددې سبب شوي چې دلته روان سياسي، اقتصادي او ټولنيز جريانونه له خنډ او ځنډ سره مخامخ شي او افغاني ټولنه له سياسي، اقتصادي او ټولنيزو پرمختګونو څخه وروسته پاتې شي، د بيلګې په ډول په نولسمې او شلمې پيړيو کې افغانستان د هند د ساتلو او د هند د نيولو پر سر د روس او انګريز په لويه لوبه ( Great Game ) کې راګير شو. په دې لوبه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دا هیواد له ډېرو فشارونو، یرغلونو او حتی له سیاسي، اقتصادي او کلتوري انزوا سره مخامخ شو او د تل په څېر له هر اړخه د زمانې له کاروان څخه وروسته پاتې شو.

له دې حالت څخه د ژغورنې یوازینۍ لاره داوه چې افغانستان ځواکمن اداري، سیاسي، اقتصادي او کلتوري بنسټونه ولري، ترڅو د پورتنیو ناخوالو مخه ونیول شي او خپلواکي تضمین شي؛ مګر له یوې خوا وروسته پاتې ټولنه، خپل منځي اختلافاتو ځیلي رهبران او له بلې خوا د ګاونډیانو هر ډول فشارونه هغه ستر خنډونه وو چې دا لاره له ننګونو سره مخامخ شي؛ خو ددې سره سره بیا هم یو څوک و چې دا هڅې یې په لاره واچولې او د لومړي ځل لپاره یې د عصري اداري او سیاسي سیستمونو د ایجاد لپاره بنسټونه کېښودل. نوموړی واکمن امیر شیرعلي خان و، چې د لومړي ځل لپاره یې په دې لاره کې د عمل میدان ته راودانګل. هغه له کوچنیوالي د افغانستان د آبادۍ او پرمختګ سره ځانګړې مینه درلوده، دا چې په لومړي ځل واکمنۍ کې دې هیلې ته ونه رسید، خو د واکمنۍ په دوهمه دوره کې یې په مهمو اصلاحاتو پیل وکړ او یو شمېر سیاسي بنسټونه یې کېښودل او په دې اړه یې د سیدجمال الدین افغاني لارښوونې او ریفورمونه د عملي سیاست تګلاره وګرځوله او په دې لاره کې نوموړی له څو بعدي سیاسي ستونزو سره لاس او ګریوان هم شو او هغه په دې پوهیده چې له دې ستونزو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره داده چې په خپلو پښو ولاړ افغانستان ولري؛ خو د یو لړ زیاتو لاملونو له مخې نوموړي ونه شوای کولای چې په بشپړ ډول خپلې پېل کړې هڅې تر منزل ورسوي؛ خو په دې لاره کې یې یو څه پرېښودل او بالاخره له برتانوي هند څخه د انګریزانو په دوهم په یرغل سره دده واکمني پای ته ورسیده.

( افغانستان په سیاسي سیستم کې د امیر شیرعلي خان ونډه ) تر سرلیک لاندې دا څیړنه همدغه مسایلو ته ځانګړې شوې ده. کله مې چې د پوهنیارۍ علمي رتبې ته موضوع ټاکله، په ذهن کې مې همداسې یو څه راګرځیدل چې پرې څیړنه وکړم او همداوه، چې د تاریخ جغرافیې د څانګې د استادانو او د خپل لارښود استاد پوهاند محمدرسول باوري سره له مشورو وروسته مو دا عنوان د څیړنې لپاره غوره کړ. الحمدالله دادی تر ډېرو هڅو او د لارښود استاد محترم پوهاند باوري صاحب تر علمي لارښوونو او نیکو مشورو وروسته دا څیړنه ستاسو په وړاندې ده. زه له خپل لارښود استاد څخه ډېره درنه علمي مننه کوم چې زما د لارښوونې دا درنه دنده یې په غاړه واخیسته او خپلې هڅې یې له ما څخه ونه سپمولې. همدا ډول د ټولنیزو علومو پوهنځی د تاریخ جغرافیې څانګې ټولو استادانو او په ځانګړي ډول له محترم استاد پوهندوی زرولي صدیقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثخه مننه کوم چې هر ځل يې راسرهددې ځيړنې په بشپړ کولو کې مرسته کړې او خپلې نيکې علمي مشورې يې راسره شريکې کړي دي.

پوهيالی سيف الله غروال

ټولنيزو علومو پوهنځي

د تاريخ جغرافيې څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

د افغانستان د نوي سياسي سيستم په ايجاد کې د اميرشيرعلي خان ونډه، تر عنوان لاندې دا څېړنه چې په څلورو فصلونو مشتمله ده، يو لړ اصلي او فرعي عناوين لري، اصلي موضوع يې د امير شيرعلي خان د حکومت په دوهمه دوره کې د نوي سياسي سيستم په ايجاد، اصلاحاتو او ريفورمونو څرخيږي.

په دې اثر کې لومړی هغو پېښو ته پام اړول شوی چې د امير شيرعلي خان د واکمنۍ په دويم ځل پيښې شوې دي. ددې دورې په لومړيو کې هڅه شوې چې داخلي ګډوډي له منځه لاړه شي او په هيواد کې سراسري امنيت قايم شي. په سياسي برخه کې له برتانوي هند سره د دوه اړخيزو اړيکو په اساس د ښه ګاونډيتوب د اړيکو جوړول وو، چې ددې موخې لپاره د دواړو هيوادونو په سطحه مهم کنفرانسونه جوړ شول،چې د افغانستان له خوا په کې بشپړ استازيتوب وشو او د هيواد د سياسي خپلواکۍ په منظور په تيرو او نوو کېدونکو تړونونو کې د دوه اړخيز تعادل په نظر کې نيولو لپاره له برتانوي هند سره پراخې مذاکرې وشوې، خو افغانستان له دې کنفرانسونو څخه هيڅ مثبته پايله ترلاسه نه کړه او افغانستان هم هيڅ کوم نوی تړون له برتانوي هند سره لاسليک نه کړ او ورځ تر بلې د دواړو هيوادونو ترمنځ سياسي اړيکې د بحران په لور رواني شوې تر هغه چې خبره تر دې ځايه ورسيده چې انګريزانو پر افغانستان دوهم پوځي تيری وکړ او د امير شيرعلي خان واکمنۍ ته يې د پای ټکی کېښود.

ددې اثر تر ټولو مهمه موضوع د امير شيرعلي خان د حکومت په دوهمه دوره کې د مساعدو فرصتونو له مخې په اصلاحي چارو کار پيل کيدل دي. په عصري پرنسيپونو ولاړې ادارې، عصري ښوونې روزنې، مطبوعاتو، د اردو روزلو او مجهز کولو ته جدي پاملرنه وشوه او په دې برخه کې يې له داخلي او خارجي فني کسانو څخه کار واخيست.په پای کې هغو عواملو ته اشاره شوې ده چې د امير شيرعلي خان د نوي مدنيت هڅې يې زيانمنې کړې.

د څېړنې دا ليکل شوې موضوع په مناقشې، پايلې، وړانديزونو او د منابعو په معرفي او پيژندنې پای ته رسيدلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لړلیک

عنوان — مخ

د پېل خبرې ........ 1
لنډیز ........ 4
سریزه ........ 6
د مسئلې یا پرابلم وړاندې کول ........ 9
د څېړنې موخې ........ 9
د څېړنې پوښتنې ........ 10
د اثارو کتنه ........ 11
د څېړنې تګلاره یا میتود ........ 12
لومړی څپرکی ........ 13
د افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه ........ 13
د سدوزایانو د واکمنۍ دوره ........ 16
د محمدزایانو د واکمنۍ دوره ........ 23
دوهم څپرکی ........ 32
د امیرشیرعلي خان د حکومت دوهمه دوره ........ 32
د امبالې کنفرانس او د هغه پایلې ........ 33
د سرحدي ستونزو د حل په اړه د امیرشیرعلي خان هڅې ........ 37
د سملې کنفرانس او د هغه پایلې ........ 39
د پېښور مذاکرات ........ 41
د امیرشیرعلي خان دربار ته د روسيې استازي راتګ ........ 45
دریم څپرکی ........ 51
د امیرشیرعلي خان د واکمنۍ په دوهمه دوره کې د افغانستان د نوي سیاسي سیستم د ایجاد لاملونه .. 51
اداره او سیاسي تشکیلات ........ 58

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عصري اردو تشکیل.......... 67
عصري ښوونه او رزونه.......... 73
د عصري مطبوعاتو رامنځ ته کول.......... 79
معماري، صنعت او سوداګري.......... 87
ځلورم څپرکی.......... 89
هغه لاملونه چې د نوي مدنیت هڅې یې زیانمنې کړې.......... 89
ددې دورې دوامداره نه پاتې کیدل.......... 90
له تزاري روسیې سره تمایل.......... 92
کورنۍ ستونزې.......... 94
مـونـدنـې.......... 97
مناقشه.......... 98
پایله.......... 102
وړاندیزونه.......... 105
ماخذونه.......... 106
لومړی ښلونه (ضمیمه).......... 110
دوهمه ښلونه (ضمیمه).......... 112
دریمه ښلونه (ضمیمه).......... 114

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

کیدای شي چې د تاریخ علم هغه خزانه وګڼل شي چې د بشري ټولنې مادي او معنوي ارزښتونه په کې ساتل کیږي او بیا یې راتلونکو ټولنو ته بیانوي. ټولنه نه یوازې دا چې ددې پوهې په ساتلو کې باید خپله دنده ترسره کړي؛ بلکې د پرمختګ لپاره یې هم خپلې هڅې جاري وساتي او دې پروسې ته دوام ورکړي او راتلونکو ټولنو ته یې د ارزښتمن میراث په توګه پریږدي. ددې لپاره چې دیوې ټولنې دا پانګه وساتل شي نو د تاریخ لوستلو ته اړتیا ده او دا اړتیا هغه وخت پوره کیدای شي چې د ټولنې ریښتینې تاریخ لیکونکي د تاریخ د منل شوو معیارونو او اصولو پربنسټ په پوره صداقت، ایمانداری، د وطني مینې او احساس له مخې تاریخي پېښې ثبت او ولیکي .

زموږ د هیواد افغانستان او ددې ملت د تاریخ په پراخه لمن کې داسې ډېرې مرحلې شته چې د مادي او معنوي ارزښتونو پراخې خزانې لري چې له برکته یې دې ټولنې پاینښت موندلی دی،دا ځکه چې د وخت هرې ټولنې ددې خزانې په ساتلو کې خپله ونډه اخیستې ده.

په دې لیکنه کې هڅه شوې ده چې د افغانستان معاصر تاریخ په ځانګړي ډول د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ دوره وپیژندل شي دا هغه دوره ده چې د نني افغانستان ډېری ټولنیز، سیاسي او اقتصادي بنسټونه په خورا لویو هڅو او تکالیفو ایښودل شوي دي. ددې دورې واکمن امیرشیرعلي خان دی؛ خو ویاړ او اعتبار یې یوازې نوموړي ته نه؛ بلکې هغه ټولو شخصیتونو ته رسیږي، چې له ده سره ددې کاروان ملګري وو. د ختیځ نابغه علامه سیدجمال الدین افغان او د هغه وخت وتلي افغان سیاست پوه سید نور محمد شاه هم له ده سره په دې سپیڅلې لاره کې لویه ونډه درلودله .

امیرشیرعلي خان د افغانستان له هغو نومیالیو پادشاهانو څخه شمېرل کیږي، چې د هیواد په آبادۍ او پرمختګ کې یې نه هیریدونکي هلې ځلې کړي دي. هغه وخت چې نوموړی لا تنکی ځوان و او له پلار سره یې په برتانوي هند کې د تبعید شپې او ورځې تیرولې، د هند د تمدني عناصرو، اقتصادي او نظامي پرمختګونو څخه سخت اغیزمن شو او ددې هیله ورسره پیدا شوه، چې ګران هیواد یې هم یوه ورځ داسې پړاو ته ورسیږي. کله چې نوموړی د لومړي ځل لپاره د افغانستان واکمن شو، نو ددې هیلې د پوره کېدو چانس ورسره پیدا نه شو او لکه د نورو واکمنانو په څېر د قدرت پر سر له ورونو سره په جګړو او اخو ډب لګیا شو او له څلورو کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکمنۍ وروسته له واکه ګوښه او پر ځای يې رقيب ورور محمدافضل خان واکمن شو او هغه تر يوې کلنې واکمنۍ وروسته مړ او پر ځای يې بل ورور محمداعظم خان واک ته ورسيد ، په دې دوره کې امير شيرعلي خان هم آرام ونه کړ او له پرلپسې سياسي او نظامي هڅو وروسته وتوانيده، چې د دوهم ځل لپاره واک ته ورسيږي، رقيبان ورونه او د کورنۍ مخالف کسان کمزوري او له منځه يو سي.

نوموړي په دوهمه دوره واکمنۍ کې څه ناڅه د آرام ساه واخيسته، بريتانوي هند يې واکمني په رسيمت وپيژندله او ددې فرصت يې پيدا کړ چې په هيواد کې بنسټيز اصلاحات پلي کړي. که څه هم سيدجمال الدين افغان دده په وخت کې د هيواد څخه په وتلو مجبور شو ، خو بيا هم امير د نوموړي اصلاحي وړانديزونه هير نه کړل او د هغه وخت د شته امکاناتو څخه په استفادې يې په هيواد کې اصلاحي پروګرامونه پېل کړل.

عصري ښوونه روزنه، عصري مطبوعات، په عصري پرنسيپونو ولاړه اداره، په وسلو مجهزه او روزل شوې اردو ، صنعت او عمراني چارې او نور مهم پلانونه يې د عمل ميدان ته راوستل. دا چې څرنګه امير شيرعلي خان دا پلانونه پلي کړل؟ له کومو امکاناتو يې کار واخيست؟ او په دې لاره کې له کومو ستونزو سره مخامخ شو؟ په دې څيړنه کې به وړاندې شي .

پورتنيو مطالبو ته په پام او ددې لپاره چې د امير شيرعلي خان دورې ته ورداخل شو؛ نو د موضوع اړوند عنوانونه مو يو پر بل پسې په مسلسل ډول راخيستي دي. په لومړي فصل کې مو د افغانستان معاصر تاريخ ته کتنه کړې او ددې دورې فرعي موضوعات مو راخيستي دي، په دوهم فصل کې مو د امير شيرعلي خان د حکومت دوهمه دوره او په دې دوره کې مهمې سياسي، پېښې، په دريم څپرکي کې مو د اميرشيرعلي خان په دوهمه دوره کې د نوي تمدن د ايجاد لاملونه او په څلورم څپرکي کې مو هغه لاملونه بيان کړي دي، چې د امير شيرعلي خان د نوي مدنيت هڅې يې زيانمنې کړې.

مګر بيا هم دا څيړنه ددې بسنه نه کوي، چې ددې دورې په اړوند بشپړ معلومات مينه والو ته وړاندې کړي، له همدې امله مې د موضوع په پای کې وړانديز کړی چې محقيقين او څيړونکي بايد ددې مهمې تاريخي دورې په باره کې خپلو علمي څيړنو ته ادامه ورکړي، ترڅو ټول تياره او پټ اړخونه يې راڅرګند او راتلونکو نسلونو ته د غوره معلوماتو په حيث په ميراث پاتې شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د مسئلې یا پرابلم وړاندې کول

ددې موضوع په اړه ډېر اثار موجود دي او د افغانستان تاریخ پوهانو د امیر شیرعلي خان د دورې سیاسي ستونزې، له ګاونډیانو سره د هغه اړیکې، داخلي اختلافات او د هغه اصلاحي پروګرامونو او داسې نورو خواو ته یې په خپلو څېړنو کې ځای ورکړی دی؛ خو باید وویل شي چې یوه کامله ټولګه او اثر په دې اړه نه دی تهیه شوی او په پراګنده ډول ځینو پوهانو او تاریخ لیکونکو د نورو موضوعاتو ترڅنګ ترې یادونه کړې ده، په ځانګړي ډول داسې نه دي شوي چې د امیر شیرعلي خان اصلاحي چارې او پروګرامونه د پخوانیو واکمنیو له لاسته راوړنو سره پرتله شي. همدې مسئلې ته په پام وپتیل شوه چې دا دوره او ددې دورې د معاصر مدنیت نښې په یوه جلا او بېل اثر کې راټولې شي.

په همدې ډول ومې غوښتل چې د ټولنیزو علومو پوهنځیو او په ځانګړي ډول د تاریخ د څانکې استادان او محصلان، چې ډېری وخت له تاریخ سره نیغ په نیغه اړیکه لري له دې لیکنې څخه د درسي ممد په توګه ګټه واخلي.

## د څېړنې موخې

دا چې هره څېړنه د ځانګړو او مشخصو موخو په اساس تر سره کیږي نو له همدې امله مې د لاندې موخو په بنسټ خپله لیکنه ترتیب او تدوین کړه .

### اصلي موخې

۱- د یوې ځانګړې ټولګې په توګه ددې دورې د ټولو تاریخي پېښو او حوادثو راټولونه.

۲- ددې مهمې موضوع د داسې اړخونو په ګوته کول چې نورې څېړنې ته اړتیا لري .

۳- د امیر شیرعلي خان د اصلاحي چارو او پروګرامونو په اړه د پوهې لازیاتیدل .

۴ - د امیر شیرعلي خان د وخت سیاسي ستونزې او په افغانستان کې د ګاونډیانو سیاسي موخو پېژندل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د هغو لاملونو موندل چې د امیر شیرعلي خان د نویو طرحو هڅې یې زیانمنې کړې.

فرعي موخې:

۱- دا چې دا موضوعات د ټولنیزو علومو د پوهنځی په بیلابیلو ټولګیو کې لوستل کیږي، له هغوي سره په دې برخه کې مرسته کول.

۲- په ټولیزه توګه د تاریخ د علم مینه والو ته یو معتبراو جامع اثر وړاندې کول.

۳- د هغو منابعو او سرچینو پیژندنه چې څیړونکو ته ددې دورې په اړه اړین معلومات ورکولای شي.

## د څیړنې پوښتنې

د څیړنې د اصولو په اساس څیړنه له پوښتنې پېل کیږي او کله چې سوال یا پوښتنه موجوده نه وي څیړنه رامنځ ته کیدای نه شي، په دې اساس دا لیکنه د یو لړ کلیدي او فرعي پوښتنو په اساس صورت نیسي .

کلیدي پوښتنې

۱- د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ پرمهال د افغانستان د نوي سیاسي سیستم د ایجاد لاملونه کوم دي؟

۴- هغه کوم لاملونه وو، چې د امیر شیرعلي خان د نویو طرحو هڅې یې زیانمنې کړي؟

فرعي پوښتنې

۲- هغه کومه انګیزه وه، چې امیر شیرعلي خان یې ریفورمونو او اصلاحاتو ته وهڅاوه؟

۳- د امیر شیرعلي خان نویو طرحو او هڅو د افغانستان په ټولنه کوم اغیز وکړ؟

۲- امیر شیرعلي خان د واکمنۍ په دوهمه دوره کې له کومو سیاسي ستونزو سره مخامخ و؟

۳- د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ په لومړۍ او دوهمه دوره کې له ګاونډیانو سره څه ډول اړیکې درلودلې ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د اثارو کتنه

د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ او د هغه د اصلاحي پروګرامونو او د هغه وخت سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي حالاتو په اړه په زیاتو لیکنو کې یادونه شوې ده لکه: افغانستان درمسیر تاریخ(میرغلام محمد غبار)، افغانستان در قرن نوزده (سید قاسم رښتیا)، د افغانستان پر معاصر تاریخ لنډه کتنه (محمد ابرهیم عطایي)، سراج التواریخ (فیض محمدکاتب هزاره)، د افغانستان لنډ تاریخ (عبدالحی حبیبي)، افغانستان در پنج قرن اخیر(میر محمد صدیق فرهنګ)، تاریخ مطبوعات افغانستان ( رسول رهین)، د افغانستان تاریخ او خپروني(محمد حلیم تنویر)، د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ سیاسي ستونزې (مستعلي نیازی)، ملی زاویه (حبیب الله رفیع)، تاریخ مختصر اطلاعات جمعي در افغانستان( محمد کاظم آهنګ)، په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پېل او پرمختیا( حبیب الله رفیع) او داسې نورې ډېرې معتبرې منابع شته چې د افغانستان د تاریخ ترڅنګ یې په معاصر تاریخ کې د امیر شیرعلي خان پر دورې هم معلومات راغونډ کړي. پورته یادې شوې او دې ته ورته نورې ټولې منابع د دوهم لاس منابع دي او باید یادونه وکړم چې ددې دورې په اړه د لومړي لاس منابع هم شته، د بېلګې په توګه لاندې کتابونه د امیرشیرعلي د دورې پرمهال لیکل شوي دي: حجت قویه در ابطال عقاید وهابیه، قواعد پلتن (پښتو او دري)، قواعد رساله، تحفة العلما، وعظ نامه، مجمع البحرین (طبي اثر)، قانون نامه عسکري، الفبا، فتاوای برهنه، شهاب ثاقب او نور ....، او دا چې دا شمیر کتابونه په همغه مهال چاپ شوي دي کیدای شي چې د وخت په تیریدو له منځه تللي وي او هم کیدای شي چې په ډیره اندازه سره چاپ شوی نه وي؛ نو لاس رسی هم ورته محدود دی. بیا هم د هغه مهال یو شمیر آثار تر موږ رارسیدلي دي، د بېلګې په توګه د (حیات افغاني ) په نوم کتاب چې محمدخان حیات لیکلی دی ، یوازې یې د امیرشیرعلي خان د دورې څخه وړاندې پاچاهانو د ژوند او د افغانستان د تاریخي پېښو او همدا ډول د پښتنې ټبرونو پر پیژندنه، شجرو او دودونو یې خپله موضوع راټوله کړې ده او د امیرشیرعلي خان د دورې پر سیاسي حالاتو او د هغه د اصلاحاتو په اړه معلومات نه لري . همدا ډول یو بل مهم کتاب چې د لومړي لاس منبع په توګه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي د( د امیر شیرعلي خان دربار ته د تزاري روسیې استازیتوب ) تر عنوان لاندې د هغه روسي ډاکټر ( جې ایل یاروسکي) د یاداښتونو ټولګه ده، چې په همدغه روسي هیئت کې یې د معالج ډاکټر په توګه ګډون درلود. دا ارزښتمن اثر د سویس د برن پوهنتون د جغرافیې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان پېژندنې استاد ډاکټر ای، ډي، پټري له روسي څخه الماني ژبې ته، عبدالغفور بريشنا درې ژبې ته او اوس دادخان غزنيوال پښتو ژبې ته هم راژباړلی دی.

ډاکټر ياروسکي په کابل کې د وليعهد عبدالله جان او په مزار شريف کې د اميرشيرعلي خان معالج ډاکټر پاتې شوی دی. دده په يادښتونو کې نه يوازې د هماغه مهال سياسي حالاتو په اړه معلومات موجود دي، بلکې د اميرشيرعلي خان په دوره کې د افغانستان په اقتصادي او کلتوري حالت په اړه هم په کې ډير څه موندلی شو.

## د څېړنې تګلاره يا ميتود

بې له شکه هر هغه څېړنه چې د څېړنو له ټولو ميتودونو څخه په کې ګټه واخيستل شي، يوه غوره او جامع څېړنه ده؛ خو د ځينو شرايطو په اساس هر څېړونکی نشي کولای چې په خپله څېړنه کې په بشپړه ډول د څېړنو له ټولو تګلارو او ميتودونو څخه کار واخلي. زما ليکنه هم دا محدوديت لري او ومې نشوای کولای چې په عين وخت کې له ټولو او يا له يو شمير ميتودونو څخه کار واخلم او د معلوماتو په راټولونه کې د تاريخ له پوهانو سره مرکې ولرم او يا هم پوښتنليکونه ووېشم. نو بايد ووايم چې زما په څېړنه کې په بشپړ ډول له کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخيستل شوې ده، هڅه مې کړې چې له نويو او معتبرو تاليفاتو څخه معلومات راټول کړم او په ليکنه کې د تاريخ د اصولو مطابق په کرونولوژيک او مسلسل ډول پېښې په لنډ ډول روښانه کړم.

په درنښت

پوهيالی سيف الله غروال

د تاريخ جغرافيې څانګې استاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د افغانستان معاصر تاریخ ته لنډه کتنه

د شپاړسمې میلادي پیړۍ په پیل کېدو سره د افغانستان په داخل او ګاونډیو هیوادونو کې نوي سیاسي بدلونونه رامنځ ته شول.په ۱۵۰۱م کې د سلطان حسین په مړینې سره د هرات تیموري دولت د زوال په لور روان شو، په سیمه کې ځواکمن محلي ځمکه وال او تجزیه غوښتونکي راپورته او خپل منځي جګړې یې پیل کړې. په ۱۵۰۰م په ماورالنهر کې شیباني، په ۱۵۰۲م په ایران کې صفوي او په ۱۵۲۵م په هند کې د بابري یا مغلي دولتونو په نامه نوي دولتونه رامنځ ته شول. دوی د افغانستان شمال، لویدیځ او ختیځ ته د تجاوز لاسونه را اوږده کړل او بالاخره افغانستان په درو برخو تجزیه شو. شیبانیان په شمالي ولایتونو، صفویان په لویدیځو ولایتونو او د هند بابریان په ختیځو ولایتونو مسلط شول او دغه حالت تقریباً دوه نیمې پیړۍ دوام وکړ له دې امله دا دوره د افغانســـتان په تاریخ کې د تجزیې، انحطاط او د زوال دورې په نوم هم یادیږي.(۲۹: ۲۸۱)

دغو استعمار ګرانو د افغانستان خاوره د خپلو رقابتونو ډګر وګرځاوه او د هیواد لوی ښارونه کله د یو او کله د بل تر واک لاندې راتلل.ددې یرغلونو په وړاندې د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د خپلواکۍ لپاره د هیواد د میړنیو اولس له لورې، پرلپسې غورځنګونه ترسره کیدل. د هیواد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمال کې د خپلواکۍ لپاره د بیګانو له لورې پېل شوې مبارزه د شیبانیانو واکمنۍ ته ختمه ګرځیدلې وه. د هیواد په ختیځو سیمو کې د خوشال خټک او روښان پیر پرلپسې اتلوالو هځو، مغولان ماتې ته نږدې کړي وو. (۲: ۲۴۴)

د خپل منځي اختلافاتو له امله د هیواد په ختیځ کې د قومونو د خپلواکۍ مبارزې له ناکامۍ سره مخامخ شوې، خو د هیواد په لویدیځ کې د میرویس نیکه په مدبرانه مشرتابه د ایراني صفویانو په وړاندې پاڅون وشو، میرویس نیکه د اتو کلونو په موده کې مبارز ملګري په ځان راغونډ کړل او د جرګو له لارې یې صفوي پاچا شاه حسین ته د کندهار د حاکم ګورګین د ظلمونو ګزارش ورکړ، د حجاز له علماوو نه یې د ظالم حاکم په وړاندې د پاڅون فتوی ترلاسه کړه او بیا یې په ۱۷۰۹م کال په یوه بریالي پاڅون کې ګورګین او دده ملګري ووژل او په کندهار کې یې خپل ملي ریاست اعلان کړ. دا په افغانستان کې لومړنی ملي حکومت بلل کیږي، چې د جرګو او د ولس د مشورو له لارې اداره کیده او د فرانسې له لوی انقلاب څخه، کوم چې په نړۍ کې د ملي دولتونو بنسټ ایښودونکی بلل کیږي، څه باندې اتیا کاله وړاندې رامنځ ته شو. خو د دښمن لاسونه د کورنۍ منځ ته راوغځیدل او میرویس نیکه مسموم کړای شو او د مړینې پر مهال یې خپلو اخلافو ته وصیت وکړ چې اصفهان ونیسي او په دې توګه خپل ملي حکومت وساتي. د بابا له وصیت سره سم دا لویه دنده د ده زوی محمود تر سره کړه او صفوی واکمن شاه حسین صفوي اړ شو چې خپل تاج د محمود هوتک پر سر کیږدي او په دې سره په ۱۷۲۲م کال کې د صفویانو لړۍ پای ته ورسیده. د شاه محمود تر مړینې وروسته شاه اشرف هوتک د ایران د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو لپاره له ترکانو او روسانو سره جګړې وکړې او د ایران خاوره یې وساتله؛ خو د هوتکیانو خپل منځي مخالفتونو، ورو ورو د دوی واکمني کمزورې کړه، تر دې چې نادر افشار وکولای شول په ایران کې شاه اشرف مات او په کندهار کې د هوتکو وروستنی پاچا شاه حسین هوتک په بندي کولو سره دا واکمني رانسکوره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




لس کاله یو ځل بیا افغانستان د جګړو میدان وګرځیده او نادر افشار د افغانستان له لارې هند هم فتح کړ او هندي ګورګانیان (مغولان) یې د ځان تابع کړل.(۱۹: ۴۰- ۴۱)

له فتوحاتو وروسته نادر بېرته ایران ته ستون شو، په ظلم او استبداد یې واکمني پېل کړه له دې امله خلک ورڅخه ناراضه شول ، تر دې چې په ۱۷۴۷م کال کې د محمدخان قاجار، موسی بیګ افشار، خواجه بیګ افشار او یو شمېر نورو درباریانو له خوا ووژل شو.(۴۰: ۸۹)




(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سدوزايانو د واکمنۍ دوره

که له يوې خوا نادر افغاني خپلواک دولتونه وران کړل خو له بلې خوا يې په خپل پوځ او دربار کې د احمدخان ابدالي غوندې ميړه پالنه وکړه، چې د ده تر مړينې وروسته يې د يوې لويې افغاني امپراتورۍ خښته کېښوده.

د نادر افشار تر وژلو وروسته احمدخان ابدالي او نورمحمدخان ميرافغان، د افغان او ازبکو سرتيرو په مرسته د نادر حرم د ياغي لښکرو له چور او چپاو څخه وژغوره، چې ددې خدمت په بدل کې د نادر د حرم له خوا ورته د کوه نور مشهور الماس ډالۍ شو. ورپسې ټولو افغاني سرتيرو هرات ته مخه کړه او له هغه ځايه يې ځانونه کندهار ته ورسول، افغاني مشرانو ژر تر ژره د نادرآباد نوې کلا ته نږدې د شيرسرخ په هديره کې ملي جرګه جوړه او تر نهو ورځو پرلپسې تودو بحثونو وروسته د غونډې يو ګډونوال پير صابر شاه کابلي، پاچاهۍ ته د احمدخان ابدالي د ټاکلو وړانديز وکړ او ټولو ګډونوالو د هغه دا وړانديز په ښه شان سره ومانه او نوموړي پير په خپله د احمدخان په پګړۍ کې د غنمو وږی کېښوده او د احمدشاه ابدالي تر عنوان لاندې له جرګې بريالی راووت.




احمدشاه ابدالي د هرات د حکمران زمان خان زوی او په ختېه ابدالی سدوزی و چې په ۱۷۲۲م کال د زرغونې نومي ميرمنې له نسه چې په ختېه الکوزۍ وه په هرات کې وزېږېد.(۱: ۲۸۰- ۲۸۱) په ډاډ سره ويلي شو چې دده قومي خانۍ بنسټونه او په ځانګړي ډول د نوموړي د کورنۍ پخواني اعتبارات ددې سبب شول چې ده ته په جرګه کې بريالیتوب ورپه برخه کړي.(۲۸: ۱۴)

وروسته له دې چې احمد شاه بابا د پاچا په توګه ومنل شو، سم د لاسه يې په اړينو چارو لاس پورې کړ، د ده لومړی کار د پوځ جوړول وو، چې د لګښت لپاره يې مالي پانګه هم تر لاسه کړه او د مالياتو هغه لويه خزانه چې له هند او پنجاب څخه د نادرافشار دربار ته روانه وه په خپل واک کې واخيسته او دا لويه ستونزه په خپل ځای کې حل شوه. نورو افغاني مشرانو هم په دې اړه له هغه سره مرستې پېل کړې او د پوځي ډلو د جوړولو لپاه يې خورا ډېرې ستونزې وګاللې، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې امله د هندي مؤرخينو له وينا سره سم ، احمدشاه چې له «ستلجه» تيريده تر شاه يې ديرش زره پوځ روان و. (۳۰: ۹۷- ۹۸)

په همدې وخت کې يې له خپلي منظمې اردو څخه د افغانستان د خاورې د خپلولو او د خپلې امپراتورۍ د پراختيا لپاره سمه استفاده وکړه، شمال، لويديځ او ختيځ درې خواو ته يې لښکر کښې وکړې او پراخه امپراتوري يې تشکيله کړه. نوموړي هند ته سفر وکړ او د پنجاب، کشمير، سند ، ملتان، ايران، خراسان او بخارا ته يې د مختلفو موخو له پاره جګړه ايز يونونه وکړل او دا سيمې يې په خپلې امپراتورۍ پورې وتړلې. (۲۲: ۲۰)




احمدشاه بابا د خپل مرګ په مهال خپلو اولادونو ته يوه لويه او پراخه امپراتوري په ميراث پريښوده، چې په ختيځ کې له سرهند څخه نيولې په لويديځ کې له مشهد څخه تر سبزاواره پورې او د شمال له خوا د امو له سيند څخه نيولې په جنوب کې تر عرب سمندرګي پورې واقع وه. دا حدود د اتلسمې پيړۍ په اوومه لسيزه کې د افغانستان د امپراتورۍ حدود وو؛ خو دا ټول افغانسان نه و، بلکې احمدشاه بابا افغانستان له آباسيند څخه تر مشهده او له امو څخه تر عرب سمندرګي پورې باله، نور کشمير، پنجاب، سند او خراسان يې د افغانستان ملحقات بلل. (۲۸: ۳۷)

احمدشاه بابا د افغانانو او د خپلې غښتلې اردو په مرسته په ټول هيواد کې امنيت راوست؛ يوه مرکزې ځواکمنه اداره يې رامنځ ته کړه، په افغانستان کې يې د سياسي، اقتصادي او نظامي بنسټونو سربيره د ملي يووالي بنسټ هم رامنځ ته کړ او له ګاونډيو هيوادونو سره يې سياسي اړيکې ټينګې کړې. (۲۲: ۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمدشاه د ژوند په وروستیو کې ناروغ شو او خپله روغتیا یې د پرلپسې جنګي سفرونو او ستونزو له امله له لاسه ورکړه او د عبدالحی حبیبي په قول چې د خوراړه ( اکله ) دانې د هغه په پوزه او مخ راڅرګندې شوې، چې دا یو ډول سرطاني دانې بلل کیږي. (۱۰: ۲۹۴)


د ۱۷۷۲م کال په اوړي کې دده ناروغي ډېره خطرناک حالت ته ورسیده او له کندهار څخه نهه میله لرې د توبې غره ته چې هوا یې د کندهار په پرتله پاکه او ښه وه، ولاړ. احمدشاه بابا د ۱۱۸۶هـ کال د رجب په شلمه ( د ۱۷۷۳م کال دسمبر په دروېشتمه ) د جمعې په شپه همدلته له نړۍ سترګې پټې کړې . (۳۶: ۴۵۴-۴۵۶)

کله چې د احمدشاه بابا ناروغي سخته شوه او د دولتي چارو د تنظیم او رهبرۍ څخه عاجز شو، نو وزیران او امیران یې راټول او د هغوی په وړاندې یې خپل دوهم زوی تیمور د ځای ناستي په توګه غوره کړ.(۳۹: ۵۳۳-۲۳۴) کله چې احمدشاه بابا وفات شو؛ نو لوی وزیر شاه ولي خان له خپل نفوذ څخه په ګټه اخیستنې سره خپل زوم شهزاده سلیمان داحمدشاه بابا مشر زوی ځای ناستی او پاچا اعلان کړ. په دې کار سره د دربار مشران دوه ډلې شول، چې یوه برخه د وزیر ملګرې او بله برخه یې مخالف شول، په دې جریان کې عبدالله خان دیوان بیګي د تیمور په طرفدارۍ ودرید .شاه ولي خان خپل زامن د بیعت لپاره غلجایي قلات او بلوچستان ته ولیږل، خو سلیمان ډېر ژر په اوضاع وپوهیده پخپله یې ځان له میدان څخه وکیښ او تیمور شاه یې پاچا وباله. په دې ډول شاه ولي خان یوازې پاتې شو او عبدالله دیوان بیګي، دی او د هغه دوه زامن ونیول او لاس نیولي یې د تیمور شاه مخې ته وروستل او تیمور شاه هم د فراه په سیمه کې شاه ولي خان له خپلو دوو زامنو سره په اعدام محکوم کړ چې دې پېښې ډېرې بدې پایلې له ځانه پرېښودلې او ډېر لوی خانان په ځانګړې ډول هغوی چې د شاه ولي خان ملګري وو او احمدشاه بابا تر دې مهاله په ځان راټول کړې وو پر تیمور شاه ډېر سخت بدګومانه شول او په دې ویره کې شول چې کیدای شي دوی هم د شاه ولي خان له انجام ســره مخامخ شي؛ نو له همدې امله د تیمورشـــاه په وړاندې پټې دسیســـې او توطیې پیل شوې. ( ۲۸: ۳۸- ۳۹)

په کندهار کې میشتو لویو خانانو تر دې مهاله ځانونه په دولت کې شریک بلل او د کندهار پر چارو مسلط وو؛ خو د نوي پاچا او ددوی تر منځ ډېره بې باوري موجوده وه، نو ځکه تیمورشاه د پاچاهۍ په لومړي کال پلازمېنه له کندهار څخه کابل ته انتقال کړه، تر څو له قبیلوي قیوداتو څخه خپلواک وي او په کابل کې دا ډول وضع ډېره مناسبه وه.(۲۹: ۳۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې سربېره ځينې نور عوامل هم شته چې تيمورشاه يې دې ته اړ کړ چې د کندهار پر ځای کابل د هيواد د پلازمېنې په توګه غوره کړي. په لومړي سر کې نوموړي د خپل ذاتي امنيت لپاره دا کار وکړ؛ ځکه چې پر ټولو دراني خانانو يې باور له لاسه ورکړی و او ددې ويره ورسره وه چې د دوی د پلانونو او دسيسو ښکار نه شي ، دوهم دا چې نوموړي د کابل ختيځې خوا قومونو څخه هم ويره درلودله او غوښتل يې چې له کابل څخه پر دوی مستقيمه څارنه ولري او دريم عامل دا و چې نوموړی يو عياش سړی و او د کابل هوا دې ته زمينه مساعده کوله چې د کال په هر موسم کې په ځانګړي ډول په دوبي کې مستۍ او ميلې وکړي. (۲۸: ۳۹)



اعلیحضرت تیمورشاه غازی شهنشاه افغان (۱۱۸۷ هـ ق)
S. M. Timour Chah Empereur Afghan (1773)

داچې تيمورشاه په مطلق العنان ډول غوښتل واکمني وکړي او مرکزي دولت ځواکمن کړي، نو په دې لاره کې له يو شمېر جدي ستونزو سره مخامخ شو؛ خو په پای کې له ټولو بريالی راووت او خپله شل کلنه واکمني يې د داخلي او خارجي پاڅونونو په ټکولو او د پلاره ورپاتې امپراتورۍ څخه په دفاع او ساتلو تيره کړه.

تيمورشاه د واکمنۍ په لومړي کال، لويو ابدالي خانانو چې مشترکې ګټې يې درلودلې او د تيمورشاه قدرت ته په رسيدو سره يې دا ګټې له خطر سره مخامخ شوې وې سره يو ځای شول او په يوه خطرناکه نقشه يې لاس پورې کړ، غوښتل يې چې تيمورشاه له واکه لرې او پرځای يې يو لاسپوخی پاچا واک ته ورسوي. ددې کار لپاره يې د عبدالخالق سدوزي په نوم يو مشر چې د سند ماليات يې په اجاره درلودل او له دې لارې يې لوی ثروت تر لاسه کړی و غوره کړ، دوی د کندهار ښار ونيوه او عبدالخالق سدوزی يې پاچا اعلان کړ. له دوی سره د غلزيو خانان هم يو ځای شول او په ۱۷۷۴ کال يې پر کابل ۲۵ زره وسلوال ور مارش کړل. تيمور شاه دا مهال په بلخ کې د بلخ د والي قباد خان د پاڅون په ځپلو لګيا و، که څه هم دا پاڅون مات شو خو د کندهار د نوي پاڅون په وړاندې يې د کابل څخه د دفاع لپاره کافي سرتيري په واک کې نه درلودل. په داسې يو بيړني حالت کې بيا هم تيمور شاه شخصاً د لس زره شاهي عسکرو او يوې قوي توپخانې سره د کابل او غزني تر منځ د شش ګاو په سيمه کې د پاڅون کوونکو په وړاندې په مقابلې پيل وکړ. په دغه وخت کې پاينده خان بارکزی او دلاور خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالخالق له اردو څخه بیل شول او په دې سره عبدالخالق ماتې سره مخامخ شو.له خپلو یو شمېر نیول شوو ملګرو سره یو ځای اعدام کړل شو. ( ۲۹: ۳۷۴)

تیمور شاه به د ژمي موسم په پیښور کې تیراوه او کله به چې دربار پیښور ته انتقال شو، هلته به هم د کابل او کندهار په څیر حالت رامنځ ته کیده او د لویو نظامي کسانو او درباریانو له خوا به د دسیسو او طوطیو بازار په شور راتلو. د ۱۷۹۷کال د ژمي په موسم کې چې تیمورشاه د پیښور په بالاحصار کې اوسیده، د خلیل د قبیلې مشر فیض الله خان او یو بل روحاني پیر میامحمد په همکارۍ او د پاچا په اجازه یو لوی لښکر تشکیل کړ، چې له سکانو سره جهاد وکړي؛ خو یوه ورځ په دې پلمه چې لښکر د پاچا سلامۍ ته راغلی دی، بالاحصار ته په ننوتو سره یې پر عسکرو حمله وکړه، تیمور شاه د بالاحصار بام ته پورته شو او شاهي ګارډ ته یې د حملې امر وکړ او سخته جګړه ونښته، پاڅون کوونکي مات شول، فیض الله او میامحمد وتښتیدل؛ خو ونیول شول. فیض الله خان یې له یو شمېر ملګرو سره اعدام کړ او میامحمد یې د درباریانو په غوښتنه معاف کړ. ددغې ډلې یو بل محرک ارسلاخان مهمند چې د شخړې په ورځ یې د خیبر لاره بنده کړې وه، په ۱۷۹۱م کې ونیول شو او اعدام شو. ( ۲۸: ۴۱)

دا یوازې نه و بلکې د خراسان خلک درې ځله د نادر د لمسي شاهرخ میرزا په وړاندې راپورته شول او تیمورشاه درې ځله د هغه ملاتړ وکړ، دریم ځل احمدخان نورزي ددې ځای بلواګر ډېر سخت وټکول. سکانو پر ملتان حمله وکړه خو تیمورشاه په ۱۷۸۱م کال کې هغه ښار یو ځل بیا ونیوه. په ۱۷۸۶کال په سند کې هم میرفتح علي خان یاغي شو، خو تیمورشاه د لښکر د مشر مددخان په واسطه ددې ځای خلک وځپل شول او یو ځل بیا یې میر فتح علي خان ورته حکمران وټاکه، په ۱۷۸۸ کال کې د کشمیر والي آزاد خان سر پورته کړ، خو د تیمورشاه له خوا بېرته آرام کړل شو. د بخارا پاچاهان د سدوزیو د دولت مطیع او دوستان وو؛ ځکه نو احمدشاه بابا او تیمور شاه هم تل ددوی دوستۍ ته درناوی کاوه، خو په ۱۷۸۹کال کې شاه مراد معصوم منعیتي مرو ونیوله ،له دې کبله تیمورشاه له سل زریز پوځ سره د کندوز او آقچې له لارې ورغی او شاه مراد اړ شو چې سولې ته غاړه کېږدي او آمو یو ځل بیا د پولې په توګه ومنل شو. (۱۰: ۲۹۷)

تیمورشاه په ۱۷۹۳م کال کې چې په پیښور کې اوسیده ناروغ شو او کابل ته راغی او د شلو کلونو پاچاهۍ وروسته په همدې کال کې وفات شو. د یوه انګریز په قول چې کیدای شي د نوموړي مرګ به د زهرو له امله وي او ددې قول په اساس دا د دراني امپراتورۍ په تاریخ کې لومړنۍ سیاسي وژنه وه چې تر سره شوه او وروسته دا کار د افغانستان په نورو سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاصو هم عملي شو. د تيمورشاه جسد د کابل په چهار باغ کې دفن شو او د هغه د مقبرې ودانې د زمانشاه په وخت کې جوړه شوه. (۲۹: ۳۷۶-۳۷۸)

د تيمورشاه د ۲۰ کلنې پاچاهۍ په اوږدو کې د لويو خانانو موجوديت سربيره يوې ځواکمنې مرکزي ادارې د قبيلوي رسومو ځای ونيوه. تيمورشاه مذهبي آزادي رامنځ ته کړه او په حکومتې نظام کې يې پرته له دې چې ژبه، نژاد او مذهب په نظر کې ونيسي، د متوسطې طبقې اشخاص په دندو وګمارل. د تيمورشاه په وخت کې لاسي صنعت ته وده وکړه، د علومو د زده کړې لپاره مدرسې جوړې شوې او شعر ته هم وده ورکړل شوه، ده هم شعر ليکه او په دربار کې يې ډېر شمېر شاعران او اديبان موجود وو. www.fa.wikipedia.org/wiki/



اعلیحضرت شاه‌زمان (۱۲۰۷ه-ق)
S. M. Chah Zaman (1739)

تيمورشاه ډېرې ميرمنې درلودلې ځکه يې د اولادونو شمېر هم ډېر ښودل شوی دی او ځينې منابع ليکي چې اويا لونه او زامن يې درلودل، چې د هغوی څخه ۳۴ زامن او نورې يې لونې وې، خو موږ ته يې د ۲۳ زامنو نومونه په تاريخ کې پاتې دي. د مړينې وړاندې يې يو شمېر زامن د هيواد په مختلفو ولايتونو کې د حاکمانو په توګه وګمارل. دا چې تيمورشاه په خپل ژوند د خپلو زامنو له جملې کوم ځای ناستی ونه ټاکه؛ نو ځکه دده تر مړينې وروسته د ده د زامنو ترمنځ د واک د نيولو پرسر سيالۍ پيل شوې. د تيمورشاه جنازه لا خاورو ته نه وه سپارل شوې چې د هغه زامنو د لويو سردارانو په ملتيا د يو او بل په وړاندې دسيسې پيل کړې.د تيمورشاه د مړينې وروسته د هغه پنځم زوی زمان خان د زمان شاه په نوم پرتخت کېناست، زمان خان د کابل حکمران و او قدرت ته په رسيدلو کې يې قاضي فيض الله خان او پاينده خان ډېر لوی لاس درلود. زمان خان د فتنو د غلي کولو په منظور په کابل کې ميشت وروڼه په بالاحصار کې بنديان کړل. (۳۴: ۲)

تر ټولو مشر شهزاده همايون د کندهار د حکمران چې پاچاهي يې د خپل ځان حق ګاڼه راپورته او په عملي ډول يې د مخالفت بيرغ پورته کړ. زمانشاه ددې فتنې د غلي کولو لپاره د پاينده خان تر قوماندې لاندې لښکر وليږه او نوموړي د همايون د پوځ قوماندان مهرعلي خان مات او همايون بلوچستان ته فراري شو. (۱۷: ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې د هرات حاکم محمود راپورته شو او زمانشاه اړ شو چې دا ورور هم متابعت ته اړ او هرات په مرکزي اداري پورې وتړي، په همدې موخه يې د هرات د نيولو تکل وکړ؛ خو د دواړو ورونيو تر منځ تفاهم ترلاسه شو او هرات يې محمود ته پرېښود. ( ۳۴: ۳۰) همايون ورور يې د سند اميرانو په مرسته د بولان له خوا راغی او کندهار يې ونيوه. له دې امله زمانشاه د پنجاب له تصفيې تېر او په کندهار يې حمله وکړه، همايون يې ژوندی ونيوه او بيايې په دواړو سترګو ړوند کړ ((دا د افغانستان په معاصر تاريخ کې لومړنۍ سياسي ړندونه وه چې د زمانشاه په لاس تر سره شوه او دې کار د زمانشاه دښمنان نور هم ډېر کړل چې په وروستيو کې دی هم له ورته عمل سره مخامخ او سترګې يې ړندې کړل شوې)). ( ۱۰: ۲۹۲ )

په ۱۷۹۷م کال کې د هرات حاکم، محمود بيا سر راپورته کړ؛ خو له ماتې سره مخامخ او ايران ته فراري شو. زمانشاه د هرات چارې خپل زوی شهزاده قيصر ته وسپارلې. ( ۱۰: ۲۹۸) په همدې ډول د بارکزيو مشر سردار پاينده محمدخان د شازمان وزير چې تر دې مهاله له ډېر قوت څخه برخمن شوی و، خو د زمانشاه له خوا په دې تور چې له شاه محمود سره يو ځای شوی او سازش کړی له دندې ګوښه او پر ځای يې رحمت الله سدوزی وزير وټاکل شو، او وروسته دا ځواکمن سردار د يو شمېر نورو قومي مشرانو سره په دې تور اعدام شو، چې هغه غوښتل شاه زمان د قومي مشرانو په واسطه معزول او يا ووژني او پر ځای يې شاه شجاع واک ته ورسوي . د شاه زمان دغه عمل هغه ته لوی سرخوږی پيدا کړ او د پاينده خان ځواکمن مشر زوی فتح خان له شاه محمود سره يو ځای شو او دواړو د شاه زمان د حکومت د پرځولو لپاره په کار پيل وکړ. (۴۰: ۹۳)



شاه محمود دُراني
۱۸۰۹تر۱۸۱۸



شاه شجاع
۱۸۳۹تر۱۸۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وخت په تیریدو حالات د زمانشاه په واک کې پاتې نه شول او د واکمنۍ په هره خوا کې بغاوتونه پیل شول، نوموړي کورنیو او بهرنیو دواړو جبهو کې ښه په میړانه مقابله وکړه، مګر زمانشاه ونه شوای کولای چې د هند له خوا د انګریز د دسیسو په بشپړ ډول مخه ونیسي. ایران او انګریز له یوې خوا د افغانستان په داخلي چارو کې لاس وهنې پیل کړې او له بلې خوا یې د افغانستان پر خلاف په خپلو کې سره تړون لاسلیک کړ او په هغه کې یوه ماده داسې وه، چې که چیرې افغانستان په هند حمله کوي نو ایران به په افغانستان حمله کوی. همدا ډول انګریزانو د وروڼو د رقابت توندولو ته لاس وغځاوه او په ایران کې یې د زمانشاه فرار شوی ورور شاه محمود او د پاینده خان زوی فتح خان وهڅول چې له زمانشاه سره وجنګیږي، هماغه و چې دوی د ایرانیانو په مالي او نظامي مرسته فراه، سیستان، تر کندهاره ونیول، زمانشاه غزني ته مقابلې لپاره ورغی، په جګړه کې مات او ورور یې شاه محمود د خپل سکني ورور همایون په بدل کې ورته سترګې ړندې کړې او انګریزانو هغه لوی رقیب چې تل یې ورځخه ویره درلوده د خپل بل ورور په واسطه له سیاسي صحنې لرې کړ. محمود د کابل په تخت کېناست او فتح خان یې وزیر شو. هلته د زمانشاه بل ورور، شجاع له پېښور راپورته او د یو لړ جګړو په پایله کې یې شاه محمود له واکه ګوښه او په خپله د شاه شجاع په نوم پاچاه شو.کورنیو جګړو همداسې دوام پیدا کړ تر هغه چې یو ځل بیا شاه محمود وکولای شول چې شاه شجاع له واکه لرې او د کابل په تخت کیني. کله چې د شاه محمود زوی شهزاده کامران په لاس د وزیر فتح خان د سترګو د ړندیدو پېښه رامنځ ته شوه، وروڼه یې راوپاریدل او یو ځل بیا د جګړو میدان ګرم شو او په پایله کې واک له سدوزیانو څخه محمدزیو ته ولیږدید. (۱۹: ۴۲- ۴۳)

## د محمدزایانو د واکمنۍ دوره

څه وخت چې د وزیر فتح خان وروڼه وتوانیدل، چې په ۱۸۱۸م کال کې د شاه محمود حکومت له منځه یو سي، د سیاسي ستونزو او خپل منځي اختلافاتو له امله یې ونشو کولای چې یوتن پاچا او واحد مرکزي دولت تاسیس کړي، د دوی د اختلافاتو په پایله کې په یوه بالاحصار کې دوو پاچاهانو (شهزاده ایوب او سلطان علي شاه) او دوو وزیرانو (سردار محمد اعظم خان او سردار دوست محمدخان) حکومت کولو او هر وزیر هڅه کوله چې ددې پاچاهانو تر سیوري لاندې خپل قدرت ټینګ کړي. ورځ تر بلې د هیواد سیاسي بحران شدید کیده او هر ورور هڅه کوله چې پلازمېنه کابل تر، خپل کنترول لاندې ونیسي. په اخر کې وروڼه په دې سلا شول چې د زور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستور له مخې، هیواد په خپلو کې سره ووېشي په دې وېش کې کندهار پردل خان ، کابل سلطان محمدخان ، په غزني او کوهستان باندې د دوست محمدخان واکمني ومنل شوه.





په دې وېش کې غوره برخه (کابل) سلطان محمدخان ته ورسیده، په دې وجه دوست محمد خان دا وېش د خپل ځان په حق کې بې انصافي وبلله او ددې فیصلې د ماتولو هڅې یې پېل کړې. لږه موده وروسته دوست محمد خان په کابل حمله وکړه او سلطان محمدخان یې پېښور ته وشاړه. د کابل په فتح کې ورسره دده ماما د قزلباشو مشر سردار محمدخان بیات ډېره مرسته وکړه. ورپسې یې جلال آباد هم ونیوه او خپل حاکمیت ته یې پراختیا ورکړه. که څه هم نوموړی تر نورو ورونو کشر و، خو په سیاست، دوراندیشۍ، زړورتیا او مستقل مزاج کې تر ټولو زیات و او همدغه د نوموړي د بریالیتوب ستر لاملونه وو.

په ۱۸۳۴م کال کې د کابل تر لاسه کولو سره دوست محمدخان یوازې د کابل د حاکم حیثیت درلود، ځکه د هیواد ډېره برخه لا هم دده د مخالفینو په لاس کې وه. خو کله چې نوموړي په کابل کې ځان پیاوړی کړ د امارت لپاره یې زمینه برابره کړه. په ۱۸۳۵م کال یې د تاج ایښودلو مراسم په ساده شکل تر سره شول او د امیر المومنین لقب یې غوره کړ. د امارت په لومړي کال یې له سکانو سره د جګړې تیاری ونیوه. خلکو ورسره د پیسو او عسکرو مرسته وکړه. نوموړي له یوې خوا د جګړې لپاره تیاری نیوه او له بلې خوا یې د ستونزو د سوله ایز حل لپاره په هند کې د انګریز استازو کپتان ویډ او لارډ بنټک سره تماس ونیوه، خو انګریزانو د افغان او سک دولتونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورنیو چارو کې د نه مداخلې په بهانه د مرستې څخه ډډه وکړه او د انګریزانو باصلاحیته هیئت په ۱۸۳۸م کال کې کابل ته راورسیده چې الکساندر برنس یې مشري کوله. امیر د انګریز د استازي په راتګ خوشال شو او د پېښور په راګرځولو کې یې ورڅخه د مرستې غوښتنه وکړه ، مګر مثبت ځواب یې ترلاسه نه کړ.




ورپسي په نابېره توګه د ایران له لارې روسي سفیر ویتکوویچ، لومړی کندهار او بیا کابل ته راورسید او د روس د تزار له لورې یې د دوستي او د سوداګریزو اړیکو د جوړولو مکتوب راوړی و. د روسي سفیر راتګ انګریزان ډېر وارخطا کړل او پریکړه یې وکړه چې د محمدزیو سره خپلې اړیکې قطع او د سدوزیو واکمني بېرته را ژوندۍ کړي. د همدې موخې لپاره یې په ۱۸۳۸م کال کې په هند کې فراري شاه شجاع سره تړون لاسلیک کړ. ددې تړون مطابق باید انګریزان له شاه شجاع سره د قدرت په نیولو کې مرسته وکړي، خو له دې کار څخه د انګریزانو ستره موخه داوه چې تزازي روسیې په وړاندې د هند د ساتلو لپاره دا مورچل په لاس کې ولري.

شاه شجاع په ۱۸۳۹م کال د فبروري د میاشتې په دوه وېشتمه د بولان د درې له لارې کندهار خواته روان شو، په داسې حال چې د خپل شپږ زریز لښکر برسیره (۱۹۳۵۶) تنه انګریزي پوځ یې ملتیا کوله. په همدغه کال د مې میاشتې په څلورمه کندهار ته ورسید، ددې ځای سرداران وتښتیدل او د مې د میاشتې په اتمه شاه شـــــجاع په کندهـــار کې د دویم ځل لپاره د پاچاهۍ په تخت کېناست. (۴۲ ۲۴ - ۲۷)

په کندهار کې هم د مکناټن او شاه شجاع ترمنځ بل نوی تړون لاسلیک شو، چې د هغه په اساس د انګریزانو عسکر د یو تن سیاسي استازي سره د تل لپاره په افغانستان کې ومنل شو او هم یې ټول مصارف شاه شجاع په غاړه واخیستل . برتانوي عسکر د شاه شجاع په ملتیا د غزني له لارې او همدارنګه شهزاده تیمور او کپتان ویډ د خیبر له لارې په کابل حمله وکړه او د ۱۹۳۹م کال د اګست په ۹ نېټه شاه شجاع د کابل په تخت کېناست او امیر دوست محمدخان له جګړې پرته میدان پرېښود او بخارا ته یې ځان ورساوه. ظاهراً شاه شجاع د افغانستان د پاچاهۍ په تخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېناست؛ خو واک او اختیار ټول د مکناټن او برنس په لاس کې و. مګر د تل په څېر افغان میړني ملت د پردیو لښکر په خپل وطن کې ونه شو زغملای، د غزا اعلان یې وکړ او په هره خوا یې پر انګریز یرغلګرو لښکرو بریدونه پیل کړل. یو کال وروسته امیر دوست محمد خان هم له امو راتیر او په شمال کې یې د انګریزانو په وړاندې په مبارزې پیل وکړ، د شمال خلک ورسره یو ځای شول او دده مبارزې د بریالیتوبونو او ناکامیو سره مل وې، په ایبک کې یې له انګریزانو ماتې وخوړه، له هغه ځایه تاشقرغان ته ولاړ؛ خو په ۱۸۴۰م کال په نوامبر کې یې په ناڅاپي ډول مکناټن ته ځان تسلیم او بیا له ټولې کورنۍ سره د هند کلکتې ته تبعید شو. مګر ملي مبارزینو خپلو فعالیتونو ته زور ورکړ، ځانونه یې نور هم منسجم کړل، میر مسجدي خان او سلطان محمد نجرابي په شمال کې، عبدالله خان اڅکزي او امین الله خان لوګري د کابل په شاوخوا کې د انګریزانو په وړاندې جبهې منظمې کړې او په یووالي سره یې پرشاه شجاع او انګریزانو یرغلونه پیل کړل. سردار محمد اکبر خان د امیر دوست محمدخان زوی د غازیانو مشري په لاس کې واخیسته او په کابل کې یې پر انګریزانو د واک ساحه راتنګه کړه. په دغه اړو دوړ کې په ۱۸۴۱م کال د سپتمبر په میاشت کې مکناټن د سردار محمداکبرخان په لاس ووژل شو، ورپسې د همدغه کال د نومبر په دوهمه نېټه الکساندر برنس هم ووژل شو او له دوی وروسته شاه شجاع هم له ورته برخلیک سره مخامخ شو. انګریزان د ۱۸۴۲م کال د اپریل په ۳ له کابل څخه ووتل او د کابل او جلال آباد د لارې په اږدو کې د غازیانو له پرلپسې بریدونو سره مخامخ شول، تر څو چې له ټول پوځ څخه یې یوازې ډاکټر برایډن په زخمې حالت کې جلال آباد ته ورسید. (۱۰: ۳۰۸-۳۰۹)

په دې جګړه کې انګریزانو ته لوی مالي او ځاني تاوانونو ورسیدل، د بولان او خیبر له لارې چې کوم انګریز پوځ راغلی و او بیا چې وروسته پسې راغلل نو شمېر یې ۵۱زره کسانو ته رسیده او دغه پوځ (۱۲۰۰۰) کارکوونکي او (۳۰۰۰۰)باروړنکي حیوانات درلودل. په متفرقو جګړو او هغه چې د کابل او جلال آباد په لاره کې ووژل شول شمېر یې ۳۰ زرو کسانو ته رسیده، دیرش کروړه هندي روپۍ یې تاوان ولیده او تر ټولو مهمه یې داده چې په نړیواله کچه یې حیثت ته درنه ضربه ورسیده.

د لارډ اکلنډ جوړه کړې نظامي پروژه او سیاست له ناکامۍ سره مخامخ شو؛ له دې امله نوموړی د لندن له لورې برطرف او پر ځای یې لارډ الن برو وټاکل شو. هغه د دوست محمد خان د بیا ځلې واک ته رسولو او په کابل کې کلابند انګریزانو او د هغوی د کورنیو د راخلاصولو لپاره زمینه مساعده کړه. (۲۸: ۶۲- ۶۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وخت چې امیر دوست محمد خان دوهم ځل لپار واک ته ورسید، د افغانستان سیاسي، اجتماعي او اقتصادي وضع د انګریزانو د یرغل او د غازیانو د مقاومت په وجه د پخوا څخه ډېره خرابه شوې وه. د هغه دا ځل دوره د هیواد د سیاسي یووالي په موخه په هلو ځلو او جګړو تیره شوه، کله یې چې د هیواد سیاسي یووالی تامین کړ او هرات یې په ۱۸۶۳م کال کې ترلاسه کړ. د هرات د نیولو څخه ۱۴ ورځې وروسته په همدې هرات ښار کې د (۷۲) کالو په عمر د ۱۸۶۳م کال د جون په نهمه وفات شو. (۴۲: ۲۷-۲۸)

که څه هم امیردوست محمدخان د تیمور شاه په څېر ډېر زامن درلودل؛ خو د هغه برخلاف یې په خپل ژوند کې خپل ځای ناستی وټاکه، لومړی یې مشر زوی سردار غلام حیدر خان وټاکه او کله چې هغه وفات شو بیا یې سردار شیرعلي خان خپل ځای ناستی اعلان کړ. کله چې د هرات فتح اخري مرحلو ته رسیدلې وه، بیا یې هم د قومي او نظامي مشرانو په وړاندې د دوهم ځل لپاره شیرعلي خان خپل ځای ناستی اعلان کړ. (۴۲: ۳۱) امیر د ځنکدن په وخت کې د افغانستان مشرانو او په تیره بیا د خپلو زامنو ترمنځ د اتفاق وصیت کړی و، خو داسې ښکاریده چې د هغه وصیتونه هیچا هم نه وو اوریدلي او د هغه د جنازې د مراسمو وروسته د هغه د زامنو تر منځ چې ډېری یې د جګړو په ډګرونو کې ازمویل شوي میړونه وو، د نقاق اور بل شو. له یوې خوا د امیر دوست محمدخان په مړینې سره د سردار پاینده خان د زامنو ترمنځ خپل منځي جګړې پای ته ورسیدې؛ خو اوس دده د زامنو ترمنځ د جګړو یوه بله لړۍ پیل شوه، چې له هر اړخه یې هیواد او افغان ملت ته درانه زیانونه ورسول.دا جګړې په ۱۸۸۱م کال کې د امیرعبدالرحمن خان په واک ته رسیدو سره پای ته ورسیدې.

د امیرشیرعلي خان امارت د هغه د وروڼو له خوا ونه منل شو، سردار محمد امین خان د کندهار حاکم ځان کندهار ته ورساوه او د مرکزي حکومت له متابعت څخه یې ښکاره سرغړونه پیل کړه، همدا ډول محمد افضل خان چې په ټولو وروڼو کې مشر و؛ نو واکمني او پاچاهي یې هم د خپل ځان حق ګڼله، چې په دې مسئله کې ورسره محمد اعظم خان هم د هغه پلوي کوله. په هر صورت دا ډول مخالفتونه پیل شول او امیرشیرعلي خان خپل ځوان زوی محمدیعقوب خان په هرات کې د حاکم په توګه پرېښود او په خپله له بل ځوان زوی محمدعلي خان سره کابل ته ولاړ. او په کابل کې یې د چارو په سمون پیل وکړ. (۸: ۳۶۱)

کابل ته په رسیدو سره یې برتانوي هند ته هم د خپل امارت خبر ورکړ، تر څو د هغه امارت په رسمیت وپیژني. خو انګریزانو تر شپږو میاشتو پورې هغه ته ځواب ورنه کړ. د هغه لومړی کار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امنیت راوستل او مرکزي اداري پیاوړي کول وو، په همدې موخه یې زرمت خواته لښکر ولیږه ،تر څو وکولای شي هلته خپل مخالف ورور محمداعظم خان، چې د زرمت حاکم و متابعت کولو ته اړ کړي، خو محمداعظم خان له جګړې پرته میدان پرېښود او برتانوي هند ته یې پنا یووړه او په راولپنډۍ کې انګریزانو ځای ورکړ او هم یې ورته د ورځې سل کلداري معاش وټاکه. اوس نو انګریز ته بیا یوه ښه وسیله په لاس ورغله تر څو د همدې وسیلې په واسطه امیرشیرعلي خان تهدید کړي. محمد اعظم خان خپل ملګري هم وروغوښتل او هلته د امیر په وړاندې د فتنو بازار تود شو. په ۱۸۶۴م کال کې امیرشیرعلي خان ترکستان ( بلخ ) ته متوجه شو؛ ځکه د هغه ځای حاکم محمدافضل خان چې ځان یې د امارت اصلي حقدار ګڼله، د مخالفت اعلان یې کړی و او هم یې مرکزي دولت ته مالیه نه رالیږله. د امیرشیرعلي خان او محمدافضل تر منځ جګړه وشوه، چې محـمدافضل په کې ماته وخوړه، تسلیم شو او بیا د امیرشیرعلي خان له خوا بندي شو او زوی یې سردار عبدالرحمن بخارا ته وتښتیدو. ( ۲۸: ۹۳)


په ۱۸۶۵م کال کې د کندهار د تصفیې په موخه روان شو، ځکه د هغه ځای حاکم سردار محمد امین خان چې د امیرشیرعلي خان سکنی ورور هم و، عقیده درلوده، چې د پلار تر مړینې وروسته هر یو ورور په خپله سیمه کې پاچا شمېرل کیږي؛ نو په دې ډول یې له مرکزي اداري څخه متابعت نه کاوه. د خپل پوځ مشر یې ځوان زوی محمدعلي خان وټاکه او جګړه د قلات په سیمه کې پېل شوه، چې په پای کې د امیر ځوان زوی او د پوځ مشر محمدعلي خان او مخالف ورور محمد امین خان دواړه ووژل شول . ددې پېښې له امله امیر دومره غمجن شو، چې ورځني کارونه یې پرېښودل او داسې کارونه به یې کول چې خلکو پرې د لیوني ګومان کاوه او کله به یې چې ولیدل، د نظامي افسرانو په منځ کې یې زوی نه شته؛ نو په سپکو او سپورو به یې پېل وکړ. د امیر دغه شان وضعیت د افسرانو د خفګان لامل شو، ځینو پوځ پرېښود او وتښتیدل، ځینې د فرصت په انتظار کې شول او ځینو هم په هند کې میشت محمداعظم خان او په بخارا کې میشت عبدالرحمن خان ته لیکونه ورولیږل او هغوی یې د کابل نیولو ته وهڅول. په دې ډول عبدالرحمن خان له بخارا څخه بلخ ته راغی او ددې ځای صاحب منصبان ورسره یو ځای شول او د بلخ حاکم سردار فتح محمد خان څخه یې بلخ ونیوه. محمداعظم خان هم د چترال له لارې بدخشان ته راغی او په شمال کې له خپل وراره عبدالرحمن سره یو ځای شو او یوه میاشت وروسته یې کابل هم ونیوه.

امیرشیرعلي خان په غزني کې د ډېر سخت مقاومت وروسته له ماتې سر مخامخ شو او محمدافضل خان چې د امیرشیرعلي خان په زندان کې پروت و له زندان څخه په تېښته بریالی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان يې کابل ته ورساوه او هلته د محمداعظم خان او عبدالرحمن خان له خوا ورته د کابل امارت تسليم شو او د امير محمدافضل خان په نوم واک ته ورسيد. (۸: ۳۱۶- ۳۱۷)

د اميرشيرعلي خان د حکومت لومړی دوره په همدغه کورني او خپل منځي اړو دوړ پای ته ورسيده او نومورې ونه شوای کولای، چې په دغه دوره کې کوم ځانګړي پروګرامونه پلي کړي. دده حکومت چې د هغه وخت يو قانوني حکومت ورته ويلای شو د انګريزانو له خوا په رسميت ونه پيژندل شو او انګريزانو په دې بهانه چې له نومورې سره ورونه مخالف دي او افغانستان کې يوه واحده مرکزي اداره شتون نه لري نو د شوو تړونونو په اساس يې هغه مرستې پر هغه بندې کړې، کومې چې دده پلار اميردوست محمدخان ته يې ورکولې؛ خو په اصل کې خبره بل ځای وه، هغه دا چې اميرشيرعلي خان د امير دوست محمدخان په زامنو کې هغه شخص و، چې له انګريزانو يې ډېر بد راتلل او هغوی يې نه خوښيدل او په دې خبره انګريزان هم واقف و؛ نو ځکه انګريزانو نوې او زړې نقشې بيا راواخيستې او د اميرشيرعلي خان په ناکامولو کې يې خپله ونډه واخيسته.


اعلیحضرت امیر محمد افضل خان ۱۲۸۲ هـ ق
S. M. Amir Mohammad Afzal Khan (1865)

څه وخت چې امير محمدافضل خان امارت ته ورسيد نو انګريزانو په بيړه د هغه حکومت په رسيمت وپيژانده او يو استازی يې هم ورته راوليږه، حال دا چې د اميرشيرعلي خان قانوني حکومت يې په رسميت ونه پيژانده. په دې مسئله کې يوه خبره ډېره څرګنده ده، هغه دا چې انګريزانو په لوی لاس غوښتل چې په افغانستان کې داخلي جګړه زور واخلي او دوی خپلو موخو ته ځانونه ورسوي. اميرشيرعلي خان چې دا مهال په کندهار کې و، هيواد يې په خطر کې وليد او يو ځل بيا يې د جګړې لپاره تياري ونيوله تر څو دې حالت ته د پای ټکی کيږدي، خو د کلات په سيمه کې د عبدالرحمن خان او محمداعظم خان له لښکرو سره په جګړه کې له ماتې سره مخاخ شو او له هغه ځايه هرات ته ولاړ او کندهار د عبدالرحمن خان او محمداعظم خان لاس ته ورغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرشیرعلي خان له هرات څخه بلخ خواته ولاړ او هلته يې خپل پوځونه منظم او د کابل د نيولو په موخه روان شو؛ خو د چاريکارو په نوم سيمه کې يې يو ځل بيا له عبدالرحمن څخه ماتې وخوړه او بېرته هرات ته ستون شو. (۱۳ : ۲۴۷- ۲۴۸)

په همدغه وخت کې چې د ۱۸۶۷م کال د اکتوبر ۱۸ نيټې سره سمون خوري اميرمحمدافضل خان د وريښنې ناروغۍ له امله د څه کم يوه کال واکمنۍ وروسته وفات او د کابل د شهداى صالحين د زيارت ترڅنګ دفن شو او ځاى يې ورور محمداعظم خان ونيوه . د امير محمد افضل خان د امارت دوره ډېره لنډه وه او هيڅ داسې مهم کار چې د يادولو وړ وي د هغه په وخت کې تر سره نه شو.


امير عبدالرحمان خان

وروسته له دې چې محمداعظم خان واک ته ورسيد له عبدالرحمن خان څخه يې په دې ويره راغله، چې کيداى شي له يوې لارې به واک تر لاسه کړي . عبدالرحمن خان هغه ځوک و، چې هم يې پلار اميرافضل خان او هم يې همدغه کاکا محمداعظم خان واک ته رسولى و؛ خو بيا هم نوي امير محمداعظم خان ترينه ويره احساسوله او هڅه يې وکړه چې هغه له مرکز څخه لرې کړي او په همدې پلمه يې هغه ته امر وکړ چې د شمال د چارو د سمون لپاره شمال ته ولاړ شي. که څه هم عبدالرحمن نه غوښتل چې کابل پريږدي؛ ځکه چې هر وخت شونې وه چې اميرشيرعلي خان په کابل حمله ترسره کړي، خو د امير محمد اعظم خان په ډېر ټينګار بلخ ته ولاړ او هلته د شمال د چارو په سمون مصروف شو. څه وخت چې اميرشيرعلي خان د عبدالرحمن خان له مصروفيتونو خبر شو؛ نو د خپل زوى يعقوب خان په ملاتړ يې په کندهار حمله وکړه او دا چې د کندهار د ښار اوسيدونکي د امير محمداعظم خان د زامنو له ظلمونو پوزې ته راغلي وو، ښار يې اميرشيرعلي خان ته تسليم او د امير محمد اعظم خان زامن وتښتيدل.

اميرشيرعلي خان په کندهار کې ځان منظم او د جګړې لپاره تيار او مخ په کابل يې حمله وکړه.امير محمداعظم خان يو ځل بيا له عبدالرحمن څخه مرسته وغوښته او نوموړى يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت کې حاضر او په ګډه یې د غزني په شش ګاو نومې ځای کې د امیرشیرعلي خان مخه ونېوه؛ خو د یوې سختې جګړې په ترځ کې دواړه له ماتې سره مخامخ شول او امیرشیرعلي خان د دوو کالو ستونزو ګاللو وروسته په ۱۸۶۸م کال د سپتمبر په میاشت کې کابل تر لاسه او د دوهم ځل لپاره واک ته ورسید.

عبدالرحمن خان او امیر محمداعظم خان دواړه ایران ته ولاړل ؛خو عبدالرحمن خان د تیر په څېر یو ځل بیا د جلاوطنۍ ژوند په بخارا کې غوره وګانه او بخارا ته ولاړ؛ خو امیر محمد اعظم خان په ایران کې پاتې شو، تر څو تهران ته په لاره د ورپېښې ناروغۍ له امله وفات او جنازه یې د بسطام په ښار کې خاورو ته وسپارل شوه.

د امیر محمداعظم خان د حکومت دوره هم ډېره لنډه وه، له دې امله یې ونه شوای کولای، چې د هیوادد پرمختګ لپاره کوم مهم کارونه وکړي؛ خو ویل کیږي چې د خپل پوه او عالم وزیر علامه سیدجمال الدین افغان په مرسته یې د افغانستان د عصري کولو په موخه سیاسي، عمراني، کلتوري پلانونه طرحه کړي وو، چې د هغو له جملې څخه یې د «جریده کابل» په نوم د افغانستان لومړۍ مجله له چاپه راوویسته؛ خو د وخت د کموالي له امله د اداري او سیاسي تشکیلاتو په لړ کې د کومو پلانونو په پلي کولو بریالی نه شو. (۲۳: ۸۶- ۸۷)

داچې رینښتیا هم په هغه وخت کې د سیدجمال الدین په هڅو د کابل په نوم جریده راوتلي وه او که نه؟ په دویم څپرکي کې به یې په اړوند پوره معلومات وړاندې شي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## د امیرشیرعلي خان د حکومت دوهمه دوره

د امیر محمداعظم خان او سردار عبدالرحمن خان په ماتې سره امیرشیرعلي خان کابل ته داخل او د ۱۸۶۸م کال د سپتمبر په اوومه نېټه د دوهم ځل لپاره واک ته ورسید.

دده لومړی کار دا وه، چې انګریزانو ته یې د دوستۍ لاس ور وړاندې کړ او په کابل کې یې د انګریزانو د سفیر عطامحمدخان سدوزي په واسطه هغوی ته د خپل امارت خبر ورکړ او هم یې هیله څرګنده کړه، چې انګریز دولت به له ده سره د دوستۍ اړیکې ټېنګې کړي او هم به په نظامي او اقتصادي برخو کې مرسته وکړي.

برتانوي هند چې د افغانستان وضع ارامه ولیده او په دې پوه شول چې د امیرشیرعلي خان مخالفین له پښو غورځیدلي دي؛ نو د ۱۸۶۸م کال د نومبر په دویمه نېټه یې د امیرشیرعلي خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

امارت په رسمیت وپېژانده، ۱۲۰۰۰ ټوپکه او ۲ لکه روپۍ یې ورته راولېږلې او هم یې امیرشیرعلي خان ته د هند د سفر کولو بلنه ورکړه او امیرشیرعلي خان هم د اړیکو د ټینګولو او د دوه اړخیزو همکاریو د رامنځ ته کولو په موخه په ۱۸۶۹م کال کې د هند امبالې ته سفر وکړ چې دده دا لېدنه د امبالې د کنفرانس په نوم شهرت لري. ( ۴۲: ۸۵)

## د امبالې کنفرانس او د هغه پایلې

امیرشیرعلي خان خپل زوی شهزاده یعقوب خان د کابل په دربار کې د نایب السلطنه په توګه پرېښود او په خپله له پنځو زرو عسکرو سره د ۱۸۶۹م کال په لومړیو کې پیښور ته ولاړ. په دغه سفر کې صدراعظم سید نور محمد شاه، د امیر کوچنی زوی شهزاده عبدالله جان ، او د دربار مهم غړي لکه جنرال حسین خان، ارسلاخان، عصمت الله خان، میرزا محمدنبي او شاغاسي شیردل خان د امیر ملتیا کوله . ( ۲۹: ۵۹۷)



په پیښور کې د انګریزانو له خوا امیر ته تود هرکلی ویل شو او امیر د عسکرو فرقه په پیښور کې پرېښودله او د دربار له مهمو غړو او څو سوه نفرو سره مخ په هند روان شو. د هند ګورنر لارډ مایو انګلیسي مامورینو او هندي شهزاده ګانو ته امر کړی و، چې د افغانستان د امیر هر کلی او ښه راغلاست په دې ډول عیار کړي، لکه څرنګه چې د دوو خپلواکو هیوادونو تر منځ تر سره کیږي، ترڅو نړۍ ته داسې څرګنده شي چې امیرشیرعلي خان په رېښتیا د یوه خپلواک هیواد حکمران دی او دا تشریفات باید په دې کچه وي ، چې د هند په تاریخ کې ساری ونه لري. د پلان مطابق انګریز مشرانو او هندي راجګانو د افغانستان له امیر څخه شاندار هر کلی وکړ. په داسې حال کې چې د هندي ټولنې عامه طبقه هم حاضره وه ، امیر ته د توپونو ډزې هم وشوې .( ۲۲ : ۲۸۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ امیر شیرعلي خان د هند په امباله کې له ولیعهد عبدالله جان او د خپلې کابینې له غړو سره ]

په کنفرانس کې امیر په صراحت سره وویل، چې د انګریزانو سره ټول شوي تړونونه یو اړخیز دي او باید چې نواقص یې رفع شي. امیر د بیلګې په توګه د جمرود په لومړي تړون باندې نیوکه وکړه، چې د هغه په دریمه ماده کې راغلي وو چې امیر به د انګریزانو دوستان خپل دوستان او دښمنان به یې دښمنان بولي؛ نو زه ددې لپاره هند ته راغلی یم چې په شویو تړونونو له سره کتنه وشي او د دوه اړخیزو همکاریو او اړیکو په نظر کې نیولو سره له سره تائید شي .

امیرشیرعلي خان په حقه و ؛ ځکه چې په نړیوالو تړونونو کې د تړون دواړه خواوې مساوي وجایب او حقوق لري خو دلته بل المقابل بیا انګریز په تړون کې دانه ذکر کوي چې د افغانستان دوست به د انګریزانو دوست او دښمن به یې د انګریزانو دښمن وي .

همدا ډول امیر نیوکه وکړه چې زما لومړۍ دوره حکومت چې یو قانوني حکومت و انګریز په رسمیت ونه پیژانده او د داخلي ګډوډۍ په حالت کې مې چې له تاسو کومه مرسته وغوښته، تاسو هغه رد کړه او اوس مو چې کومې ټوپکې او پیسې رالیږلي دي ښېرته یې رالیږم .

لارډ مایو وویل چې تیر به هیر کړو او اوس باید د دوستانه اړیکو لپاره نوي بنسټونه کیښودل شي.

امیر په ځواب کې وویل که انګلستان د افغانستان دوستي په لس، شل لکه روپو او شل، دیرش زره ټوپکو ګڼي چې په دې سره افغانان د بهرني دښمن دفاع وکړي؛ خو ګرانه ده. افغانستان چې تر څو د هیواد پنځه کلنه مالیه ونه بخښي او د هغې پر ځای د بریتانیا د حکومت د لګښتونو پیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورنه کړي نه افغانستان له چا سره جګړه کولای شي او نه هم د خپل هیواد دفاع . په دې حالت کې د بریتانیا همدومره مرسته اړینه ده او که دا مرسته د روسیې تر حرکت پورې وځنډول شي، نو بیا مو فرصت له لاسه ځي نه افغانستان او نه هم انګلستان ته ګټه رسولای شي؛ ځکه د سرحدونو د ساتنې او د جګړې لپاره مخکې تیارې په کار دی.

لارډ مایو په ځواب کې وویل چې په دې اړوند به په خپل وخت خبري وکړو؛ خو اوس مهال به تاسو ته ۱۲۵ لکه روپۍ ، ۱۲ زره ټوپک او ۱۲ توپونه درکړل شي. په همدې ډول درې تنه انګریزي استازي په هرات، کابل او کندهار کې ټاکل کیږي تر څو زات البیني معاملي اجرا کړي او هم د روسانو د چلند او د هغوی د حرکتونو په اړوند معلومات ترلاسه کړي.

دا لومړۍ ناسته وه، چې په دې خبرو پای ته ورسیده او نورې ناستې د افغانستان صدراعظم سید نور محمد شاه او د برتانوي هند د بهرنیو چارو د وزیر ستېین کار ترمنځ د ډاکټر ګیري په ترجمانۍ ترسره شوې او په پای کې امیر داسې یو بشپړ وړاندیز وکړ:

۱- د انګریز دولت مرستې باید دوامدارې وي او د بهرني خطر پرمهال به د امیر له غوښتنې سره سم زیاتیږي .

۲- سلطنت دې د امیرشیرعلي خان په کورنۍ کې په رسمیت وپیژندل شي او د شهزاده عبدالله جان ولیعهدي دې تائید شي، چې په راتلونکي کې د انګلستان دولت د افغانستان د واکمن په پیژندلو کې متردد نه اوسي .

۳- د دوستۍ معاهده دې دوه اړخیزه وي یعنې که افغانستان د انګلستان دښمنان خپل دښمنان پیژني نو انګلستان هم باید د افغانستان دښمنان خپل دښمنان وبولي .

۴- د بهرني تجاوز د دفعې پر مهال به دواړه دولتونه په خپلو کې سره مشوره کوي، انګلستان باید چې له افغانستان سره د پیسو او وسلو مرسته وکړي، تر څو افغانان په خپله د بهرني دښمن د مخنیوي او دفاع لپاره ګام پورته کړي او وار د مخه ورته تدابیر ونیسي لکه په سرحدونو کې د استحکاماتو او کلاګانو جوړول چې د انګریزانو د فني انجینرانو په مشوره به ودانیږي او د انګریزي منصبدارانو او پوځیانو مسئله به د امیر په خوښې پورې اړه لري.

داد افغانستان په معاصر سیاسي تاریخ کې لومړی ځل و چې افغانستان دولت او مشر د مذاکراتو طرحه په یوې مسوېده کې مقابل لوري ته وړاندې شوه. د امیر دا کار د معمول خلاف و ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه پخوا به د انګريزانو له خوا شرايط تاکل کيدل او په افغاني لورې به منل کيدل. (۲۴ : ۹۳-۹۴)

لارډ مايو د امير ټولې طرحې رد کړې او امير هم مايوس شو او د کوم تړون د لاسليک کولو پرته خپل هيواد ته راستون شو. وروسته انګريزانو په يوه مکتوب کې امير ته وليکل چې انګريزان د چا په داخلي چارو کې مداخله نه کوي، خو وخت ناوخت به خپلې مرستې ونه سپموي.

انګريزانو ځکه د امير له طرحې سره هوکړه ونه کړه، چې په دې سره په افغانستان کې د انګريزانو د هر ډول لاس وهنې لاره بنديده او د وليعهد په توګه د عبدالله جان منل به ددې سبب شوی وای، چې د امير په وړاندې به د سردارانو او ورونو د توطيو مخه بنده شوې وای. په دې ډول انګريزانو هيڅکله هم نه غوښتل چې په افغانســـتان کـــې يوه ځواکمنه اداره او دايمـــې ثبات رامنځ ته شي. (۲۸: ۹۵)

د امبالې له کنفرانس څخه د اميرشيرعلي خان لويه هيله دا وه، چې افغانستان په نړيواله کچه له سياسي خپلواکۍ څخه برخمن شي او د يوازيتوب (تجريد) له حالت څخه يې راوباسي؛ ځکه امير په وروستيو کې په بشپړ ډول پوهيدلی و، چې انګريزان يې له يوې خوا په کورنيو ستونزو کې راګيروي او له بلې خوا يې د نړۍ دروازې پرمخ ورتړلې دي او غواړي په همدې ډول يې وساتي؛ مګر اميرشيرعلي خان ونه شوای کولای چې خپلې دې موخې ته ځان ورسوي؛ ځکه چې نړيواله سياسي رسۍ د دوو زبر ځواکونو( انګلستان او روسيې ) په لاس کې وه، چې دواړو نه غوښتل چې په سيمه کې په پښو ولاړ افغانستان وګوري.(۲۴: ۶۶)

دا چې اميرشيرعلي خان د امبالې په کنفرانس کې ونه توانيده، چې د عبدالله جان وليعهدي پر انګريزانو ومني، نو په ۱۸۷۰م کال کې يې خپل اووه کلن زوی عبدالله جان د يو لوی جشن په ترڅ کې د ځای ناستي په توګه اعلان کړ، په داسې حال کې چې امير د يعقوب خان او ايوب خان په نومونو دوه مشران او په کار پوه زامن درلودل. مشر يې يعقوب خان و او د امير د ځای ناستي کېدو لومړنی حقدار ګڼل کېدو. امير دا لويه سياسي تېروتنه د خپلې ميرمنې عايشې په غوښتنه تر سره کړه، چې په هغه ډېره ګرانه وه. يعقوب خان چې دا بې انصافي وليدله په بغاوت يې لاس پورې کړ، کندهار ته وتښتيد او له هغه ځايه يې په هرات حمله وکړه او په دې ډول خبره تر لويو جګړو ورسيده؛ خو په اخر کې يعقوب خان کابل ته راغی او ځان يې پلار ته تسليم کړ، امير ددې پر ځای چې هغه وبښي، زندان ته يې ورتېل واهه او پوره اووه کاله يې په زندان کې تير کړل.( ۲۸: ۹۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سرحدي ستونزو د حل په اړه د امیرشیرعلي خان هڅې

د داخلي ستونزې سربېره امیر ته په بهرني سیاست کې هم یو لړ مسایل راپورته شول، چې مهم یې د سرحدونو مسایل وو. هغه مهال په منځنۍ آسیا او د افغانستان د شمالي پولو پر لور د روسانو پرمختګ هم امیر او هم انګریزان په تشویش کې اچولي وو او امیر د امبالې په کنفرانس کې هم دې مسئلې ته په صراحت انګریزان متوجه کړي وو. انګریزانو هم د افغانستان او روسیې تر منځ د سرحدونو په ټاکلو کې خپله ګټه لیده ؛نو ژر یې مداخله وکړه او هم یې امیرشیرعلي خان وهڅاوه، چې له روسانو سره خپل سرحدونه تثبیت او معلوم کړي. (۲۶: ۵۵)

ددې مسئلې د راپورته کېدو یو بل لوی عامل داو چې په دې سیمه کې د انګریزانو او روسانو د ټکر او تصادم ویره موجوده وه، دواړو خواو د مختنه تګ پالیسي غوره کړې وه او د دواړو سرحدونه یو بل ته نږدې کیدل. د بیلګې په توګه روسانو په ۱۸۶۵م کال په مرکزي آسیا کې تاشکند ونېوه او دوه کاله وروسته یې په ۱۸۶۸م کال کې یې بل لوی ښار سمرقند هم ونېوه او په مرکزي آسیا کې یې د بخارا په امارت خپل نفوذ خپور کړ. انګریزانو هم عین ګام پورته کړ سند یې ونېوه او په اباسیند یې خپل نفوذ راخپور کړ. اوس ددې ویره موجوده وه چې دا لوی زبرځواکونه به په همدغه سیمه کې سره ټکر شي. ددې وېرې له امله دواړو خواو مفاهمې سره پېل کړې، چې تر څو افغانستان د بفر او حایل په توګه عیار کړي او دواړه خواوې په هغه کې مداخله ونه کړي او په دې سره به د ټکر څخه مخنیوی وکړي. ( ۲۸: ۴۱۵)

انګریزانو په همدې موخه د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر لارډ ګرینویل (Lard Granville) د روس پلازمینې سن پترزبورګ ته ولېږه او هلته یې د روسیې له بهرنیو چارو وزیر پرنس کورچکوف ( prince corchokove) سره د افغانستان او تزاري روسیې د سرحد د ټاکلو پر سر خبرې پېل کړې، چې بالاخره په ۱۸۷۳م کال کې د روسیې دولت د سرحدي کرښې د ټاکلو لپاره د تیاري اعلان وکړ. د انګلیس، افغانستان او روسیې استازي د یو ګډ کمیسیون په توګه دغه سرحدي کرښه، چې له ویکتوریا( زرقول) له جهیل څخه تر خم آب پورې اوږدوالی لري، تعین او تثبیت کړه، نوموړې سرحدي کرښه د آمو د سیند په امتداد ۱۸۰۰ کیلومتره اوږد والی لري او اوس د امیرشیرعلي خان د کرښې په نوم یادیږي .(۴۲: ۵۵)

په عین حال کې د سیستان پر سر له ایران سره اختلافات موجود وو. د سیستان سیمه د خپل لرغوني روښانه تاریخي سوابقو له مخې د افغانستان یو مهم ولایت دی. د افغانستان د معاصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ په پېل کې د تیمور شاه تر مړینې پورې سیستان د افغانستان دولت ته باج ورکاوه؛ خو څه وخت چې په درانیانو کې دا خلي اختلافات او جګړې پېل شوې، نو سیستان به کله په هرات او کله به په کندهار پورې وتړل شو. (۷: ۳۱۰)

ایران هڅه کوله د افغانستان په داخلي چارو کې لاس وهنه وکړي او د افغانستان له داخلي اختلافاتو څخه ګټه پورته کړي او د افغانستان ځینې سیمې لاندې کړي. د بیلګې په توګه ایران تل هڅه کوله چې هرات د ایران یوه برخه وګرځوي؛ خو دې هیواد ونه شوای کولای چې خپلو هیلو ته ورسیږي، په ځانګړي ډول د ۱۸۵۷م د پاریس تړون له امله د ایران لاس په بشپړ ډول له هرات څخه قطع شو. کله چې ایران د هرات په نیولو بریالی نه شو؛ نو بیا یې د افغانستان په جنوب لویدیځ کې سیستان ته لاس راوغځاوه. دا هغه مهال و چې امیر شیرعلي په داخلي اختلافاتو کې مصروف او ویې نه شوای کولای چې د سیستان مسئلې ته ځان ورسوي؛ خو کله چې امیرشیرعلي خان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسید، دې مسئلې ته یې په جدي ډول پاملرنه وکړه او په دې ډول د ایران او افغانستان تر منځ جنجال راپورته شو. څرنګه چې د ایران او انګلیس تر منځ د پاریس د تړون په اساس په داسې مسئلو کې حکمیت باید انګریزانو ته سپارل شوی وای؛ نو ایران ورته مراجعه وکړه او انګریز هم په ۱۸۷۲م کال کې سرفریدریک ګولډسمت په نامه یو انګریز ددې کار لپاره وګماره او د افغانستان او ایران استازي یې هم وغوښتل. (۲۸: ۹۶)

د افغانستان له خوا صدراعظم سید نور محمد شاه او د ایران له خوا میرزا معصوم خان د استازو په توګه ددې مسئلې د حل لپاره په تهران کې سره کښیناستل. له ډېرو خبرو وروسته ګولډ سمت خپله پریکړه وکړه او یو ځل بیا یې د افغانستان او ایران تر منځ د نفاق اور تازه کړ او سیستان یې په دوو برخو ووېشه. دا وېش د افغانستان په ضرر و، په پایله کې د انګریزانو او امیرشیرعلي خان تر منځ اړیکې پرې خرابې شوې. انګریزانو ددې لپاره چې امیر خوشاله کړي د ګولډ سمت پریکړه یې یوه سهوه وبلله او شپاړس لکه کلدارې یې د تاوان په توګه ومنلې؛ خو امیرشیرعلي خان دا پیسې ونه منلې او د سیستان مسئله همداسې لاینحله او جنجالي پاتې شوه. (۴۲: ۵۶-۵۷)

د امیر حبیب الله خان په وخت کې یو ځل بیا د ایران او افغانستان تر منځ د سرحد پر سر اختلافات را پورته شول او دا ځل بیا هم د انګریز استازي مکماهن په منځګړي توب په ۱۹۰۲م کال کې د ایران او افغانستان تر منځ سرحدي کرښه رامنځ ته شوه، چې د مکماهن د سرحدې کرښې په نوم شهرت لري چې د کوه ملک سیاه څخه د سیاه کوه پورې غځېدلې ده. په دې سره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د دواړو هیوادونو ترمنځ د سرحد په سر ستونزه هواره نه شوه، ځکه دا ځل ایران بیا هم د هلمند د اوبو پر سر جنجالونه را پورته کړل، که څه هم له ۱۸۷۲م کال څخه بیا تر ۱۹۰۵م کال پورې یعنې د ۲۳کلونو په موده کې د انګریزانو د حاکمیت له مخې د هلمند د سیند دریمه برخه او د سیستان له ځمکو څخه تر دریمې ډېره برخه ایران ته ورکړل شوه. (۳: ۶۴)

په وروستیو کې د هلمند د اوبو معاهده د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د سلطنت او د موسی شفیق د صدرات پر مهال، په کابل کې د ایران د لومړي وزیر عباس هویدا او صدراعظم موسی شفیق له خوا په ۱۹۷۳م کال کې لاسلیک شوه، د افغانستان په ولسې جرګه کې هم دا معاهده د رایو په اکثریت تصویب شوه او وروسته د افغانستان د پاچا محمد ظاهر شاه له خوا هم تائید شوه. (۳۱: ۲۳۴)

## د سملې کنفرانس او د هغه پایلې

د سیستان او د یعقوب خان د بغاوت په مسئله کې د انګریزانو او د امیرشیرعلي خان ترمنځ سیاسي بې اعتمادي نوره هم پسې ډېره شوه او ورځ تر بلې یې اړیکې د بحران په لور روانې شوې. له بلې خوا انګریزانو پر امیر تل فشار اچاوه چې په کابل کې د برتانیې یو سیاسي استازي ومنل شي، تر څو له نږدې نه د سیاسي مسایلو په اړوند مذاکرې وشي.

امیر شیرعلی خان لازمه وګڼله چې کابل ته د انګریز استازي د راتګ په اړوند د ملت رایه ترلاسه کړي؛ نو یې لویه جرګه دایره کړه او جرګې پریکړه وکړه، چې د انګریزانو استازي ته دې کابل ته د راتګ اجازه ورنه کړل شي؛ ځکه چې افغانستان اوس له انګریزانو سره د خبرو کوم ضرورت نه لري او که چېرې انګریزان د خبرو کولو هیله لري باید چې له وړاندې نه د خبرو موضوع روښانه کړي، تر څو پر موضوع باندې د غور کولو وروسته امیر خپل استازی هند ته ولیږي. په همدغه وخت کې د هند حکمران نارت بروک امیر ته په ځواب کې ولیکل چې د مزاکراتو موضوګانې د سیستان مسئله، شمالي سرحدات او نور سیاسي مسایل دي او نوموړي هیله ښودلې وه چې امیر په خپله په کنفرانس کې د ګډون لپاره هند ته ورشي. دا چې امیر له پخوانیو مذاکراتو څخه مایوسه و او هم یې د هندي راجګانو په مجلس کې ګډون د خپل شان او د هیواد د خپلواکۍ سره مناسب نه ګاڼه، فیصله یې وکړه چې خپل صدراعظم سیدنورمحمدشاه هند ته ولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدنورمحمدشاه د نارت بروک له موافقې وروسته په ۱۸۷۳م کال د جولای په (۵) نېټه د هند په سمله کې له نارت بروک او د هغه بهرنیو چارو وزیر ایچیزن سره ولیدل. (۱۷: ۲۵۶-۲۶۶)

د خبرو په پیل کې د برتانوي هند چارواکو د امیر په اړه د خپل نیک نیت څرگندونه وکړه او هغوی وویل چې د هلمند د اوبو په اړه حکمیت د مخالفت پر بنسټ نه دی شوی او د امیر د راضي کولو لپاره به خپلې هڅې جاري وساتو. همدارنگه د افغانستان د شمالي سرحدونو په اړه یې هم ډاډ ورکړ او زیری یې ورکړ، چې روسیې دا منلې چې افغانستان د روس له نفوذ څخه وتلی او بهر دی. یادونه یې وکړه چې که په افغانستان باندې کوم تجاوز وشي؛ نو انگریزان به د افغانستان د سرحدونو د ساتلو لپاره خپل ټول توان کاروي او مادي مرستې به هم کوي، خو په دې شرط چې امیر خپلو بهرنیو چارو کې د انگریزانو سلا او مشورې ته غاړه کېږدي او د خپلو گاونډیانو په خاوره کې د لاس وهلو څخه ځان وساتي.

سیدنورمحمدشاه د نارت بروک په ځواب کې وویل چې: په مرکزي آسیا کې په ډېرې تیزۍ سره د روس د واک لمنه پراخیږي او له دې څخه د افغانستان خلک په تشویش کې دي او تر څو پورې چې هغوی ته د روس د احتمالي برید د مخنیوي او د انگریز حکومت د عملي مرستې ډاډ ورنه کړل شي، د هغوی دا تشویش نه رفع کیږي.

د هند وایسرا نارت بروک په دې اړه د لندن نظر وغوښت او د هند د چارو وزارت په راغلي تلگرام کې وښوول، چې په دې اړه د امیر اندیښنه بې ځایه ده او ورته وواییٔ چې موږ په دې اړه هیڅ تشویش نه لرو او کوم ډاډ چې روسیې موږ ته په دې اړه راکړی هغه کافي گڼو، که ربښتیا پر افغانستان برید وشو؛ نو انگلستان د وسلو او حتی پوځ لیږلو ته تیار دی. (۲۴: ۹۹- ۱۰۰)

د خبرو په جریان کې بیا هم انگریزانو خپلو اصلي ټکو ته اشاره وکړه او هغه دا چې د افغانستان دولت دې په بهرني سیاست کې له انگریز دولت سره مشوره وکړي او د افغانستان د سرحدونو د معاینې لپاره دې د انگریز موقت استازی ومني او له دې پرته دې په کابل، کندهار، هرات، بلخ او جلال آباد کې د انگریزانو سیاسي او نظامي استازي په دایمي توگه ومنل شي؛ خو سیدنورمحمدشاه د انگریز چارواکو دغه وړاندیزونه ټول رد کړل او په ځواب کې یې وویل، چې انگریز دولت سره دوستي باید د افغانستان د پاچا له خوا تضمین شي، همدارنگه د انگریزانو د مرستې اندازه د امیر په غوښتنې پورې اړه لري او په افغانستان کې د انگریز استازو د میشته کېدو په هکله باید ووایم، چې دا مسئله شخصاً په امیر پورې اړه لري. افغان استازی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدنورمحمدشاه پرته له دې چې کـــوم غـــــوڅ قرارداد لاسلیک کــړي بېرته کابل ته راستون شـــو.( ۴۲: ۱۷)

هند ته د نارت بروک په واسطه د امیر بلنه یوازې د همدې مسایلو په اړه وه، مګر د هغه وړاندیزونه د امیر د استازي له خوا رد شول؛ خو دا مسایل یې راتلونکي ته پرېښودل او سمدستي یې د سیستان د مسئلې د حق تلفۍ د جبرانولو لپاره پنځه لکه روپۍ د عادي مرستې په توګه او ۱۵زره ټوپکونه سیدنور محمد شاه ته ورکړل او ددې سره یې یو مکتوب هم د هغه په لاس ورکړ چې غټ ټکي یې دا وو:''د روسیې د برید په صورت کې به د افغانستان سره په ممکنه وسایلو مرسته وشي او امیر دې په خپل بهرني سیاست کې د انګریز مشوره اخلي او هم یې یو ځل بیا امیر ته د هند سفر بلنه ورکړې وه.''

امیر یو ځل بیا پیسې رد کړې او وسلې یې ومنلې، د ۱۸۷۳م کال د سپټمبر په ۶ مه د انګلستان د بهرنیو چارو وزیر لارد ګرانویل له خوا خبر راورسید، چې روسیې افغانستان ته د واخان او بدخشان په تسلیمولو باندې موافقه کړې ده؛ خو امیر د بېلابېلو ډیپلوماتیکو لارو چارو پر بنسټ د انګریز استازو له منلو څخه معذرت وغوښت. په هر صورت د انګلستان پارلمـــان د هغه وخت له رسمي پاڼو معلــومېږي، چـــې تر دې وخته پورې د افغانستان او انګلســـتان اړیکـې ښې وې. ( ۲۴: ۱۰۰- ۱۰۱)

## د پیښور مذاکرات

امیرشیرعلي خان په ۱۸۷۳م کال د عبدالله جان د ولیعهدۍ جشن جوړ کړ او د موضوع په اړه یې د هند وایسرا، د روسي ترکستان حاکم کافمن، فارس قاجاري دولت او د بخارا امیر ته اطلاع ورکړه. همدغه مهال د انګلستان په سیاست کې تغییرات رامنځ ته شول، چې د افغانستان په برخلیک یې ژوري اغیزې وکړې .د ۱۸۷۴م کال په ټاکنو کې د لیبرال حزب پر ځای محافظه کار حزب واک ته ورسید او ډیزرایلي د انګلستان د دولت د کابینې ریاست ته ورسید. نوموړي د مرکزي آسیا د هیوادونو په وړاندې سخت دریځه سیاست غوره کړ کوم چې د ګلادستون پر مهال تر یوه بریده راکم شوی و.تزاري روسیې هم ورته سیاست غوره کړ او دوی هم په مرکزي آسیا کې خپل پرمختګ ته دوام ورکړ او په ۱۸۷۴م کال کې یې د مرکزي آسیا ترکمن قبایل د ځان تابع کړل او خیوه یې په ناڅاپي توګه تر کنترول لاندې راوسته. انګریزان وارخطا شول او د روسانو دا عمل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې د هند او افغانستان لپاره خطرناک وباله، له دې امله انګريزانو يو شمېر احتياطي ګامونه پورته کړل.کوټه يې ونيوه او هم يې امير ته په کندهار او هرات کې د انګريز صاحب منصبانو د ځای پر ځای کېدو وړانديز وکړ. لارډ سالسبري د هند د چارو وزير په ۱۸۸۵م کال کې نارت بروک ته هدايت وکړ چې د انګريزي استازو د ټاکلو مسئله يو ځل بيا له اميرشيرعلي خان سره مطرح کړي . د هغې تجربې له مخې چې نارت بروک د افغانستان او په ځانګړې ډول د اميرشيرعلي خان په اړه لرله د موضوع حساسيت ته يې د انګلستان حکومت د متوجه کولو لپاره ډېرې هڅې وکړې؛ خو په دې مسئله کې د انګلستان د دولت په منصرف کولو بريالی نه شو.

له بلې خوا د افغانستان په اړه د انګريز دولت نظاميانو او سياسيونو نظر په بشپړ ډول بدلون کړی و او د دوی له نظره افغانستان د هند د دفاع لپاره مهم سنګر ګڼل کېده. لارډ نارت بروک له خپلې دندې استعفا وکړه او په ۱۸۷۶م کال کې لارډ ليټن د هند د اعلی حاکم په توګه وټاکل شو او هغه د افغانستان او سيمې په اړه د نوي سياست او طرحې سره راغی.( ۳۷: ۳۸-۳۹)

لارډ ليټن د مخکې تګ ( Forward) پاليسۍ ډېر سخت طرفدار و، هغه غوښتل چې د روس د نفوذ د مخنيوي لپاره انګريز پوځ د کابل مرکز او د هندوکش په لمنو کې ځای پر ځای کړي او هم په بلخ، هرات او کندهار کې نفوذ وکړي، کابل او غزني د کوټې او قلات په څېر نظامي مرکزونه کړي. شينواري، مهمند له ننګرهار څخه بيل کړي ، پيشين او سيبي د کندهار څخه بيل او له بلوچستان سره يې يو ځای کړي. د خيبر، بولان او د کورمې لويې لارې په خپل لاس کې ونيسي. ليټن اصلاً افغانستان د يو خپلواک او مستقل هيواد په نوم نه پيژانده او دا يې ويل چې: افغانستان ياپه هند پورې او يا په روس پورې وتړل شي او يا بالکل له منځه يو وړل شي او د نړۍ له نقشې ولوېږي او دا د راولنس نظر هم وو، چې د افغانستان د سيمې د چارو متخصص بلل کېدو.

ليټن اميرشيرعلي خان ته مکتوب وليږه، چې په کابل کې د اړينو مسئلو په اړه د خبرو لپاره يو انګريز استازی ومني مګر اميرشيرعلي خان يې په ځواب کې مکتوب وليږه او د انګريز د استازي له منلو يې معذرت وغوښت او يادونه يې کړې وه چې د انګريز استازي راتګ له امنيتي پلوه مشکلات لري. ليټن چې کله د امير منفي ځواب واوريدو؛ نو خپل سفير عطامحمدخان يې له کابل څخه راوغوښت. عطامحمدخان د امير د خفګان په هکله ليټن ته مفصل معلومات ورکړل. يعنې د سيستان پريکړه، په قلات او کوټه کې د نظامي مرکزونو جوړول، د سرداريعقوب خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپاربښتلیک، د سملي د مذاکراتو بده رویه، د پیښور د کمیشنر بې ادبه مکالمه او ..... ددې په څنګ کې د امیر غوښتنې هم ورته بیان کړې.

لیټن عطامحمد ته وویل: '' افغانستان په آسیا کې د تلې د دوو پلو په منځ کې د غنم د دانې مثال لري، امیرشیرعلي خان ته اخطاراً ووایه چې زموږ له اجازې څخه پرته له چا سره اړیکې نشي ساتلای، په ځانګړي توګه له روس سره، انګریز نژاده استازي په کابل، کندهار، هرات، بلخ او سرحداتو کې ومنه، زموږ د مامورینو پر مخ ټولې لارې پرانیزه او د هغوی ساتنه هم په غاړه واخله، د استازو د تګ او راتګ لپاره اجازه ورکړه. که چیرې دا شرایط ونه منې موږ به له روس سره مذاکره وکړو، چې افغانستان د نړۍ له نقشې څخه وباسو او په دوو برخو به یې ووېشو او په دې پوه شه چې روس دې کار ته تیار دی.'' عطامحمد کابل ته راغی او د لیټن سرتنبه وړاندیز یې کټ مټ امیر ته وړاندې کړ. امیر وپوهید چې انګریزان له افغانستان سره د یوه خپلواک هیواد په توګه شرافتمندانه دوستي نه غواړي او خپلو ناروا موخو ته رسیدل غواړي. امیرشیرعلي خان مسکی شو او عطامحمدخان ته یې وویل : ''د افغانستان په اړه د لیټن فکر او خیال په بشپړ ډول غلط دی، لیټن اشتباه کړې، ځکه افغانستان د تلې د دوو پلو په منځ کې د غنمو مثال نه لري؛ بلکې افغانستان د آسیا د تلې د دوو پلو د شاهین مثال لري، چې د دواړو پلو توازون پرې برابریږي هرې پلې ته چې ولویږي د پلې بله خوا به پورته کیږي.''. ( ۴۱: ۳۵۰-۳۵۱)

امیرشیرعلي خان د انګریزانو له خوا تر تهدید او فشار لاندې ونیول شو او اړ شو چې خپل اعتمادي صدراعظم سیدنورمحمد شاه یو ځل بیا له انګریز دولت سره د خبرو لپاره ولیږي، تر څو وکولای شي د انګلیس په دښمنانه نقشه کې تعدیلات رامنځ ته کړي او همدارنګه هغه مسئلې هم حل کړي چې تر دې مهاله نه وې حل شوې. امیر په ۱۷۸۸م کال جنوري کې د سید نورمحمدشاه تر مشرۍ لاندې پیښور ته سیاسي هیئت ولیږه. دا هیئت انګریزانو د فوق العاده استازي لویس پېلي له خوا ومنل شو. د خبرو په پیل کې سیدنورمحمدشاه هغه مسایل یو پر بل پسې بیان کړل چې د امیر د خفګان سبب ګرځیدلي وو. د هند د حکومت استازي یو ځل بیا همغه پخوانۍ غوښتنې تکرار کړې او ویې ویل چې امیر دې له روسیې سره له مستقیمو اړیکو تیر شي او انګریز استازو ته دې اجازه ورکړي چې په هرات او نورو سرحدي سیمو کې ځای پر ځای شي، تر څو د روسانو حرکتونه له نږدې وڅاري. د انګریز او افغان یو ګډ هیئت دې له هند سره سرحد معلوم کړي، په کابل کې دې د انګریزانو دایمي سفارت او د اړتیاو په صورت کې دې امیر انګریز استازو ته کابل ته د تللو اجازه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدنورمحمدشاه د لویس پېلي ټول وړاندیزونه رد کړل، ځکه له یوې خوا دا وړاندیزونه له پخوانیو ټولو تړل شویو تړونونو سره په ټکر کې وو او له بلې خوا امیر په قاطع ډول ویلي وو، چې افغان استازی دی د ممکنه لارو چارو په واسطه مصالحه رامنځ ته کړي؛ خو د انګریز نژاده استازي منل دې په هیڅ صورت ونه مني. ځکه د امیر له دې ویره درلودله چې په دې سره به انګریزان د هغه په داخلي چارو کې لاس وهنې پېل کړي او صلاحیتونه به یې محدود شي. په دې صورت کې له تفاهم پرته دا خبرې هم بې پایلې پای ته ورسیدې. ( ۲۲: ۲۹۹- ۳۰۰)

سیدنورمحمد شاه د مارچ ۲۷ د خپلې ناروغۍ او هغه روحي فشار چې د انګریز دولت د سلوک او د کنفرانس د ناکامۍ له امله ورته پیدا شوی و، په پېښور کې وفات شو (دا یو مرموز مرګ و). امیر د سیدنورمحمدشاه په مړینه سخت وځوریده او د هغه مړی یې په ډېرو مجللو تشریفاتو سره د شهدای صالحین په هدیره کې خاورو ته وسپاره.

امیر بیا هم له انګریز سره د اړیکو د رغولو لپاره هڅه وکړه او د مالیې وزیر حبیب الله خان ورډګ یې د پېښور د مذاکراتو د دوام په موخه پېښور ته ولیږه، خو د مارچ په دیرشمه نېټه وایسرا، لویس پېلي ته یو لنډ او قاطع تلګرام راولیږه چې د کنفرانس پای یې اعلاناوه. پېلي هم د امیر استازي ته وویل چې خبرې پای ته رسیدلي دي او نورو خبرو ته اړتیا نه شته او په دې سره د پېښور مذاکرات هم بې پایلې پای ته ورسیدل. ( ۲۴: ۱۰۵)

انګریزانو د عثماني ترکیې له لارې هم په امیر فشار وارد کړ. هغه مهال عثماني ترکیه د روسیې په وړاندې د انګریزانو تر حمایت لاندې وه او د عثماني ترکیې واکمن سلطان عبدالحمید د مسلمینو د خلیفه اعتبار هم درلود او انګریزانو عبدالحمید ته سپارښتنه کړې وه چې امیر د انګریزانو دوستۍ ته راوبولي.

سلطان عبدالحمید یو دوستانه لیک سره کابل ته هیئت راولیږه چې امیر یې د انګریزانو دوستۍ ته رابللی و او پر روس باندې یې ورته د باور نه کولو سپارښتنه کړې وه.

د ترکیې هیئت د بېرته تګ پر مهال امیر هم د ترکیې سلطان ته یو مفصل لیک ولیکه چې په هغه کې یې ټول تیر حالات په ښکاره ډول بیان کړي وو او د انګریزانو ټولو بې انصافیو ته یې په کې اشاره کړې وه. خو وړاندې له دې چې دا لیک سلطان عبدالحمید ته ورسیږي انګریزانو مطالعه کړ، چې له لامله یې په انګریز دولت کې د فارورډ یا مخکې تګ پالیسۍ طرفداران لا نور هم غضه شول. (۲۸: ۱۰۹- ۱۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د امیرشیرعلي خان دربار ته د روسیې استازي راتګ

په ۱۷۷۴م کال کې د انګلستان او روسیې تر منځ د ښو اړیکو دوره چې د کریمیا د جګړې څخه یې تقریباً شپاړس کاله دوام کړی و پای ته ورسیده. دغه مهال د انګلستان حاکم محافظه کار ګوند په ختیځ کې د روسیې هر ډول پرمختګ د انګلستان د آسیایي هیوادونو د مستعمراتو په ځانګړې ډول د هند لپاره جدي خطر تلقي کاوه. د انګلستان دا ویره هغه وخت ډېره شوه، چې روسانو مروه او خیوه سیمې تر کنترول لاندې راوستلې؛ ځکه دا سیمې هرات ته نږدې وې او هرات په هغه وخت کې د هند دروازه بلل کیده.

کله چې د پیښور کنفرانس پای ته ورسید ، د عثماني ترکیې او روسیې ترمنځ جګړه پېل شوه چې د روسانو په وړاندې د انګریزانو بدګوماني نورې هم ډېرې شوې. دا جګړه ځکه پېل شوه چې په بالکاناتو کې د بوسنیا او هرزه ګووینا خلکو د عثماني ترکیې په وړاندې پاڅون وکړ. دا چې د روسیې دولت ځان د بالکان د عیسویانو ملاتړی او مرسته کوونکی باله؛ نو په ۱۸۷۷م د پاڅون کوونکو سره د مرستې تر نامه لاندې یې له عثماني ترکیې سره جګړه پېل کړه او روسي ځواکونو په سرعت سره پرمختګ وکړ او د وچې له لارې استانبول ته نږدې شول. (۳۲: ۳۴۸)

له دې امله سلطان عبدالحمید اړ شو چې د سان ستیفان تړون لاسلیک کړي او په بالکان ټاپو وزمه کې د روس حاکمیت ومني؛ خو انګریزانو د اتریش او آلمان په مرسته روسیه مجبوره کړه، چې د برلین په کنګره کې د سان ستیفان پر تړون باندې تجدید نظر وکړي. کله چې روسانو ځان په داسې یو حساس حالت کې ولید ، نو په دې لټه کې شول، چې انګریزانو ته د هند په جبهه کې ګواښ راپیدا کړي او په ځان باندې د برلین د کنګرې فشار را کم کړي؛ نو ځکه یې افغانستان ته پاملرنه جلب شوه، چې د انګریزانو څخه ناخوښه و. د ترکیې استازي د روسیې د همدغې هڅې د مخنیوي لپاره کابل ته راغی او خبرې یې پېل کړې. کله چې دغه پلاوی پوه شو چې افغانستان هم د ترکیې په څېر له عین موقعیت سره مخامخ دی، ترکیه له روسانو څخه ناراضه او افغانستان له انګریزانو څخه ناراضه دی، له دې امله یې له امیر سره خبرې ناکامه شوې. خو د روسیې دولت خپل سیاست ته دوام ورکړ . لومړی یې په ۱۸۷۷م کال کې دوه مسلمان استازي کابل ته راولیږل او د دواړو دولتونو ترمنځ یې دوستي څرګنده کړه. امیرشیرعلي خان سره له دې چې له انګریزانو څخه خفه و ، خو د روسانو دغه استازي یې ونه منل. پر انګریز باندې د فشار لپاره روسانو په مرکزي آسیا کې یو ځل بیا حرکتونه پېل کړل او داسې خبرونه خپاره شول، چې روسیه غواړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانســـتان له لارې د هند په انګریز دولت برید وکړي، خو تر ټولو غټ فشار یې دا و چې د جــنرال ستالیتوف تر مشرۍ لاندې یې د امیرشیرعلي خان دربار ته یو بل سیاســـي پلاوی راولیږه. (۲۹: ۴۰۴)

له روسي پلاوي سره د انګریزي او ترکي ژبې ژباړونکي، یو طبي ډاکټر جی ایل یاروسکي او د یو بریدمن تر قوماندانۍ لاندې د ۲۱ تنو قازاقانو یوه قوه ورسره وه .

دوی په ناڅاپي توګه د آمو غاړو ته راورسیدل او د سرحد خلکو ته یې وویل چې دوی له امیر سره خبرو ته ورځي، د مزار شریف لویناب شیردل خان، امیرشیرعلي خان ته احوال ورکړ او هغه هم زړه نازړه دا نابللي میلمانه ومنل او د ۱۸۷۸کال د جولای په ۲۲ کابل ته راورسیدل، امیر هم خپله میلمه پالنه پر ځای کړه.

روسيې استازي امیر ته د ترکستان د حاکم کافمن لیک ورکړ او داسې یې څرګنده کړه چې دوی غواړي د افغانستان او روسيې تر منځ د دوستۍ تړون وکړي او په دغه تړون کې به د امیر د ګران زوی عبدالله جان ولیعهدي هم په رسمیت وپيژني.

امیر په دې هیله شو چې ددغه روسي هیئت له وجود څخه به ګټه پورته کړي، له یوې خوا به د روسانو په دوستۍ سره د سردار عبدالرحمان تهدید له منځه یوسي او له بلې خوا به وکولای شي، چې پر انګریزانو فشار راوړي. انګریزان هم کابل ته ددې هیئت له راتګ سره سخت وارخطا شول او د امیر د منځه وړلو په فکر کې شول.

د روسانو چالاکي داوه چې په همدغو ورځو کې د برلین په کانګرس کې د اروپایي هیوادونو مشران راټول وو او انګریز د ترکیې په ګټه د سان ستیفان د تړون د موادو پر الغا کولو فکر کاوه او روسانو غوښتل کله چې د سان ستیفان په تړون کې انګریزانو ته امتیاز ورکوي؛ نو د افغانستان په سر باید معامله وکړي او معامله داوه، چې افغانستان یې د انګریز نفوذ ته ورخوشی کړ او په مقابل کې یې په بالکان کې له انګریز څخه امتیاز ترلاسه کړ او بلغاریا یې رامنځ ته کړه. روسانو ستالیتوف په چلبازۍ رالیږلی و او امیر یې استعمال کړ او دا د روسانو غټه تېګي وه. ستالیتوف په کابل کې و چې د برلین د کانګرس پریکړه وشوه، نو په پټه یې ستالیتوف ته لیک ولیږه چې له افغانستان څخه په چل راووځه او له امیر سره هیڅ شی لاسلیک نه کړئ. ( ۲۸: ۱۱۱-۱۱۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستالیتوف هم له امیر سره یوه مسوده تیاره کړه، چې ددې مسودې بشپړه بڼه موجوده نه ده . کوم څه چې شته هغه یوازې د انګریزانو په لیکنو کې دي، چې هغوی یې له دې څخه په افغانستان باندې د خپل نظامي یرغل په خاطر د یوه سند په توګه دلیل راوړي او امیرشیرعلي خان له روسیې سره په یو موټي کېدو او پر هندوستان باندې په یرغل کولو تورنوي . په دې مسوده کې لاندې موارد راغلي وو :

۱- افغانستان به د روسیې پوځ ته په هند باندې د یرغل کولو اجازه ورکوي .

۲- امیر به روس دولت ته اجازه ورکوي چې په افغانستان کې د تلګرام مزي وغځوي او امیر به یې د ساتنې ذمه واري کوي.

۳- روسیه به د امیر ځای ناستي په رسمیت پیژني.

۴- افغانستان به روسیې ته اجازه ورکوي، چې په افغانستان کې د اوسپنې پټلیو درې سرکونه جوړ کړي او افغانستان دولت به یې ساتنه په غاړه اخلي. د خارجي حملې په صورت کې به له امیر سره مرسته کیږي.

۵- افغانستان باید له انګلستان سره په جګړه کې او پر هند باندې د یرغل په صورت کې له روسانو سره برخه واخلي او روسیه به د جګړې تر پایه پورې د افغاني عسکرو مصرف په خپله غاړه اخلي.

۶- روسیه د خپلو عسکرو لپاره ارتزاقي مواد په خپل هیواد کې برابروي. خو که د اړتیا په وخت کې افغانستان د روسیې پوځ لپاره د اړتیا وړ مواد تهیه کوي په بدل کې به یې قیمت اخلي . ( دواړه هیوادونه به سوداګرو لپاره د سوداګرۍ استانتیاوي برابروي).

۷- د هند د فتحې وروسته به د احمدشاه بابا او د تیمور شاه د وخت سیمې بېرته افغانستان ته ورکول کیږي.

۸- تړون به د امیر اوستالیتوف له خوا لاسلیک شي .

دا د هغه تړون مسوده وه چې د روس استازي او امیر تر منځ هوکړه پرې شوې وه؛ مګر ډېرى تاریخ پوهان دا مسوده نه تائیدوي او هغه څه چې موجود دي هغه یوازې د منشي محمدنبي خان له خولې څخه په یوه انګلیسي کتاب کې نقل شوي دي؛ خو دا جوته ده چې کوم اساسي تړون نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی شوی، یوازې یوه لـــومړنۍ مسوده وه چې د امیر د توجــه د جلبولو لپاره ترتیب شوې وه.(۴۲: ۷۷-۷۹)

ستالیتوف د خپل مرکز له هدایت سر سم له کابل څخه د خپل هیواد په لور روان شو او امیر ته یې ډاډ ورکړ چې ددې مسودې متن به د روس له تزار سره شریکوي او هیله ده چې ومنل شي.

روسیې او افغانستان تر منځ دې ټولو خبرو څخه انګریزان شیبه په شیبه خبریدل، ځکه چې د امیر په دربار کې د انګریزانو جاسوسان ښه پریمان وو، په ټولو سیاسي جریاناتو پوهیدل او له هر څه خبر وو. انګریزانو دا مسودې او لیکونه تحریف، جعل او خپاره کړل، تر څو پر افغانستان باندې د تیري کولو لپاره بهانه په لاس کې ولري. سره له دې چې امیرشیرعلي خان د یو خپلواک هیواد امیر و او حق یې درلود چې د نړۍ له هیوادونو سره سیاسي او سوداګریزې اړیکي ولري او تړونونه ورسره لاسلیک کړي.(۲۹: ۶۰۵)

انګریزانو دا خبره خپره کړه چې امیرشیرعلي خان د انګریز په نسبت د روسانو دوستۍ ته ترجیح ورکوي، له روسیې سره یې تړون کړی تر څو پر هند باندې په یرغل کې له روسیې سره همکاري وکړي. په دې اساس د هند وایسرا لارډ لیټن ته هدایت وشو، چې د برتانوي هند له خوا کابل ته یو سیاسي استازی ولیږي او پر امیر فشار راوړي. لارډ لیټن په ۱۸۷۸م کال د اګست په ۱۴ امیرشیرعلي خان ته مکتوب راولیږه او په هغه کې یې څرګنده کړې وه چې: "د سرنیول چمبرلین په نوم به د برتانیې یو استازی کابل ته درشي، په عاجلو مسایلو به د کابل او د ګاونډیو هیوادونو په وروستیو حالاتو له تاسې امیر سره مذاکره وکړي."

دغه مکتوب په ۱۴ اګست کابل ته ورسید او دا چې په همدغه ورځ ولیعهد عبدالله جان وفات شوی و، امیر د هغه د فاتحې په مراسمو کې د مصروفیت له امله ونه شوای کولای چې په عاجل ډول برتانوي هند ته د مکتوب ځواب ورکړي. دا چې د سپتمبر تر ۲۰ پورې د مکتوب ځواب هند ته ونه رسید، د هند وایسرا لارد لتین جنرال چمبرلین ته امر وکړ چې د کابل په لور حرکت وکړي. د لارډ لتین د هدایت په اساس جنرال چمبرلین او هغه سره ملګری کیوناري په ۲۱ سپتمبر علي مسجد سیمې ته راورسیدل؛ خو د افغانستان سرحدي مامورینو د احترام د مراتبو په ادا کولو هغوی ته اجازه ورنه کړه چې افغانستان ته داخل شي، ځکه د انګریز استازي د راتګ په اړوند له هغوی سره د امیر کوم هدایت موجود نه و او انګریز استازي هم پیښور ته ستانه شول.( ۱۷: ۳۱۴-۳۱۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پېښې وروسته د انګرېزانو له خوا امیر ته پرلپسې تهدیدونه راتلل، حتی تر دې چې د هندي انګرېزي اخبار (پاپوئیر) خو تر دې ځایه وړاندې تللی و او لیکلي یې وو، چې د برتانوي هند حکومت دېرش زره عسکر تهیه کړي دي او په نږدې ورځو کې به پر مرکزي آسیا حمله وکړي.
بلاخره د ۱۸۷۸کال د اکتوبر په ۶ نېټه د هند د وایسرا لارډ لیټن د پخواني مکتوب په ځواب کې یو مکتوب هند ته ولیږه. امیر په دې مکتوب کې د لارډ لیټن د رالیږل شوي تهدید امیز مکتوب، په زور سره د استازي رالیږل او امیر ته د زوی د مړینې په اړوند د تسلۍ نه ورکولو ته اشاره کړې وه او په پای کې یې لیکلي وو چې موږ نه غواړو له چا سره دښمني وکړو، خو که کوم هیواد بې له دلیله زموږ له دولت سره دښمني کوي، هغه وخت زموږ تقدیر د څښتن تعالی په لاس کې دی او څه چې د هغه اراده وي هغه ته تسلم یو. (۲۸ :۱۱۴- ۱۱۵)

لارډ لیټن چې د فارورډ پالیسۍ جدي طرفدار و او د همدې موخې لپاره د لندن د کابینې له خوا د هند پر حکومت وګمارل شو، نوموړی ددې حالت په انتظار و او ددې حالت د رامنځ ته کولو لپاره یې په خپله زمینه مساعده کړه، له دې امله له سرحد څخه د استازي واپس کېدل او د امیر وروستي لیک ورته ډېره ښه بهانه شوه او پر افغانستان باندې یې د تیري کولو لپاره ښه چانس تر لاسه کړه.

نوموړي د موجوده حالاتو د وضاحت په خاطر مرکز لندن ته په خپل تلګراف کې داسې وویل: ''زما په اند د هر ډول معذرت غوښتنې غوښتنه بې فایدې ده او موږ هر ځل له نوي توهین سره مواجه کوي او راغلی فرصت مو له لاسه وځي. زه وړاندیز کوم چې په فوري ډول د جګړې اعلان ورکړل شي او ژر تر ژره دې نظامي ځواکونه افغانستان ته ولیږل شي. ''

د همدغه کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه مرکز لندن د لارډ لیټن په ځواب کې ولیکل چې: '' ګومان نه کوم چې په دې قضیه کې دې داسې لوی ګام په دومره بیړه اوچت شي؛ بلکې لومړی له امیر څخه په نرمو الفاظو غوښتنه وشي، چې تر څو امیر په افغانستان کې انګریز استازی په دایمې توګه ومني او د امیر ځواب ته دې انتظار وکړل شي.''(۱۷: ۳۱۹)

لارډ لیټن د مرکز د هدایت مطابق سم د لاسه لاس په کار شو او په ۱۸۷۸کال د اکتوبر په ۳۱ یې د امیر په نامه اولتیماتم صادر کړ او په دې التیماتم کې یې امیر ته لس ورځې وخت ورکړی و تر څو په دې موده کې د انګریز غوښتنې رد او یا ومنل شي. امیر تر سختو فشارونو لاندې د نوامبر په ۱۹ انګریزانو ته د عثمان خان په لاس د التیماتم نرم ځواب ورکړ؛ خو تر دې وخته انګریزانو خپل تخریبي عملونه د افغانستان په دننه کې سرته رسولي وو، په دې مانا چې دامیر د کورنۍ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سردارانو په مینځ کې نفاق پیداشو او ځینې سرداران لکه ولي محمدخان لاتې، شیرعلي خان، سردار محمدحسن خان او داسې نور یې د افغانستان پر ضد د انګریزانو پلوۍ ته جلب کړل شوي وو، همدا ډول د پوځي افسرانو په منځ کې یې نفاق پیدا کړی و، قاضي قادر چې په دربار کې یې نفوذ درلود او د امیر سیاسي رازونه یې افشا کول، ویې کولای شول چې امیرشیرعلي خان په بهرني سیاست کې کمزوری کړي، ترڅو د افغانستان د نیولو زمینه د انګریزانو لپاره برابره کړي.

انګریزانو ته د امیر د التیماتم ځواب په ټاکلې مودې ونه رسید؛ له دې امله یې د جګړې لپاره تصمیم ونېوه او له درې محاذونو خیبر، بولان او د کرمې له لارې یې په افغانستان دوهم ځل تیری وکړ. (۴۲: ۸۲-۸۲)

امیر یو ځل بیا په عصبي فشارونو اخته شو له دې امله یې سمه پریکړه ونه کړه، پر افغان ملت او ۵۱ زره مسلحو او روزل شویو ځواکونو باندې یې باور ونه کړ او دا ورته ښه ښکاره شوه چې روسیې ته ورشي او هلته د اولسونو د مشرانو په وړاندې د انګریز تیری رسوا کړي، په داسې حال کې چې روسیه حیرانه وه چې څرنګه د شله امیر د ورتګ مخه ونېسي. د ترکستان حکمران جنرال کافمن په ډېرو منافقتونو ډاډ ورکاوه چې انګریز به هیڅکله پر افغانستان یرغل ونه کړي. امیر دا تاریخي مسؤلیت په کامله بې وقوفۍ پر غاړه واخیست، چې له جلال آباد څخه بیا تر کندهار، هراته او کابله پورې یې ټول وسلوال پوځ ته امر صادر کړ چې د انګریز مخه ونه نېسي او تر دوهم امر پورې انتظار وباسي.

امیر په ۱۸۷۸کال د سمبر په ۱۰ یو لوی دربار چې قومي مشران او دیني علما یې په کې راغونډتې وو او هغوی ته یې وویل چې مزار شریف ته ځم او له هغه ځایه سن پترزبورګ ته ځم او هلته به یې له انګریز سره معلومه کړم. خلکو په تعجب او وحشت دا خبرې اوریدې، بیایې یعقوب خان چې اته کاله یې زندان تیر کړی و، په رواني او جسمي کمزورتیا اخته و خپل خلف وټاکه او په دې پسې له خپلې کورنۍ سره مزارشریف ته لاړ.

امیر په ۱۸۷۹م کال کې په مزار کې ناروغ شو. دده پښه کانګرین شوه او ځینې وایي چې مسموم شو او همدلته د فروري په ۲۱ د ۵۶ کلونو په عمر وفات شو او دا داسې حالت و چې انګریزان له درې لارو افغانستان ته داخل شوي وو او د انګریز دوهم تیری ترسره شوی و. (۲۸: ۱۱۶- ۱۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د امیرشیرعلي خان د واکمنۍ په دوهمه دوره کې د افغانستان د نوي سیاسي سیستم د ایجاد لاملونه

د امیرشیرعلي خان دوهم ځل واکمني د افغانستان د معاصر تاریخ یوه مهمه دوره شمېرل کیږي. په دې دوره کې د سیاسي او اداري سیستم نوي عناصر معرفي شول، نوي مؤسسات هیواد ته راغلل او د تمدن د غوړېدا لپاره هڅې پېل شوې. امیرشیرعلي خان د افغانستان د معاصر تاریخ د مترقي پاچاهانو له جملې څخه شمېرل کیږي، چې په خپل وخت کې یې د افغانستان د پرمختګ لپاره څه چې په وس او توان کې درلودل په کار واچول؛ خو له بلې خوا نوموړی په یو لړ داخلي ستونزو او د روس او انګریز د استعماري کړیو په لویه لوبه کې راګیر شو او هغه یې پرېنښود، چې د خپل هیواد د پرمختګ پلانونه په سم ډول عملي کړي، تر هغه چې استعمارګر انګریز د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم ځل لپاره په افغانستان یرغل وکړ او دده دوهمه دوره واکمني یې هم پای ته ورسوله او په دې سره چې د نوي تمدن د غوړیدا کوم پروګرامونه پیل شوي وو او افغانستان یې د پر مختګ په لور روان کړی و، معطل او افغانستان یوه موده بیا هم د نړیوال پرمختګ له کاروان څخه وروسته پاتې شو.

په هر صورت په دې بحث کې به پر هغو عواملو رڼا واچوو، چې امیرشیرعلي خان یې په افغانستان کې د نوي سیاسي سیستم په رامنځ ته کولو او د هغه عصر د غوښتنو په اساس د ځینو اصلاحي پروګرامونو په پلي کولو اړ کړ.

نولسمه میلادي پیړۍ په خپلواکو اسلامې هیوادونو کې د سیاسي او ټولنیزو غورځنګونو پیړۍ وه، چې په مستقیم ډول یې پر افغانستان هم اغیزې خپرې شوې. ډېری دا ډول غورځنګونه د اروپایي استعمار د تیریو او بریدونو په وړاندې د یو غبرګون په توګه رامنځ ته شول او افغانستان هغه هیواد و، چې نه یوازې د ګاونډیو هیوادنو له مداخلو سره مخامخ و بلکې د انګریز او روس د یرغلګرې لوبې په یو مهم ډګر بدل شوی و او هر آن ددې ویره موجوده وه چې د دوی څخه به یو پر افغانستان برید وکړي. ددې تیریو مخنیوی هغه وخت شونی و، چې افغانستان د یوې ځواکمنې او مرکزي ادارې، مجهز، روزل شوی او ځواکمن ملي پوځ درلودونکی وای او هم له اقتصادي اړخه په ځان بسیا هیواد وای. امیرشیرعلي خان همدې اړتیاو ته په پام تصمیم ونیوه چې په هیواد کې یو شمیر نوي اصلاحي پروګرامونه پلي کړي او په ځان یو بسیا هیواد ولري او د بهرنیو او داخلي خطرونو د رامنځ ته کېدو مخنیوی وکړي. (۲۹: ۵۹۲)

همدارنګه د ۱۹م پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې د انګریز ښکیلاک، چې د نوي تمدن او د صنعتي بدلون ننبې ورسره وې پر ټول هندوستان د سند سیند تر غاړو خپور شو او زمونږ د هیواد له ختیځو طبیعي پولو سره ونښت. انګریز لومړی یرغل، چې په ۱۸۳۹کال کې پیل شو او د افغان ملت د پنځه کلونو مقاومت وروسته له ماتې سره مخامخ شو. تر هغه وروسته د هند د ریل پټلۍ دې لور ته راوغځیده. د بمبیي بحري بندرونو هم افغاني سرحدونو ته لاره پرانیسته. د هیواد لویدیځ خواته قاجاري ایران او شمال خواته په تزاري روسیه کې او د افغانستان په ګاونډ کې د تزاري روسیې په استعماري سیمو کې هم د نوي مدنیت بنسټونو او نویو فکرونو وده موندە. دغو ټولو اغیزناکو لاملونو د افغانستان پر خلکو او په ځانګړي ډول د امیرانو او واکمنانو پر ژوندانه، فکر، سیاست او اداره هم اغیز کاوه. ( ۱۰: ۳۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقیقت کې د افغانستان د عصري کولو او پیاوړي کولو لومړنۍ هڅې د امیر دوست محمدخان د دوهمې دورې له پېل څخه پېل شوې وې؛ ځکه دا داسې مهال و، چې په خپله امیر دوست محمدخان د افغان او انګریز د لومړۍ جګړې په وخت کې هم شمالي ګاونډیانو روس او بخارا له نږدې ولیده او هم یې په هند کې د تبعید شپې او ورځې تیرې کړې او نوموړي ډېر هغه څه په خپلو سترګو ولیدل، چې د یوه هیواد د پرمختګ سبب ګرځي او هم د دوی ټولنیزې او اقتصادي اوضاع سره اشنا شو. امیر دوست محمدخان د خپلې دوهمې دورې په اوږدو کې یوازې په دې بریالي شو، چې په هیواد کې خپل سرې واکمنۍ پای ته ورسوي او یوه واحده مرکزي اداره رامنځ ته کړي او هم یې د اردو د عصري کولو په برخه کې هڅې وکړې؛ خو بیا هم کورنۍ شخړې موجودې وې او ونه توانیدو، چې په علمي او کلتوري برخه کې اساسي ګامونه پورته کړي.

په همدې ډول د امیردوست محمدخان د مړینې وروسته، د امیرشیرعلي خان لومړۍ دوره حکومت هم پر کورنیو جګړو او رقابتونو پېل او پای ته ورسید او په هغه وخت کې و نه توانیده،چې د هیواد د آبادۍ لپاره کوم مهم پروګرام پلی کړي؛ خو څه وخت چې امیرشیرعلي خان د دوهم ځل لپاره په خپلو داخلي رقیبانو ( محمد اعظم خان او سردار عبدالرحمان خان ) بریالي شو او هغوی یې د هیواد پرېښودلو ته اړ کړل، په همدې ډول یې هغه کسان په دولتي مقامونو وګمارل، چې ده پرې اعتماد کولای شوای او بې باوره کسان یې له واکه ګوښه کړل، په دې سره په هیواد کې نسبي امنیت رامنځ ته شو او امیر هم ددې فرصت پیدا کړ چې د افغانستان دولتي او حکومتي کارونه د همغه وخت د غوښتنو مطابق رامنځ ته او د بدلونونو په لور هڅې پېل کړي.

کله چې انګریزانو امیرشیرعلي خان په خپلو رقیبانو بریالی ولید؛ نو د لومړۍ دورې برعکس یې د هغه حکومت په رسیمت وپیژانده او یو مسلمان هندي یې د هغه دربار ته د استازي په توګه راولیږه او د پخوانیو تړونونو په اساس یې له امیرشیرعلي خان سره د پیسو او وسلو مرسته هم وکړه. امیرشیرعلي خان هم د ګاونډیانو په وړاندې د مسالمت امیز سیاست پلوي کوله، یوازینۍ هیله یې داوه چې د هیواد له ځمکني تمامیت څخه ساتنه وکړي او د نورو ځمکو د نیولو اراده یې نه درلودله. د نوموړي همدا هیله وه چې له ګاونډیانو او په ځانګړي ډول له انګریزانو سره د ښه ګاونډیتوب اړیکو په رامنځ ته کولو سره په افغانستان کې اصلاحي پروګرامونه پلي کړي. ده په لومړیو کې له همدې اړیکو او سیاسي تګلارې ګټه پورته کړه او د خپلو طرحه کړیو پروګرامونو او پلانونو په پلي کولو یې پېل وکړ؛ خو انګریزانو په خپل ګاونډ کې یو قوي او پرمختللی

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان نه شو لیدلای، له همدې امله په اخر کې د امیر او انګریزانو ترمنځ اړیکې ترینګلې او انګریزانو د همدې حالت رامنځ ته کولو لپاره ډول ډول بهانې لټولې، تر هغه چې انګریزان خپلې موخې ته ورسیدل او د افغانستان دا مترقي واکـــمن یې پرېښود چـــې خپل اصلاحي پروګرامونه په بشپړ ډول عملي کړي. (۱۳: ۲۴۹)

د ریفورمونو او اصلاحي پروګرامونو په رامنځ ته کولو کې په خپله د امیرشیرعلي خان فهم او وسعت نظري اغیز درلوده او وړاندې مو هم یادونه وکړه چې امیرشیرعلي خان په خپله یو مترقي او روڼ اندی شخص و. کوم مهال چې امیر ځوان و او د پلار سره یې په برتانوي هند کې د تبعید شپې او ورځې تیرولې [ د افغان او انګریز لومړی جګړې پر مهال]؛ نو د انګریزانو عصري اداره او د هغوی صنعتي موسسات یې په خپله له نږدې ولېدل، د لویدیځ تمدن تر تاثیر لاندې راغی او په دې علماً قانع شو، چې که د ختیځ هره ټولنه وغواړي آزاد او ابرومندانه ژوند وکړي او د پردیو له استعمار څخه خلاصون پیدا کړي؛ نو ورته په کار دی چې د عصریت او تمدن چوکاټ ته ځان واچوي، اداري نظام باید پر ټولنه اصولي حاکمیت ولري، فرهنګ باید د خلکو ذهنونه روښانه کړي، اردو باید د عصر له اصولو سره برابره وروزل شي؛ له دې امله دې ډول فکرونو اړ کړ چې په ګران هیواد افغانستان کې د پرمختللو هیوادونو په څېر پروګرامونه پلي کړي او په همدې مسیر مخ ته ولاړ شي.

د امیرشیرعلي خان په اصلاحي پروګرامونو او ریفورمونو کې د ختیځ نابغه علامه سیدجمال الدین افغان له ونډې او رول څخه هیڅ کله سترګې نه شو پټولی او د یوه څرګند لامل په توګه باید ورڅخه یادونه وشي. که موږ د افغانستان په معاصر تاریخ کې د امیرشیرعلي خان پر دورې او واکمنۍ مطالعه کوو، خامخا به ددغه لوی افغاني عالم له نوم سره مخامخ کیږو. سیدجمال الدین افغان د کونړ د ساداتو د کورنۍ یو هوښیار او عالم شخص و. نوموړی د امیر دوست محمد خان په دربار کې بلد و او دی یې د خپل زوی محمداعظم خان د استاد په توګه ټاکلی و. د امیر دوست محمدخان له مړینې څخه وروسته چې کومې ورانې او ویجاړې رامنځ ته شوې، هغه لیدې او دا ډول حالت ورته له زغم څخه وتلی و او تل ورسره دا هیله وه چې په هیواد کې یې یوه ځواکمنه مرکزي اداره رامنځ ته او د نورو هیوادونو په څېر دلته هم د پرمختګ او سمون پروګرامونه پلي شي؛ خو کورنیو جګړو د هغه دغه هیله تکنۍ کړې وه. (۲۸: ۸۹ـ۹۹)

دلته غواړم چې د سیدجمال الدین افغان پر ژوند او افکارو رڼا واچوم :

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیدجمال الدین افغان د په ۱۸۳۸م کال کې د کونړ په اسعدآباد کې نړۍ ته سترکې پرانیستلې وې او په ۱۸۵۷م کال کې د امیر دوست محمدخان په دربار کې پاتې شو او د امیر دوست محمدخان تر مړینې وروسته د امیرشیرعلي خان، امیر محمد افضل خان او امیر محمداعظم خان په دربارونو کې هم پاتې شو. نوموړي د تمدن د ټولو پرمختګونو نه په استفادې سره د اسلامي نظام د ټینګولو نوې تیوري اسلامي نړۍ ته وړاندې کړه، ددې تیورۍ د پلي کولو لپاره یې تر هر ځای وړاندې خپل ګران هیواد افغانستان ټاکلی و، په همدې لړ کې یې د ریفورمونو او اصلاحاتو یو پروګرام جوړ کړ او غوښتل یې چې په افغانستان کې یې پلی کړي، دا چې هغه وخت هیواد د داخلي او کورنیو جګړو په اور کې سوځیده؛ نو امیرانو او واکمنانو ددې شخص له افکارو او پوهې څخه ونه شوای کولای چې ګټه واخلي. خو د امیرشیرعلي خان په دوهم ځل واکمنۍ کې ددې شرایط برابر شول، چې سیدجمال الدین خپل نظریات پلي کړي او امیرشیرعلي خان هم دا توانایي درلودله، چې د هغه له نظریاتو او افکارو څخه ګټه پورته کړي. سیدجمال الدین افغان په نولس کلنۍ کې دربار ته راغی او پنځلس کاله په کې پاتې شو، په داسې حال کې چې له ۱۸۵۵م څخه تر ۱۸۵۷م کلونو کې یې یو ځل هند، عراق، شام او حجاز ته هم سفرونه وکړل او نوې فلسفه او اروپایي علوم یې زده کړل. د افغانستان په دربار کې د هغه پاتې کیدل له هغه وخت سره سمون خوري، چې واکمنان په داخلي رقابتونو لګیا وو او ددې موقع یې پیدا نه کړه، چې دده نظریاتو ته په سم ډول پاملرنه وکړي. څه وخت چې امیرشیرعلي خان د پنځو کلونو هڅو وروسته دوهم ځل واک ته ورسید او د هیواد امنیت لږ څه ډاډمن شو، وتوانیده چې د اصلاحاتو د پلي کولو موقع تر لاسه کړي؛ خو سیدجمال الدین افغان دغه ځل بیا هم ونه شوای کولای، چې د امیر شیرعلي خان په دربار کې د ډیر وخت لپاره پاتې شي او امیر ته په مشورو ورکولو سره د اصلاحاتو په پرو ګرامونو کې عملي ونډه ولري؛ ځکه د یو شمیر ځان غوښتونکو له خوا لکه محمدرفیق خان لودي او نورو په لاس وهنو د امیر او سیدجمال الدین افغان تر منځ اړیکې ګډې وډې شوې. [ د امیر او سید تر منځ د اړیکو په ګډوډیدو کې د انګریزانو له لاسو وهنو هم انکار نه شي کیدای؛ ځکه چې انګریزانو نه غوښتل چې داسې یو عالم او په سیاست پوه شخص د امیر په څنګ کې پاتې شي.]
سیدجمال الدین افغان د امیردوست محمدخان پر مهال د سردار محمداعظم خان ښوونکی و، چې وروسته همدغه شخص د امیرشیرعلي خان لوی سیال وګرځید کله چې محمداعظم خان په ۱۸۶۸م کال کې د وروستي ځل لپاره د امیرشیرعلي خان په وړاندې ماتې وکړه او ایران ته ولاړ؛ نو امیرشیرعلي خان داسې وانګیرله، چې سیدجمال الدین افغان به د محمداعظم خان د پلویانو پناه ځای وګرځي حال دا چې سیدجمال الدین افغان تل د یوه مرکزي دولت غوښتونکی و او څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت چې امیر دوست محمدخان په هرات کې وفات شو او پرځای یې امیرشیرعلي خان کېناست، سیدجمال الدین افغان له محمداعظم خان څخه په کلکه غوښتنه وکړه، چې له خپل کشر ورور امیرشیرعلي خان سره بیعت وکړي.

په هر حال سیدجمال الدین افغان پوه شو چې امیر دده پاتې کیدل په افغانستان کې نه خوښوي په دې ډول یې د امیر پریکړې ته غاړه کیښوده او دا یې هم ومنل چې په ایران کې به د امیر له رقیب محمداعظم خان سره لیدنه نه کوي. سیدجمال الدین افغان د بالاحصار په ارګ کې له امیر سره خدای پاماني وکړه او په همغه ورځ یې خپل ټول اصلاحي پروګرامونه په یو ترتیب کړل شوي لیست کې امیر ته وړاندې کړل امیر هم په خوښۍ سره د هغه لیست ومانه او په هیواد کې یې د هغه د تطبیق ژمنه ورسره وکړه.




سیدجمال الدین له هغه وروسته ایران، مصر، روسیې، عراق، برتانیې، ترکیې، هندوستان، فرانسې او جرمني ته بیل بیل سفرونه وکړل او راز راز فعالیتونه یې تر سره کړل او خپل افکار یې د تدریس، کنفرانسونو، مقالو، رسالو او جریدو له لارې تر خلکو رسول. ځینې وختونه به یې د ګوندونو او مبارزو په لړ کې د خلکو لارښوونه کوله. هغه د اروپا له علمي څېرو او نورو سره اړیکه درلودله او د ختیځ په ځانګړي ډول د اسلامي نړۍ په ګټه یې فعالیتونه کول. سیدجمال الدین افغان اسلامي هیوادونو لپاره د هغوی د شته شرایطو په نظر کې نیولو سره ځانګړي نظرونه درلودل د بیلګې په توګه د افغانستان لپاره یې د یوه مرکزي حکومت د شتون پلوي کوله؛ ځکه افغانستان تر ډېرو وختونو پورې د ملوک الطوایفي سیستم او کورنیو جګړو په اور کې سوزیدلی و. په ایران او ترکیه کې، چې هلته مرکزي دولتونو شتون درلود، له داخلي امنیت او ثبات څخه برخمن و، د دیموکراتیکو رژیمونو د رامنځ ته کېدو غوښتونکی و او همدا رنګه د مصر او هند په څېر هیوادونه چې استعمار شوي وو، هلته یې د ملي ښکیلاک ضد مبارزو د پیل کولو غوښتنه کوله. نوموړي په افریقایي او آسیاسي اسلامي هیوادونو کې اروپا د تیري کوونکو په وړاندې د ځواکونو د تمرکز لپاره کار وکړ او د پان اسلامیزم شعارونه یې ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيدجمال الدين افغان د ختيځ لوی عالم او فيليسوف و ، يو فاضل ليکوال، يو اديب، يوه سياسي وتلې څېره، يو انقلابي شخص او يو پاک زړور وينا کوونکی او تکړه خطيب و. نوموړي د اروپا د علمي او سياسي مرکزونو ژوره پاملرنه ځانته راواړوله. هغه له هرې مستعمرې او هر استبدادي حکومت څخه وشړل شو او مستبدو او ظالمو پاچاهانو ملا به ددغه سړي له ويرې ريږديده، حال دا چې نوموړي پرته له کتاب، قلم او يوې چپنې او پټکي څخه نور څه نه درلودل؛ خو نوموړي په هر ځای کې شاګردان وروزل، د بيلګې په توګه د ايران مستبد پاچا ناصرالدين د هغه د يوه شاګرد مرزارضا کرماني په لاس ووژل شو. په ايران کې د مشروطه غوښتنې تخم د همدغه سيدجمال الدين او د هغه د هم فکر مرزا اقاخان کرماني له خوا وکرل شو.

همدارنګه سيد جمالدين افغان په هند، مصر او ترکيه کې يو شمېر نوي سياسي غورځنګونه جوړ کړل بالاخره دغه ستر افغان شخصيت د ۱۸۹۶م کال د مارچ په نهمه د استامبول په ښار کې ناروغ او د يوه شکمن طبيب په درملنه د ۵۸ کلونو په عمر وفات شو او د ترکيې د ګڼ شمېر خلکو په ګڼه ګونه کې په ډېر عزت د شيخانو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو، چې د خلکو د زياتې ګڼې ګونې له امله ۱۸ تنه تر پښو لاندې شول. په ۱۹۴۴م کال کې د نوموړي هډوکي افغانستان ته راوړل شول او د کابل د پوهنتون په انګړ کې خاورو ته وسپارل شول. (۲۹: ۵۹۲- ۵۹۳)

په لنډ ډول به ووايو چې د اميرشيرعلي خان په اصلاحاتو کې د سيدجمال الدين افغان افکارو او نظرياتو ډېره ونډه درلودله؛ خو دا ونډه عملي نه وه بلکې علمي وه. اميرشيرعلي خان د ريفورمونو طرحې او پلانونه په پراګنده ډول په ذهن کې درلودل؛ خو سيدجمال الدين افغان دده افکار او طرحې د کاغذ پرمخ راوړې وې، چې په دې سره د اميرشيرعلی خان ستونزه حل شوه او په ډېرې اسانۍ سره يې وکولای شول چې اصلاحات پيل کړي، که چېرې اميرشيرعلي خان نوموړی په هيواد کې پرېښودلی وای، شونې وه چې له هغو بهرنيو او داخلي ستونزو څخه به يې تر يوه بريده خلاصون موندلی وای، کومې چې د واک په اوږدو او په ځانګړي ډول د واک په اخرو کې ورسره مخامخ شو.

د سيدجمال الدين افغان څخه وروسته د اميرشيرعلي خان د اصلاحي پروګرامونو په پلي کولو کې د هغه د صدراعظم سيدنورمحمدشاه له رول څخه هم بايد چې سترګې پټې نه شي. سيدنورمحمدشاه چې اوس په کابل کې د هغه په نامه يوه مېنه هم ودانه شوې، د اميرشېرعلي خان د زمانې يو ستر شخصيت او سياسي سړی بلل کېږي، دی اصلاً د کندهار د پښين دی، چې د امير شېرعلي خان د سلطنت په دويمه دوره کې مشهور شو، داسې چې پرله

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې يې د افغانستان په سياسي او بهرنيو مسئلو کې د اميرشېرعلي خان د وزير او فوق العاده استازي په توګه برخه اخيسته او تل يې د خپل هېواد ولسي ګټې او ملي نواميس په پام کې درلودل. چې په دې توګه د وطن د نورو صادقو خدمتګارانو په ډله کې درېدای شي.
http://www.benawa.com/fullstory.php?id=3212#ixzz365pTWtth

بايد يادونه وکړم چې د سيدنورمحمدشاه د ژوند او د هغه د اندونو په اړوند تر اوسه کومه ځانګړې څېړنه نه ده ترسره شوي؛ خو دا چې په سياسي ډګر کې د افغانستان د سياسي مسئلو په سر يې له انګريزانو سره مخامخ مذاکرې کړي دي او انګريزانو هم په خپلو ليکنو کې د هغه سياسي زراکت ته اشاره کړې ده، نو ويلای شو چې د اميرشيرعلي خان په اصلاحي پروګرامونو کې دی هم ونډه لري.

## اداره او سياسي تشکيلات

مخکې له دې چې د اميرشيرعلي خان اداري ريفورمونو باندې بحث وکړم، دلته اړينه بولم، چې د ادارې ارزښت او د هغې تاريخي شاليد ته هم لنډه کتنه ولرم.

پوهېږو چې انسان يو ټولنيز موجود دی او داد ده فطري ځانګړتيا ده، چې په ټولنه کې ژوند کوي او ټولنيزې اړيکې ساتي. انسان يو شمېر انفرادي اړ تياوې په انفرادي توګه هم ترسره کوي؛ خو ګڼ شمېر نورې چارې په ټولنيزه توګه ترسره کوي، کله چې انسان ونه توانيده چې يو شمېر کارونه په يوازې توګه ترسره کړي؛ نو اړ شو چې د يوې ټولنيزې موسسې بنسټ کيږدي او اړوند کارونه د همدغې موسسې په واسطه تر سره کړي .

په دې توګه انسان اپتدايي او لومړمړنۍ اداره جوړه کړه او د خپلو همنوعانو سره يې يو ځای د کار وېش رامنځ ته کړ. د انساني ژوند په تاريخ کې هغې ابتدايي ادارې هم ډېر مهم رول لوبولی دی. وګړو ځانته رهبر غوره کړ، رهبر هم ټولنې ته پلان جوړ کړ، دندې يې ووېشلې، منازعات يې حل کړل او پر هغوی يې نظارت هم وکړ.

انسانانو د اداري نظام په مرسته يو بل سره تفاهم وکړ او د وخت په تيريدو سره يې د همدغې باالمقابل مفاهمې په واسطه اداري نظام هم بشپړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حقیقت کې اداره او سیاسي نظام ډېر لرغونی تاریخ لري او د انساني ژوند په پېل کېدو سره سم رامنځ ته شوی دی او بیا د لومړنیو لرغونو تمدنونو رامنځ ته کیدل، د کمال لوړو درجو ته د هغوي رسیدل، د کرنې، مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ رامنځ ته کول، د پراخو امپراتوریو رامنځ ته کول او د اړدو کلونو لپاره په پراخو پرګنو واکمني چلول، د یوه اداري سازمان د شتون څرګندونه کوي او دوی د یوې ادارې په شتون کې په دې وتوانیدل، چې د ژوند کولو او په ژوند کې د پرمختګ کولو لومړني بنسټونه رامنځ ته کړي. (۱۶: ۱)

د تاریخ په اوږدو کې انساني ټولنو د اداره کولو بیلابیل حکومتي سیاسي نظامونه تجربه کړي دي، د بیلګې په توګه د غلامۍ سیستم، د ځمکوالۍ سیستم، د پانګوالۍ او سرمایه دارۍ سیستم، چې په پورته ټولو سیستمونو کې سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي او اداري اړیکو بدلون موندلی او همدارنګه د سیاسي نظامونو په برخه کې مطلقه شاهي، مشروطه شاهي او جمهوري او دا ډول نور نظامونه رامنځ ته شوي دي. دا هر سیستم په خپل دوران کې د نوي او عصري سیستم په توګه معرفي شوي دي. بې له شکه چې پورتنیو سیتسمونو به منفي اړخونه هم درلودل؛ خو په ټوله کې د ټولنیز نظم په راوستلو او د اقتصادي سیستم په پیاوړتیا کې ترې ګټې اخیستل شوي دي.

داسې ډېر نظامونه تیر شوي دي چې خپل اداري طرز او اصول یې په مستبدانه توګه رامنځ ته کړي دي، چې په هغوی کې د ځانګړو اشخاصو او طبقو د ځواکمنتیا لپاره هڅې کیدې او د عامو وګړو حقوق هلته خوندي نه وو. لوړو طبقو خپل ټول اقتصادي او نورې اړتیاوې له همدغو عامو وګړو څخه پوره کولې، درانه ملاماتوونکي مالیات یې پرې ایښودل، په کم محصول سره به یې په ځمکو کې کار کولو ته اړ کول، د غلام په توګه به یې له هغوی څخه ګټه اخیستله او هغوی ته یې په هیڅ ډول سیاسي او ټولنیزو کارونو کې ونډه نه ورکوله.

مګر سربیره په دې په تاریخ کې دداسې نظامونو بیلګې هم ډېرې شته، چې خپل اداري اصول یې د عدل او مساواتو په اساس رامنځ ته کول او خلکو ته په ټولو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو فعالیتونو کې ونډه ورکړل شوې ده، لکه د لرغوني یونان او روم او په تیره بیا د اسلام په صدر کې د اسلام ستر پیغمبر حضرت نبي اکرم (ص) او د هغه د څلورو خلفاو اداري طرز یې لویې بیلګې دي.

د منځنیو پیړیو په دوره کې د اروپایي پاچاهانو واک محدود و او سیمه ییز فیوډالان په خپلو سیمو کې تر پاچا ډېر ځواکمن و. سیمه ییزو حاکمانو په خپله خوښه کولای شول، چې ترلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې ټولنې لپاره د خپلې خوښې اداري اصول او مقررات وضع کړي؛ خو له صليبي جګړو وروسته دغه حالت په تدريج سره د بدلون په لور روان شو، د منځنيو پيړيو دوره د زوال په لور روانه وه، د علمي او جغرافيايي څيړنو په اساس په اروپايي ټولنو کې نوي تغيرات رامنځ ته شول او د رنسانس غورځنګ هم ظهور وکړ. له بلې خوا پاچاهان قوي شول او د نوو ناريه وسلو په زور يې ځواکمن خانان او سيمه ييز فيوډالان وځپل او خپل اطاعت ته يې اړ کړل او په دې سره پاچاهان ځواکمن شول او د مرکزي دولتونو اساس يې کيښود. دا د اروپا د نويو پيړيو دوره وه چې پېل شوه. پادشاهانو د کليسا په ملتيا مستبد دولتونه رامنځ ته کړل او د ډېرو اوږدو کلونو لپاره د ادارې همدغه طرز ته ادامه ورکړل شوه. دا چې په دغه دوره کې لويو اروپايي دولتونو د آسيا، افريقا او امريکا په وچو کې لويې مستعمرې رامنځ ته کړې؛ نو د ادارې همغه طرز دغو وچو ته هم ورسيد.

ډېری دا ډول حکومتونه مورثي و او واک به يوازې د يوې کورنۍ او يا هم د څو ځواکمنو کورنيو تر منځ وېشل کيده. په ۱۷۷۵م کال کې د امريکا انقلاب او ورپسې په ۱۷۸۹م کال کې د فرانسې د لوی انقلاب په رامنځ ته کېدو په اروپا او نړۍ کې د مستبدو ادارو لمن هم په ټوليدو شوه، په ځينو هيوادونو کې په مطلق ډول جمهوري نظامونه او په ځينو نورو هيوادونو کې مشروطه شاهي حکومتونه رامنځ ته شول.

افغانستان هم د نړۍ د ډېرو نورو هيوادونو په څېر مختلف سياسي نظامونه تجربه کړي دي. په دې هيواد کې هم لويې او پراخې امپراتورۍ رامنځ ته شوي دي، چې د ادارې ځانګړي اصول يې درلودل. د نولسمې ميلادي پيړۍ تر پايه پورې په افغانستان کې سياسي نظامونه او حکومتونه مورثي وو او په مطلقه ډول يې کارونه پرمخ تلل، خو په شلمه ميلادي پيړۍ کې مشروطه او جمهوري نظامونه رامنځ ته شول.

د افغانستان د معاصر تاريخ د پېل کېدو څخه وړاندې په هيواد کې کومه مرکزي اداره موجوده نه وه؛ بلکې افغانستان د تيموري دولت له ړنګيدو وروسته د ګاونډيو واکمنيو ترمنځ ووېشل شو؛ خو بيا هم د يوې لنډې مودې لپاره د کندهار هوتکي او د هرات ابدالي دولتونه رامنځ ته شول، چې د هغوی د ادارې طرز په همغه پخواني شکل پرمخ وړل کيدو.

خو څه وخت چې په ۱۷۴۷م کال کې د نوي افغانستان بنسټګر احمدشاه بابا واک ته ورسيد؛ نو په يوه نوي او تازه شکل يې اداره رامنځ ته کړه. د احمدشاه بابا د ادارې طرز په اړه مؤرخ عطايي داسې ليکي: «احمدشاه بابا په دې پوهيده، چې په هره اندازه يو متمرکز قوي دولت قايم کړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغه اندازه به د فتوحاتو د هضم توان زيات وي، ده د نادر افشار مقتدره اداره ليدلې وه او د ګورګاني هند د ادارې مطالعه يې هم په خپله وکړه او هم يې خلک مؤظف کړل، چې د افغاني امپراتورۍ لپاره يوه منظمه نقشه طرح او تطبيق کړي. احمدشاه بابا کاملاً نوی نظام قايم کړ، چې د ايران صفوي او د هند مغولي ادارو او تشکيلاتو له پلوه يو ترکيب و؛ خو په خپله د افغاني ټولنې د عرف عناصر هم ورسره ګډ وو».

د احمدشاه بابا اداري نظام په دوو برخو وېشل کيده، چې هغه ملکي او نظامي برخې وې. ملکې برخه يې بيا هم په دوو برخو وېشل شوې وه، چې هغه امنيت او عامه خدمات وو. ددې ټولو اداري او نظامي څانګو په رأس کې صدراعظم ولاړ و او هغه هم د پاچا د مشاور حيثيت درلود، د حکم اصلي مصدر پاچا و او صدراعظم يې ملکي او نظامي چارې پرمخ بيولې. تر پاچا را لاندې ډېر ستر مقام هغه شورا وه، چې د قبيلوي خانانو، سترو نظامي قوماندانانو او روحاني مشرانو څخه ترکيب شوې وه. ددې شورا غړو په شير سرخ جرګه کې هم ګډون درلود او احمدشاه بابا خپلې ټولې چارې د دوی د نظر سره سمې ترسره کولې. (۲۸: ۳۲-۳۳)

احمدشاه بابا د دربار مصارف کم کړل، د پوځيانو او د دولت د کارکوونکو معاشات يې په خپل وخت اجرا کول، مالي دفترونه يې خورا ښه منظم کړل، په دولتي تشکيلاتو کې يې وزارت رامنځ ته کړ چې د اوس وخت د صدراعظم له کچې سره برابر دی او په ولايتونو کې يې صوبه داران رامنځ ته کړل؛ همدارنګه ديوان اعلی (د ماليې وزارت)، خزانه داري، دفتر ضبط بيګي (امنيه او کوټوالي)، ضبط او احوالاتو دفتر (استخبارات)، ديوان انشاء (دارالانشاء)، قاضي القضات يا لوی قاضي، کلانتر چې امنيتي چارې يې ترسره کولې او دا ډول نورې اداري يې رامنځ ته کړې.
http://www.esalat.org

په دولتي چوکاټ کې يو بل مهم اورګان قضايي قوه وه، چې دا قوه هم د هغه وخت د معاصرو دولتونو په څېر رامنځ ته شوه. د احمدشاه بابا د سلطنت پر مهال د مرکز او ولاياتو قاضيان د پاچا له خوا د درباري امام په واسطه معرفي کيدل. د پلازمينې قاضي ته قاضي القضات ويل کيدل. ملا ادريس چې قاضي القضات و، اته (۸) مرستيالان او محررين يې درلودل. قاضي القضات د عادي دندو سربيره د پوليسو پر مامورينو هم نظارت درلود چې د قانون او نظم په ساتلو مؤظف وو. د امپراتورۍ په ټول قلمرو کې ټيټ پوړي قاضيان په دندو ګمارل شوي وو. په ولاياتو او محلاتو کې د قاضيانو مرستيالانو دندې ترسره کولې. په پلازمېنه او ولايتونو کې شرعي محکمې موجودې وې او د هيواد د قضايي قوې په توګه يې کارونه پرمخ وړل. د احمدشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابا د ټاکلو پر مهال پریکړه وشوه چې د ټول دولت لپاره دې، د قوانینو یوه واحده مجموعه ترتیب او د عرف پر ځای دې د قومونو په منځ کې د اجرا حالت ته واچول شي. د قوانینو دغه مجموعه د (فتاوای احمدشاهي) په نوم په پښتو ژبه د مولوي عبدالله کندهاري له خوا ترتیب او تهیه شوه او په ۱۳۲۲ق کال کې چاپ شوه.

قاضیانو د اسلامي شریعت مطابق عدالت تطبیق کاوه، په کلیو او باندو کې د ثابتو جرمونو فیصلې به د کلیو د سپین ږیرو له خوا کیدلې او هغه دوسیې چې جرمونه یې ثابت نه وو، قاضیانو ته سپارل کیدې. مجازات به د قاضي له خوا ټاکل کیدل او د محتسب له خوا به پلي کیدل.

یو بل قاضي د (قاضي خانه) په نوم ماموریت کاوه، چې د (داروغه بازار) په نوم هم یادیده، ددې قاضي دنده په بازار کې د نرخونو او اوزانو کنترول و. په همدې ډول د احمدشاه بابا په وخت کې نظامي محکمې هم موجودې وې او مسؤل شخص یې د (قاضي عسکر) په نوم یادیده او د نظامي ډسپلین د لا استحکام په موخه یې دنده ترسره کوله. (۱۲: ۳۷-۳۸)

په ۱۷۵۷م کال کې وروسته له دې چې احمدشاه بابا یوه لویه امپراتوري جوړه کړه او افغاني اصلي خاورې یې له خپلو پولو سره یو ځای کړې؛ نو دا لوی قملمرو یې د ښه تنظیم په موخه په ولایتونو او اعلی حکومتونو وویشه. ولایتونو پراخه ساحه احتوا کوله او د اعلی حکومتونو په پرتله یې اهمیت درلود. د اداري د وېش له مخې یې خپل قلمرو په لاندې ۸ ولایتونو او ۱۵ اعلی حکومتونو وویشه:

الف - ولایتونه:

۱- د کندهار ولایت ۲. د کابل ولایت ۳. د خراسان ولایت

۴. د هرات ولایت ۵. د مزارشریف ولایت ۶. د بدخشان ولایت

۷. د پنجاب ولایت ۸. د کشمیر ولایت

ب – اعلی حکومتونه:

۱- د فراه اعلی حکومت ۲. د میمنې اعلی حکومت ۳. د بلوچستان اعلی حکومت

۴. د لغمان اعلی حکومت ۵. د پیښور اعلی حکومت ۶. د غزني اعلی حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷.د ديره اسماعيل خان اعلی حکومت ۸.د ديره غازي خان اعلی حکومت

۹.د شکارپور اعلی حکومت ۱۰.د سیوی Siwi اعلی حکومت ۱۱.د سند اعلی حکومت

۱۲.د حجه اعلی حکومت ۱۳.د لیه Leih اعلی حکومت ۱۴.د ملتان اعلی حکومت

۱۵.د سرهند اعلی حکومت

په دې سربېره هر ولايت او اعلی حکومت په محلونو او ولسواليو او هره محله يې په کليو وېشلې وه. د ولايتونو او اعلی حکومتونو حکمرانان او يا د سيمې ولسوالان او نظامي قوماندانان د شاهي فرمان په واسطه ټاکل کيدل او همدا ډول د سيمو مامورين د وزيرانو په واسطه د پادشاه د اوامرو په اثر ټاکل کيدل.

احمدشاه بابا ددې سياسي او اداري سيستم په اساس د سياسي يووالي کلک بنسټونه کيښودل او د افغانستان د خلکو ترمنځ يې مساوي حقوق رامنځ ته کړل؛ خو د احمدشاه بابا تر مړينې وروسته د هغه ځای ناستو ونه شوای کولای چې د دولت د اداري سازمان په عمومي بڼه کې تغييرات راولي او يا هم د احمدشاهي امپراتورۍ قلمرو ته پراختيا ورکړي؛ ځکه د ورونو ترمنځ د قدرت په سر خپل منځي جګړو او وروسته د دوو کورنيو سدوزيانو او بارکزيانو ترمنځ جګړو له امله د انګريز او تزاري روسيې د وړاندې تګ سياست ته لاره هواره کړه، چې په پايله کې د هيواد شمالي ، ختيځي او جنوبي سيمې له احمدشاهي قلمرو څخه جدا کړل شوې، سمندر ته لاره بنده شوه او هيواد مو په وچه پورې محدود شو؛ خو کله چې اميرشيرعلي خان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسيد ، د لومړي ځل لپاره يې د عصري اداري تشکيلاتو بنسټونه کيښودل. دده لومړۍ هڅه داوه چې يوه ځواکمنه مرکزي اداره رامنځ ته کړي او فيوډالان کمزوري کړي. د همدې کار په موخه يې افغانستان د اداري تشکيلاتو له مخې په پنځو لاندې ولايتونو ووېشه:

۱.د کابل ولايت ۲.د کندهار ولايت ۳.د افغاني ترکستان ولايت

۴.د هرات ولايت ۵.د فراه ولايت (۵: ۱۰۶- ۱۰۸)

له دې پرته امير ډېر منظم پلان درلود، چې د ولايتونو تشکيلات هم په يوه منظم چوکاټ کې واچوي؛ خو د وروسته پاتې ټولنې د ستونزو هوارول ساده کار نه دی او ډېر کارونه معطل پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرشیرعلي خان په ۱۸۷۴م کال کې اداري تشکیلاتو او د دولت جوړښت ته پاملرنه وکړه او د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل و، چې په عصري پرنسیپونو ولاړه یوه کابینه یې جوړه کړه. ددې کابینې صدراعظم او وزیران پیژندل شوي، د ښه نامه خاوندان او تر ډېره بریده باسواده او د کار په سطح کې هم پوهیدلي خلک وو.

امیر د خپلې کورنۍ کوم غړی یا د سردارانو څخه یو څوک هم په دغه کابینه کې داخل نه کړ او دده د لومړني ریفورم جوهر هم همدغه ټکی و.(۲۸: ۹۹)

همدا ډول ددې کابینې د مقامونو لپاره یې د پښتو نومونه او القاب غوره کړل. په دراني امپراتورۍ او له هغې وړاندې په افغاني حکومتونو کې د دولتي مقامونو نومونه او القاب د افغانستان د لرغونو اصطلاحاتو له مخې، چې له عربي او ترکي کلماتو څخه ترکیب شوي وو، رواج درلود او همداسې یې دوام درلود لکه: عمدة الامرا، اشرف الوزرا، وزیر، مستوفي، منشي او په دې ډول ځینې ترکي کلمات لکه: دیوان بیګي، ضبط بیګي، قراول بیګي، عرض بیکي، ایشک اقاسي، شاه اکاسي، یساول باشي، اردو باشي، قافله باشي او نور....

امیر شیرعلي خان دا نومونه پښتو ته واړول او په ۱۲۸۹هـ ق کال کې یې د عبدالله جان د ولیعهدۍ د جشن په مراسمو کې دا نومونه په رسمي ډول اعلان کړل او دوه میاشتې وروسته یې د شمس النهار په جریده کې د جشن د خبرتیا تر څنګ دا اصطلاحات هم خپاره کړل.

دا کابینه د لاندې کسانو څخه جوړه شوې وه :

۱- سید نور محمدشاه کندهاری صدراعظم، د پښتو نوم یې (لوی ټول مختار

۲ـ حبیب الله خان وردګ د مالیې وزیر، د پښتو نوم یې (لوی ملک)

۳- ارسلاخان د بهرنیو چارو وزیر، د پښتو نوم یې (لوی مین د باندې)

۴-عصمت الله خان جبارخیل د کورنیو چارو وزیر، د پښتو نوم یې (لوی مین د غرو)

۵- میرزا محمدحسین خان د حضورمنشي د پښتو نوم یې (لوی کښل)

۶- حسین علي خان پنجشیري سپه سالارـ د جنګ وزیر، د پښتو نوم یې (ټول مشر)

۷- احمدعلي خان چغتایي د خزانې وزیر، د پښتو نوم یې (لوی ټولونی)

۸- شیردل بازکزی د شمالي ولایتونو نائب الحکمه، د پښتو نوم یې( لویناب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- خوشدل خان د شیردل خان زوی د شمالي ولایتونو د دارالحکمه په توګه، په پښتو کې (کمکی ناب)

همدا ډول یې نظامي مقامونو ته هم د سرغونډ مشر، د غونډ مشر، سرسلمشر او سلمشر نومونه غوره کړي وو. (۶: ۶۰۸- ۶۰۹)

د همدې نویو تشکیلاتو په لړ کې یې د خبیرو شخصیتونو څخه یوه ۱۲ کسیزه شورا هم جوړه کړه، چې په رأس کې یې په خپله امیر قرار درلود. ددې شورا دنده مشورتي وه او امیر ته یې په کارونو کې مشورې ورکولې. (۲۸: ۱۰۰)

امیرشیرعلي خان د لویو ملي مسئلو د حل په موخه لویې جرګې هم جوړې کړي دي او دا ددې څرګندونه کوي، چې امیر شیرعلي د عصري اداري تشکیلاتو ترڅنګ له افغاني عنعنوي اداري طرز سره هم علاقه درلودله. نوموړي د ۱۸۶۵م کال د خپل امارت په لومړۍ دوره کې، د خپلو ورونو سره د شته اختلافاتو د حل په موخه، په کابل کې یوه لویه جرګه جوړه کړه چې د هیواد له مختلفو سیمو څخه دوه زره کسانو په کې ګډون کړی و او ددې جرګې ګډون والو امیر ته مشوره ورکړه، چې د خپلو ورونو په وړاندې جګړه وکړي. همدا ډول د واکمنۍ په دوهمه دوره کې په ۱۸۷۳م کال د خپل ۱۳ کلن زوی عبدالله جان د ولیعهد ټاکلو لپاره یې لویه جرګه راوبلله او له هغه وروسته یې یو لوی جشن جوړ کړ او د شمس النهار د اقتباس په استناد پنځه لکه مخور او سپین ږیري ورته راغونډتل شوي وو، چې اووه شپې او اووه ورځې یې دوام درلود. (۴۲: ۴۷)

امیرشیرعلي خان د پوستي مواصلاتو په ډګر کې عصري پوستي اداره رامنځ ته کړه، چې یوازې یې د خلکو ترمنځ اړیکې رامنځ ته نه کړې؛ بلکې په دولتي-دفتري اړیکو کې یې هم ډېرې ژورې اغیزې درلودلې او د همدې ادارې په اساس یې د مختلفو ولایتونو او حتی د کلیو تر منځ هم اړیکې رامنځ ته کړې. په همدې موخه د لومړي ځل لپاره پوستې ټکټونه د کابل په سنګي مطبعه کې، چې د دوو هندي مسلمانانو له لورې جوړه شوې وه چاپ شول. ددې ټکټونو بیه ۲/۱، ۴/۱ او ۱۰/۱ کابلۍ روپۍ ټاکل شوې وه. دا چې په هغه وخت کې د حمل او نقل عصري وسایل موجود نه وو، نو پوسته به د لارې په اوږدو کې په پلي او سپاره ډول اړونده پوستي مامور ته سپارل کیده او بیا به خپل مرسل الیه ته رسول کیده. (۹: ۳۸۴)

امیرشیرعلي خان د مالیاتو په اداره او قوانینو کې هم بنسټیز بدلونونه رامنځ ته کړل؛ ځکه دده تر واکمنۍ مخکې د مالیاتو د راټولولو سیستم داسې و، چې د ځمکو د مالیاتو دریمه برخه د کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړیو درو میاشتو کې مخکې تر مخکې اخیستل کیده. یعنې په پیشکي ډول به د دولت له خوا حواله کیده او بیا به د تحصیلدارانو له خوا ټولیده. حال دا چې د ځمکو حاصلات به درې میاشتې وروسته اخیستل کیدل. همدارنګه د دولت د مامورینو او د پوځ د سرتیرو معاشونه به هم په مالیه ورکوونکو باندې حواله کیدل او په ظلم او فشار سره به له خلکو اخیستل کیدل او دا کار به د نظامي کسانو او رسمي تحصیلدارانو له خوا تر سره کیدو. د مالیاتو تر ټولو دروند بار د بزګرانو په اوږدو و او همدا ډول په ښارونو کې کسبګر او نور خلک اړ کیدل، چې د سرتیرو تر فشار لاندې د نظامي افسرانو د دولت د مامورینو بیګار وکړي. دغه ډول چلند د کسب او کرنې د پرمختګ په برخه کې لوی خنډ ګرځیده.

امیرشیرعلي خان د مالیاتو د ادارو د اصلاح لپاره یو شمېر فرمانونه او حکمونه وضع کړل؛ لکه د ځمکو مالیات به د حاصلاتو د ټولولو تر مهال پورې مخکې له مخکې نه اخیستل کیدل، کله به چې حاصلات ټول شول مالیه ورکوونکي به په خپله مالیه حواله کوله او په مقابل کې به یې رسمي سند ترلاسه کاوه، تحصیلدار او سرتیرو ته اجازه نه وه چې په مالیه ورکوونکي پسې ورشي. د دولت د مامور، عسکر او افسر معاشاتو په مالیه ورکوونکو پورې اړه نه درلوده؛ بلکې د هغوی معاش به د دولت له خزانې څخه په نغدي ډول ورکول کېدو. د پوځ سرتیرو او افسرانو ته اجازه نه وه چې د ښارونو په منځ کې واوسیږي او دوی ته د ښار څخه بهر دایمي استوګنځي جوړ شول او دا کار ددې لپاره تر سره شو چې سرتیري د ښار په اوسیدونکو ظلم ونه کړي. په همدې ډول د بیګار کارونه منع شول او کارګر ته د کار په بدل کې نغدي اجوره ورکول کیده. (۲۹ :۵۹۴)

امیرشیرعلي خان د خپلو اصلاحاتو په لړ کې یو شمېر قضایي چارو ته هم پاملرنه وکړه او د نورو ملکي او نظامي چارو د ښه تنظیم په موخه یې ځینې قوانین هم وضع کړل. د هغو له جملې څخه کولای شو چې د هغو نظامنامو تعلیماتنامو څخه یادونه وکړو، چې په مرتضاوي او مصطفاوي مطبعو کې په چاپ رسیدلي وو.

په همدغه وخت کې د سرتیرو په منځ کې د انظباط او ډسپلین د تحکیم او د عسکري منسوبینو او د ملکي وګړو تر منځ د جرمونو د مخنیوي په موخه د دربار د منشي او ترجمان قاضي عبدالقادر په واسطه د (فتاوای امیري یا تشریح الجرایم) په نامه د قوانینو یوه ټولګه چې د معتبرو فقهي کتابونو څخه پکې استفاده شوې وه، په یو څلویښت څپرکو کې ترتیب او تنظیم کړه. د قوانینو دا ټولګه په ۱۸۷۳م کال په (۲۸۴) مخونو کې د مصطفاوي مطبعه کې چاپ شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په سم ډول يې پېل او پای ځانګړی شوی نه دی، له لومړي څپرکي کې پېل او په يوځلويښتم څپرکي پای ته رسيږي. دغه کتاب د کابل په عامه کتابتون کې موجود دی.

په دې کتاب کې د موضوعاتو او مسايلو په فهم کې اسانتياوې شته، د بيلګې په توګه په مطالعې سره يې کولای شو د عمدي، شبه عمدي، خطا، اکراه او نورو قتلونو ترمنځ په توپيرونو او د هغوی حکمونو په اړوند په اسانۍ سره وپوهيږو.

په دې کتاب کې د عسکري منسوبينو او د عامو وګړو جرمونه او د هغوی مجازات تعريف او ټاکل شوي دي. د بيلګې په توګه د پادشاه د حقارت احکام، د پادشاه د مقررې او انتظام پرخلاف په پوځ يا هيواد کې د پاڅون احکام، په پوځ کې د مخدره توکو د کارونې احکام، له جګړې تېښته او مقابل لورې ته د ورتګ احکام، په پوځ کې د غيرحاضرۍ احکام، د رشوت اخيستلو احکام، د دروغجنې ګواهۍ احکام، د جعل کولو احکام او دا ډول نور احکام په لنډ ډول په دغه فتاوا کې ځای پر ځای شوي دي. قاضي عبدالقادر ددې ټولګې په ليکلو کې ډېرې ستونزې ګاللي دي او د اميرشيرعلي خان په ملکي او نظامي اصلاحاتو کې ډېر رول لري. ددې سربيره قاضي محمدسعيد د هغه وخت د مشهورو قاضيانو څخه و، چې په خپلو کارونو کې بشپړ صلاحيت ورکړل شوی و. ددې قاضي مهر د اميردوست محمدخان او اميرشيرعلي خان د وخت په اسنادو کې، چې په ملي ارشيف کې خوندي دي، ليدل کيږي. نوموړی د يوه غني کتابتون درلودونکی هم و، چې امير دوست محمدخان ورته ډالۍ کړی و. (۱۲: ۴۲- ۴۳)

د امير شيرعلي خان په اداري تشکيلاتو کې تر ټولو ستره نقيصه او کمبودتيا يوه منظمه اطلاعاتي اداره وه، امير او دده ټولو همکارانو ترپايه ددغې نقيصې چاره ونه کړه او ددغې ناحيې څخه يې ډېر زيانونه هم وليدل؛ ځکه دده تر ږيرې لاندې او دده په دربار کې د انګريزانو جاسوسان موجود وو، چې دده هر څه يې تر انګريزانو رسول. (۲۸: ۱۰۰)

## د عصري اردو تشکيل

پوهيږو چې د افغانستان په پنځه زره کلن تاريخ کې، خورا لويې امپراتورۍ او دولتونه تير شوي دي او هغوی د خپل قلمرو د پراختيا او د خپلو پولو څخه د ساتنې او دفاع په خاطر پراخې جګړې کړي،چې دا د روزل شويو پوځونو په شتون دلالت کوي. همدارنګه د افغانستان د معاصر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاریخ له پېل کېدو سره، د احمدشاه بابا تر قوماندانۍ لاندې د غیرمنظم پوځ تر څنګ د یوه منظم او دايمي دولتي پوځ موجوديت چې د هغه وخت په ټولو جګړه ييزو سفرونو کې په پوره وياړ او میړانې جنګیدلی و،دا مطلب په ډاګه څرګندوي چې دا پوځ به هم روزل شوی او لږ تر لږه د مروجو وسلو د استعمال په برخه کې به يې ښوونه او روزنه ليدلي وي، داچې د دوی د ښوونې او روزنې لپاره کومه مدرسه، ښوونځی يا موسسه وه او که نه بشپړ تاريخي اسناد په لاس کې نه لرو؛ خو بیا هم د بیلګې په توګه ځینو تاریخ لیکونکو لکه مونت استورات الفنستون د ( ګزارش سلطنت کابل ) په نوم کتاب او زموږ افغان تاریخ لیکونکي میرغلام محمدغبار په خپل ( احمدشاه بابا افغان ) نومي کتاب کې د هغه وخت د پوځ له مختلفو تشکیلاتو او ډولونو څخه په مفصل ډول یادونه کړې ده او هم يې د سرتیرو او افسرانو د معاش په باره کې هم څرګندونې کړې دي . د افغانستان د اردو تشکیلات او ډول د امیردوست محمدخان تر دوهمې دورې پورې په همغه شکل پاتې شو؛ خو کله چې امیر دوست محمدخان د دوهم ځل لپاره واک ته ورسید او هغه په هند کې د انګریزانو پوځي تشکیلات او پرمختګونه له نږدې څخه لیدلي وو او هم د هغې اړتیا له مخې چې باید د افغانستان مختلف ولایتونه په مرکزي دولت پورې وتړل شي، نویو عکسري او پوځي تشکیلاتو ته يې اړتیا ولیدله؛ نو ويلای شو چې د امیردوست محمد خان د خپلي واکمنۍ یو مهم کار داو، چې د لومړي ځل لپاره يې پوځي تشکيلات عصري کړل او په عصري اصولو يې خپل پوځ وروزلو.

نوي مسلمان انګریز عبدالله خان چې له دې وړاندې يې نوم مسټر کیمبل و او د کندهار په جګړه کې اسیر شوی و [ نوموړی په هغه جګړه کې ونیول شو چې په ۱۸۳۴ م کال کې شاه شجاع د انګریزانو او سکانو په مرسته په کندهار حمله کړې وه]. د اسلام تر منلو وروسته په افغانستان کې پاتې شو او د امیر پوځ ته يې د نوو نظامي اصولو او عسکري تمرينانو روزنه ورکوله. همدارنګه ډاکټر ارلان امریکايي د رنجیت سنګ له دربار څخه د امیر دوست محمدخان خدمت ته راغلی و او نایب عبدالصمدخان هم له امیر سره د نوو عسکري تشکیلاتو په رامنځ ته کولو کې مرسته او خدمت کاوه.

د افغاني تاریخ لیکونکو په تاریخونو کې د هغه مهال د عسکري تشکیلاتو په اړوند پوره او مفصل معلومات نه شته؛خو د افغانستان په نوم کتاب، چې د هملتون په نوم یو انګریز لیکلی او په ۱۹۰۶م کال کې په لندن کې چاپ شوی،د افغانستان د تاریخ او همدا ډول د امیر دوست محمدخان د پوځي تشکیلاتو په اړه هم معلومات لري او لیکلي يې دي چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر دوست محمدخان د امارت په لومړیو کې افغانستان ۱۱ نظامي مرکزونه درلودل، هر پلي غونډ (۸۰۰) نفره درلودل، چې په ورځنیو تمریناتو کې(۶۰۰) عسکرو ګډون کولای شو. همدارنګه هر سپاره غونډ (۳۰۰) عسکر درلودل او ددې دورې په منځنیو کې ټول منظم عسکر عبارت وو له: ۱۶پلي غونډونه، هر غونډ (۸۰۰) نفره ـ جمله (۱۲۸۰۰)نفره. ۳ سپاره غونډونه، هر غونډ (۳۰۰) نفره ـ جمله (۹۰۰) نفره، چې ۶۷صحرايي توپونه، ۶جبل توپونه، ۴ثقیل توپونه او یو زنبورک توپ یې درلود. په دې سره د جمله منظم پوځ شمېره (۱۳۷۰۰) نفرو ته رسیده،چې ټول (۸۱) توپونه یې درلودل.

د منظم پوځ سربېره ایلجاري عسکر هم موجود وو، چې د اړتیا په وخت کې تیاریدل ددې پوځ شمېره هم په لاندې ډول وه.

په کابل کې (۳۱۰۰) نفره، په کندهار کې (۱۸۰۰) نفره، په هرات کې (۲۲۰۰) نفره او په بلخ کې (۲۹۰۰) نفره، چې جمله (۱۰۰۰۰) نفرو ته رسیدل. (۱۱: ۱۱۶- ۱۱۸)

له امیردوست محمدخان وروسته امیرشیرعلي خان د پوځ په روزنه، تنظیم او د عسکري تشکیلاتو په رامنځ ته کولو کې ډېره پاملرنه وکړه. هغه وخت چې د دوهم ځل لپاره واک ته ورسید او له ورونو سره د مسلسلو جګړو په نتیجه کې یې د پلار څخه ورپاتې پوځ ګډوډ شوی و او له غوره سمون څخه برخمن نه و؛ نو ددې فکر ورسره پیدا شو چې باید په دې پوځ کې سمون رامنځ ته شي، ځکه یې شهزاده یعقوب خان او سپاه سالار فرامرز خان ته دنده وسپارله چې سرتیري بالاحصار ته راټول او دده له نظره یې تیر کړي. امیر د معاینې څخه وروسته د هغوی له منځ څخه غوره سرتیري راټول او د باور وړ پوځ یې ورڅخه جوړ کړ. (۳۵: ۵۶۳)

نوموړي د یوه باثباته دولت د جوړښت او ټینګښت لپاره د عصري اردو جوړیدل لومړنۍ اړتیا بلله. دی په دې پوره قانع و، چې پخوانۍ لښکرې د پخواني نظم په چوکاټ کې د نننۍ جګړې په میدان کې توان نه لري؛ ځکه چې د جګړې تخنیک، ښوونه او روزنه نوې شوې ده. په ځانګړې توګه امیر د افغانستان جغرافیایي موقعیت، چې د دوو زبرځواکونو په منځ کې واقع و، ددې اړتیا وه چې د یوې منظمې عصري روزل شوې اردو په وسیله وساتل شي.

امیرشیرعلي خان خپل سپاه سالار حسین علي خان د یو شمېر تجربه لرونکو صاحب منصبانو سره مؤظف کړ، چې د اردو تشکیلات نوي کړي. خو کله چې د امبالې کنفرانس لپاره هند ته ولاړ؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته یې یو شمېر هندي مسلمانان، چې د اردو د کار متخصصین وو استخدام کړل. سردار غلام نقشبندي، عبدالمجید او فتح علي خان د افغاني اردو لومړني ښوونکي وو. (۲۸: ۱۰۲)

دا اردو د خپلو نوو تشکیلاتو او ارقامو له مخې د هیواد په اتو (۸) نظامي مرکزونو کې په لاندې ډول ځای پر ځای شول:

په کابل کې ۱۰۰۱۰ نفره، په جلال آباد کې۳۲۲۰نفره، د کابل په شیر پور کې۳۲۲۰ نفره، په کندهار کې۶۳۷۰ نفره، په کورمه کې۳۱۹۰ نفره، په هرات کې۱۱۲۲۰ نفره او په میمنې کې ۲۸۴۰نفره.

په عمومي ډول پورته اته نظامي مرکزونه په لاندې درې عسکري ټولګیو وېشل شوي وو.

۶۲پلي غونډونه، هر غونډ (۶۰۰) نفره – جمله ۳۷۲۰۰ نفره.

۱۴سپاره غونډونه، هر غونډ (۶۰۰) نفره. جمله ۹۶۰۰ نفره.

د فیلانو، آسونو، کچرو او د غویو کشولو توپخانه – جمله ۵۱۹۰نفره.

په دې سره په ۱۸۷۲م کال کې د افغانستان د منظم پوځ شمېره ۵۱۹۹۰ نفرو ته رسیده؛ خو په عین حال کې غیر منظم ایلجاري لښکر هم موجود و، چې د هغه پلي ۸۰۰۰ نفره او سپاره یې ۱۶۰۰۰ نفره چې ټول ۲۴۰۰۰ نفره کیدل. په دې ډول ویلای شو چې د امیرشیرعلي خان د وخت د ټول منظم او غیر منظم پوځ شمېره ۷۵۹۹۰ کسانو ته رسیده.

د هغه وخت عسکري وسلې عبارت وې له انګریزي او افغاني ټوپکونو او توپونو څخه، چې چمبرلین فرقه مشر یې په اړه داسې راپور ورکوي:

افغاني منظم لښکر( ۴۰۸۲۵) افغاني او انګریزي ټوپکونه او (۳۶۹) مختلف ډوله انګریزي او افغاني توپونه درلودل. ددې تعداد سربېره په ۱۸۷۷م کال کې انګریزانو ۲۹ زره میزل لوډنګ او پنځه زره بریچ لوډنګ سنیډر ټوپکونه امیرشیرعلي خان ته ورکړل. ( ۱۱: ۱۱۹-۱۲۲)

همدارنګه امیر ددې اردو د ښې سمبالتیا په موخه پوځي صنعت هم رامنځ ته کړ او د توپونو د جوړولو لپاره یې په کابل او هرات کې کارخانې جوړې کړې، چې په هغو کې یې ارابه لرونکي دراند توپونه جوړول، همداراز یې د ټوپک جوړولو کارخانې هم لرلې چې تر اوسه هم په هماغو کارخانو کې جوړ شوي توپونه شته. ( ۱۰: ۳۱۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل د ( ماشین خانې ) په نامه کارخانه کې د میاشتې یو توپ جوړیدو، او په ډېره اندازه په کې ټوپکونه او باروت جوړیدل. د وسلو جوړولو ډېری خام مواد له پېښور څخه راوړل کیدل او پر نوو وسلو سربیره دلته د خرابو شویو حربي آلاتو ترمیم هم کیده. دغه وسلې د هیواد د تکړه او ماهرو اهنګرانو او تخنیکرانو تر نظر لاندې جوړیدې. افغاني توپونه د کیفیت او جوړښت له مخې ډېر ښه وو، له دې امله انګریزانو هم دغه توپونه ترلاسه کړي وو او هندوستان ته یې هم لیږدولي وو، چې اوس یې هم یو څو نمونې د لاهور په شاهي کلا کې شته . په دغو توپونو باندې په دري ژبه داسې لیکل شوي دي. ''ساخت ماشین خانه حربی کابل.'' (۲۱: ۳۷-۳۸)

یاروسکي روسي ډاکټر چې د جنرال ستالیتوف تر مشرۍ لاندې د روسي هیئت غړی و، د ولیعهد عبدالله جان او په خپله د امیرشیرعلي خان معالج ډاکټر هم و، په خپله سفر نامه کې یې د افغاني ټوپکونو ستاینه کړې ده، هغه لیکلي دي چې: "امیرشیرعلي خان زموږ د راغلي هیئت روسي سرتیرو سره موجود روسي ټوپک معاینه کړل او د هغوی یې ډېره ستاینه وکړه او هم یې موږ ته خپل ټوپک هم وښود، چې زموږ د هیئت غړو ډېر خوښ شو او امیر وویل، چې دا ټوپک زموږ کاریګر د کابل د وسلو په کارخانو کې په بشپړ ډول په خپلو لاسونو جوړوي". ( ۹: ۲۰۳)

امیرشیرعلي خان د پوځ د معاشاتو په سیستم کې هم تغییرات راوستل؛ څکه ترده پخوا د سرتیرو معاش په مالیاتو پورې منحصر و؛ خو امیرشیرعلي خان له دې وروسته د سرتیرو او افسرانو معاش د دولت له خزانې څخه په هره میاشت کې په نقدي ډول ورکاوه. د پلي سرتیري د میاشتې اووه روپۍ او هغه سپاره ته چې آس به ورسره حاضر و ددې دوه چنده معاش ورکول کیده. سرتیرو منظم یونیفورم درلود چې له (خولۍ، پتلون، کرتي او بالاپوش) څخه عبارت و.

افسرانو او منصبدرانو هم نظامي یونیفورم استعمالاوه او حتی پاچا به زیاتره په نظامي یونیفورم کې دربارته راتلو؛ خو کله به یې چې د اردو معاینه کوله حتماً به یې نظامي یونیفورم اغوستی و. د اردو د روزنې لپاره به یې په ځینو وختونو کې نظامي تطبیقات کول او کله کله به یې د خلکو د ننداریې لپاره عسکري رسم ګذشتونه جوړول. ( ۲۸: ۱۰۳)

دا چې په هغه وخت کې د اردو نوي تشکیلات رامنځ ته شول، د پوځ د روزنې لپاره حربي ښوونځی جوړ شو، داخلي او خارجي ښوونکي یې د روزنې لپاره وګمارل شول او د وسلو د جوړلو لپاره یې ورته کارخانې جوړې شوې. ددې ټولو سربیره د عسکرو د جذب په برخه کې یې نوي اصول او مقررات وضع کړل. امیرشیرعلي خان ددې ډول نوو مقرراتو رامنځ ته کول د یوې مهمې اړتیا په توګه درک کړي وو. هغه په دې پوهیده چې د اړتیا په وخت کې د جګړې لپاره د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو راغونډول، چې نه وي رزول شوي، د جګړې په ډګر کې نه یوازې چې بې ګټې وي؛ بلکې تاوان هم لري او همدارنګه تر یوه بیرغ لاندې تل پاتې نظامي ځواک هم ګټه نه لري او ګټه یې تولنیزه نه ده. نو له همدې امله یې د قرغې(پچې) په نوم دوه کلن اجباري عسکري خدمت، چې له استثنا پرته په ټولو وګړو یې اطلاق کیږي، لازمي وګرځاوه تر څو په دې کار سره وکولای شي د سردارانو او خوانینو زامن هم په دې نظام کې شامل کړي. نوموړی په خپلو اصولو کې قاطع و او په عملي کولو کې یې د خپل او پردي ترمنځ توپیر نه کاوه. د بیلګې په توګه خپل سکنی ورور سردار نیک محمد یې د دوو کلونو لپاره لکه د نورو سرتیرو په څېر له کوم امتیاز پرته په دې اجباري نظام کې داخل کړ او همداراز یې خپل لمسی سردار احمدعلي خان د سردار محمدعلي خان زوی، چې د امیر ورور سردار محمدامین خان سره د جګړې په میدان کې ووژل شو، د ټاکل شوو شرایطو لاندې په دې اجباري عسکري نظام کې داخل کړ. همدا ډول امیر په پوځ کې د ناروغو او کمزورو ځوانانو له ګډون څخه ډډه کوله. په سترګو کې ډېر وړوکی نقص او د وینبتانو عیب (ګنجیتوب) د عسکري خدمت مانع ګرځیدل.

همدارنګه امیر د خپلو پوځي اصلاحاتو په لړ کې، په نظامي او حربي برخو کې چاپ شوي انګریزي کتابونه پښتو او دري ته وژباړل. د قوماندې ورکړې، د نظامي قطعاتو او پوځي چارواکو نومونه یې په انګریزي او په ډېره اندازه په پښتو ژبه کې رامنځ ته کړل، چې تراوسه هم دا نومونه ژوندي پاتې دي. (۹: ۳۸۳-۳۸۴)

د امیر شیرعلي د وخت اردو واقعاً یوه روزل شوې اردو وه او په روزلو کې یې ډېرې ستونزې ګالل شوې وې؛ خو په ډېر افسوس باید وویل شي کله چې انګریز پر افغانستان دوهم تجاوز وکړ، امیر دې اردو ته اجازه ورنه کړه چې له انګریزانو سره وجنګیږي. د انګریز د هغه مهال د نظامي چارو کارپوهانو ویلي وو، چې که امیر په دغه اردو له انګریز سره جنګیدلی وای، حتماً بریالی کیده. (۲۸: ۱۰۳)

دا چې ولې امیر داسې وکړل ددې لیکنې په ځینو برخو کې به یې ځواب ترلاسه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عصري ښوونه او رزونه

ښوونه او روزنه د انسان د پيدا ښت له لومړيو څخه موجوده وه او انسان د خپل پيدا ښت څخه تر نن ورځې پورې د هغې د لاسته راوړلو لپاره خپلې هڅې جاري ساتلې دي. د وخت په تيريدو سره ښوونې او روزنې مختلف پړاوونه وهلي دي او په هر پړاو کې يې د لاسته راوړلو مختلفې لارې درلودلې. د موضوع د محدودوالي په خاطر نه غواړم چې په نړيواله کچه د ښوونې او روزنې تاريخي بهير ته ورشم؛ خو اړينه ده چې دلته د افغانستان د ښوونې او روزنې پر تاريخي بهير لنډه رڼا واچوم. د تاريخي حقايقو له مخې د افغانستان د ښوونې او روزنې تاريخي بهير کولای شو په لاندې دوو برخو وويشو :

الف - عنعنوي ښوونه او روزنه .

ب – رسمي ښوونه او روزنه .

الف ـ عنعنوي ښوونه او روزنه :

زموږ لرغونی هيواد افغانستان له ډېر پخوا څخه د علم او پوهې مرکز و، د اسلام د ظهور څخه وړاندې د لرغونې اريانا په ويدي مدنيت کې د ښوونې او روزنې د لړۍ له مذهبي ادبياتو څخه راپېل شوې، چې زړه برخه يې ويدي سرودونه دي، دا سرودونه د ارباب الانواعو ستاينې لري ، د هغه وخت عقايد څرګندوي، د طبيعت رازونه سپړي، پندونه او لارښوونې لري او خلک پوهې او تفکر ته رابولي. ويدي سرودونه د هغه وخت پوهانو په واسطه جوړ شوي وو، چې د ريشانو په نوم بلل کيدل، دوی د خپل وخت ټول مروج علوم زده وو او د روحانيت تر څنګ شاعران، اديبان او خطيبان هم وو چې په روحاني، ټولنيزو او سياسي چارو کې يې د خلکو لارښوونه کوله؛ له همدې امله «ويد» په سپيڅلې پوهه ترجمه کيږي. ( ۲۰: ۷۳)

له ويدي مدنيت وروسته د ښوونې او روزنې لړۍ د اوستايي مدنيت په واسطه پرمخ روانه شوه، هغه وخت چې زردشت د خپل دين د اصولو تبليغ او تعليم پيل کړ، حق او حقيقت خپل ارزښت له لاسه ورکړی و او ځای يې دروغو او خيانت نيولی و. نوموړي خپل کار د خپلې عالي فلسفې د ( ښې مننې، ښې وينې او ښې کړنې ) په واسطه پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زردشتي دین سربیره په دغه هیواد کې د ارسطو منطق، فلسفه، د نجوم علم، یوناني طب او دا ډول نور علوم تدریس کیدل.

هغه مهال ښوونه او روزنه د شاهانو په دربارونو، د ونو لاندې او عبادت ځایونو کې پرمخ وړل کیده. بودیزم چې د لرغوني اریانا په ختیځو برخو کې یې رواج درلود او په بیلابیلو برخو کې یې بوایي ستوپې،د بودایي دین د تبلیغ مرکزونه او عبادت ځایونه جوړ کړل او ددې دین د خپرولو لپاره د ښوونې او روزنې یوه نوې لړۍ پیل شوه. دغې لړۍ د اسلام د سپیڅلي دین تر څرګندیدو پورې دوام درلود.

د اسلام مبارک دین د دویم خلیفه حضرت عمر فاروق «رض» په خلافت کې د افغنستان تر پولو راورسید او بیا د دریم خلیفه حضرت عثمان بن عفان «رض» په خلافت کې عملاً دغه هیواد ته داخل شو او د بني امیه په دوره کې خپلې بشپړ مرحلې ته راورسید. د اسلام مبارک دین چې خلک یې د یوه خدای(ج) لمانځلو ته رابلل او د نورو ډېرو خدایانو د لمانځلو څخه یې مخنیوی کاوه، په حقیقت کې یې د بت لمانځنې او د ډېرو خدایانو د لمانځلو پر ګروهه سخته ضربه وارده کړه. د اسلام دین د زړو ادیانو ځای ونیوه، عربي ژبه او رسم الخط په ټول افغانستان کې دود شول، اسلامي علوم لکه: تفسیر، حدیث، فقه، صرف، نحو، ادب، تاریخ، عقاید، ماورالطبیعه فلسفه او طب مروج شول.

د هغه وخت د زده کړو ځای مدرسه وه او لوی مدارس هم په جوماتونو کې جوړ شول. د مدرسې او جومات ترمنځ توپیر نه لیدل کیده. په هغه وخت کې په هرات، نیشاپور، بخارا او کرمان کې ډېر جوماتونه ودان شوي وو، چې د ښوونې او روزنې لړۍ په کې روانه وه.

ځینې کسان د علم او پوهې ترلاسه کولو لپاره لرې لرې ښارونو ته تلل او د علم تر لاسه کولو وروسته بېرته خپلو سیمو ته ستنیدل او په تدریس به بوخت کیدل. په څلورمه هجري پیړۍ کې په نوي شکل د مدرسو جوړول پیل شول او ورو ورو د افغانستان د هغه وخت په لویو ښارونو کې د مدرسو او کتابتونونو بنسټونه کېښودل شو.

د سامانیانو، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو، خوارزمشاهیانو، ګورګانیانو او هوتکیانو په وخت کې د هغه وخت په مروج شکل ښوونې او روزنې وجود درلود او خلکو په مینه او علاقې سره په کې ګډون کاوه. په دغه دوره کې د خواجه عبدالله انصاري، امام فخرالدین محمدرازي، امام محمدغزالي، مولانا عبدالرحمان جامي او نور لوی لوی علما له همدغې ځمکې راپورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شول، چې د نړۍ د مسلمانانو او د ټول بشریت لپاره د ویاړ لامل وګرځېدل. په دغه دوره کې خلک نه یوازې چې په خپله د علم او پوهې د ترلاسه کولو په هڅه کې وو، بلکې خپل اولادونه یې هم هڅول، ترڅو علم او پوهه ترلاسه کړي او د اسلام د دین په اصولو وپوهیږي؛ له دې امله خلکو په خصوصي او عمومي صورت علماؤ څخه د علم زده کړه کوله.

په ډېرو ځایونو کې په خپله د جوماتونو امامانو د ماشومانو د روزلو په موخه د تدریس دنده پر غاړه درلوده او هغوی په ټولنه کې د ځانګړي احترام څخه برخمن وو او دغه ډول زده کړې اوس هم شته او په ډېرو جوماتونو کې اوس هم ماشومانو ته دیني زده کړې ورکول کیږي.(۳۳: ۸- ۱۰)

د تیموري لړۍ له منځه تللو څخه وروسته، افغانستان د ګاونډیانو له خوا تجزیه شو. نهمه، لسمه او یوولسمه هجري پیړیو په موده کې، د ډېرو نورو بنسټونو په څېر د هیواد فرهنګي او تعلیمي سیستم ته هم ډېر زیانونه ورسیدل؛ خو په بشپړ ډول نشو ویلای، چې د زده کړو پروسه په ټپه ودریده او خلکو بیا هم په عنعنوي شکل خپلو اسلامي زده کړو ته دوام ورکړ.(۲۰: ۸۰- ۸۱)

د احمدشاه بابا په واکمنۍ سره، چې د افغانستان د تاریخ معاصره دوره پېل شوه. ګران هیواد افغانستان د یوه نوي او ځواکمن دولت خاوند شو او هیواد پخوانی لوړوالی او عظمت بیا ترلاسه کړ؛ خو دا چې احمدشاه بابا د هغه وخت د اړتیاو په اساس په پراخو جګړه ییزو سفرونو بوخت پاتې شو؛ نو ځکه ونه توانیده چې د هیواد د زده کړو برخې ته جدي پاملرنه وکړي. هغه مهال لویدیځې نړۍ د علم او صنعت په ډګر کې د پرمختګ لوړ ګامونه پورته کړل، په انګلستان او فرانسې کې علمي انقلابونه رامنځ ته شول؛ خو افغانستان بیا هم په علمي او صنعي ډګر کې په همغه پخواني حالت کې پاتې شو. که څه هم په هغه وخت کې زده کړو رسمي او دولتي شکل پیدا نه کړ؛ خو بیا هم د هیواد واکمنان په بشپړ ډول د زده کړو له پروسې څخه بې پروا نه وو. په خپله د احمدشاه بابا او د هغه ځای ناستي تیمورشاه په دربارونو کې ادیبان، لیکوالان او علما موجود وو او د هغوی پالنه کیده او هم په غیر رسمي شکل د هیواد په ډېرو ښارونو کې مدارس موجود وو، چې په هغوی کې دیني او دنیاوي زده کړې ترسره کیدې.

د تیمور شاه د مړینې وروسته یو ځل بیا د افغانستان سیاسي، اقتصادي او کلتوري حالت د زوال په لور روان شو؛ ځکه د هغه د اولادونو تر منځ د قدرت په سر جګړې پېل شوې، وروسته بارکزي هم د جګړو میدان ته راغلل او د احمدشاه او تیمورشاه اولاده یې له واکه لرې کړه. دغو ټولو ناخوالو بهرنیو استعمارګرو ته زمینه مساعده کړه، تر هغه چې په ۱۸۳۹م کال کې انګریزانو په مستقیم ډول د لومړي ځل لپاره پر افغانستان نظامي تیری وکړ، امیردوست محمدخان یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

واکه لرې او پرځای یې لاسپوڅی شاه شجاع واک ته ورساوه، انګریزان د افغان ملت له کلک مقاومت وروسته په ۱۸۴۲م کال کې شرمیدلي له دغه هیواد څخه ووتل او یو ځل بیا امیر دوست محمد خان واک ته ورسید. په حقیقت کې دا د افغانستان د تاریخ بله توره دوره وه، چې نه یوازې یې هیواد علمي او کلتوري برخه زیانمنه کړه؛ بلکې سیاسي او اقتصادي برخې یې هم ډېرې زیانمنې کړې.

امیردوست محمدخان په دوهم ځل واکمنۍ کې بیا هم علمي او کلتوري برخې ته ځکه پاملرنه ونه شوه کړای، چې هغه هم د یوې واحدې او مرکزي ادارې د رامنځ ته کولو لپاره پوره شل کاله هڅې وکړې او په دې موده کې یې یوازې د پوځ په پیاوړتیا او روزنه کې یو شمېر لاسته راوړنې درلودلې؛ خو په ۱۸۶۳م کال د امیر دوست محمدخان له مړینې وروسته یو ځل بیا د هغه د اولادونو ترمنځ د قدرت په سر جګړې پیل شوې او پرلپسې واکونه له یوه نه بل ته انتقالیدل لومړی شیرعلي خان، دوهم ځل محمد افضل خان، دریم ځل محمد اعظم خان او په پای کې د دوهم ځل لپاره شیرعلي خان په ۱۸۶۸م کال کې واک ته ورسید. په دې دوره کې د داخلي جګړو او د متجاوزینو د تجاوز په وړاندې د دفاع پرته کوم بل مهم کار تر سره نه شو. امیرشیرعلي خان د خپلې واکمنۍ په لومړۍ دوره کې هم د همدغو مصروفیتونو له امله ونه شوای کولای، چې د هیواد د پوهنې او نورو برخو کې کار وکړي، خو د واک په دوهمه دوره کې ورته زمینه مساعده شوه او د نورو ادارو تر څنګ یې د لومړي ځل لپاره په هیواد کې د رسمي ښوونې او روزنې اساس کیښود. (۳۳: ۱۰- ۱۱)

ب – عصري او رسمي ښوونه او رزونه:

لکه څرنګه چې امیرشیرعلي خان خان په افغانستان کې نورې عصري ادارې هم رامنځ ته کړې؛ نو دې ته اړتیا لیدل کیده، چې ددغو ادارو د چلولو لپاره باید کدرونه او مسلکي کسان موجود وي او امیرشیرعلي خان په دې پوهیده، چې دا ستونزه یوازې او یوازې د ښوونې او رزونې له لارې حل کولای شي. په همدې موخه یې د تعلیمي چارو د پرمخ بیولو لپاره یوه کوچنۍ اداره جوړه کړه، چې محدود پرسونل یې درلود او په تشکیل کې یې د پوهنې آمر، کورني او بهرني ښوونکي، عمومي مبصر او تحویلدار موجود وو. همدارنګه ددغه کوچني تشکیل شوي معارف لپاره یې د کتابونو او نورو لوازمو د تهیه کولو دفتر او دومره بودجه، چې د کتابونو د خپرولو، د ښوونکو او کارکوونکو د معاشونو لپاره بسنه وکړي، په کار واچوله.(۲۰: ۸۵-۸۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیرشیرعلي خان د لومړي ځل لپاره دوه ښوونځي یو یې د حربي په نوم په شیر پور او بل یې د ملکي په نوم په بالاحصار کې تأسیس کړل. امیرشیرعلي خان په خپله شخصاً ددې ښوونځیو او فرهنګي چارو څارنه کوله، آن تر دې چې نوموړي به د زده کوونکو په ازموینه کې ګډون کاوه، له زده کوونکو به یې پوښتنې کولې او لایق زده کوونکي به یې د ډالیو په ورکړې سره تشویق کول. له همدې امله امیرشیرعلی خان ته د افغانستان د معارف لومړی وزیر هم ویلای شو او د دربار منشي قاضي عبدالقادر پیښوري، چې په عین حال کې د شمس النهار جریدې مسؤل مدیر هم و د افغانستان د معارف لومړی آمر ویلای شو؛ ځکه دغه شخص د پورته چارو سربیره ددغه کوچني معارف ټولې چارې هم اداره کولې.

په هغه وخت کې د علمي او نظامي تعلیماتو سربیره قرائت، لیک، دیني علوم او تاریخ هم تدریس کیده او په نظامي ښوونه کې د توپ انداخت قوانین، پلي او سپارو نظام، د نښې ویشتل او نور عملي درسونه ویل کیدل؛ خو د ملکي ښوونځي په نصاب کې اداره، سیاست، حقوق او ځینې دیني علوم شامل وو. د نورو مضمونونو په خوا کې سپورت هم د تعلیمي نصاب جز و او همدارنګه ددغو ښوونځیو د زده کړې موده څلور کاله وه. په لنډ ډول په لاندې جدول کې ددې دورې د ښوونځیو تعلیمي نصاب لیدلی شی.

| ګڼه | حربي ښوونځی | | ملکي ښوونځی |
|---|---|---|---|
| | ملکي یا نظري مضمونونه | عسکري یا عملي مضمونونه | عمومي مضمونونه |
| ۱ | ریاضي | د توپ انداخت | حقوق |
| ۲ | جغرافیه | پیاده نظام | اداره |
| ۳ | کیمیا | سورلی | سیاست |
| ۴ | د نقشي ویستل | نښه ویشتل | ادبیات |
| ۵ | قرائت | سپورت | سپورت |
| ۶ | دیني علوم | | |
| ۷ | لیک | | |
| ۸ | تاریخ | | |
| ۹ | سپورت | | |

( ۴۲: ۴۹-۵۰)

د امیرشیرعلي خان د وخت په تعلیمي نصاب کې دیني او نظامي موضوعاتو زده کړې ته ډېره پاملرنه کیده، دا ځکه چې افغانستان په هغه وخت کې د لویو ځواکونو له ګواښونو سره مخامخ و، روس او انګریز دواړو خپلې مستعمرې نه یوازې دا چې زموږ تر پولو رارسولې وې بلکې له پولو هم راتیرې شوې وې او دوی غوښتل چې د افغانستان په نیولو کې له یو او بل څخه وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. البته انګریزانو خپل دې ښکیلاکي هدف ته د رسیدلو لپاره د دښمنۍ او روسانو بیا د دوستۍ په جامه کې کار کاوه؛ نو افغانانو د خپلو ملي او سیاسي پولو د ساتنې لپاره نظامي زده کړو او د فکري پولو د ساتلو لپاره دیني زده کړو ته اړتیا درلودله.

په هغه وخت کې د تعلیمي او درسي مقاصدو لپاره دا لاندې کتابونه چاپ او تهیه شول: "حجت قویه در ابطال عقاید وهابیه،قواعد پلتن (پښتو او دري)،قواعد رساله، تحفة العلما، وعظ نامه، مجمع البحرین (طبي اثر)، قانون نامه عسکري، الفبا، فتاوای برهنه، شهاب ثاقب او نور" (۲۰: ۸۶).

په لومړیو کې ددې ښوونځیو ښوونکي یوازې داخلي وو؛ خو وروسته بهرني ښوونکي هم دغه ډګر ته راوبلل شول. کله چې امیرشیرعلي خان په ۱۸۶۹م کال کې له انګریزانو سره د سیاسي مذاکراتو په موخه د هند امبالې ته سفر وکړ؛ نو د بېرته راتګ په وخت کې یې یو شمېر مسلمان هندي متخصصین استخدام کړل لکه: کریم بخش، سردارغلام نقشبندي، عبدالمجید او فتح علي خان ( هندي جنرال) او دوی یې کابل ته راوستل. کریم بخش پوځ ته روزنه ورکوله او هم یې د ریاضي، جغرافیه، کیمیا او د نفت ایستلو په برخه کې تدریس کاوه. ( ۴۲: ۴۹ـ ۵۰)

مؤرخ عطایي لیکي چې:''دوی ټول د انګریزانو جاسوسان وو او د ټولو په سر کې د امیر د دربار منشي او ترجمان قاضي عبدالقادر و، چې په دربار کې یې مهم مقام ترلاسه کړ او د افغانستان د دولت د ورځینیو چارو راپور یې تر انګریزانو رساوه؛ خو د تأسف ځای دادی چې امیر دوی تر اخره ونه پیژندل.'' ( ۲۸: ۹۶ )

ملکي ښوونځی چې په بالاحصار کې موجود و، د سردارانو، اشرافو او مخورو کسانو اولادونو پکې زده کړې کولې، دا ښوونځی نهاري و او د حربي ښوونځي سره یې په نصاب کې هم توپیر درلود.( ۱۸: ۱۳) حربي یا عسکري ښوونځی د شیر پور په نظامي مرکز کې واقع و او زده کوونکي یې لیلیه وو او ټول لګښت یې د دولت له خوا ورکول کیده. د زده کوونکو شمېر یې په عین وخت کې له (۳۰۰۰) درې زرو کسانو څخه ډېر و. (۴۲: ۵۱)

دغه دواړو ښوونځیو اونیز تعلیمي راپور درلود، چې په هره میاشت کې به نګران ته سپارل کیده. د ښوونکو حاضرۍ، غیرحاضرۍ او تدریس ته پاملرنه کیده او په اړه یې بیل راپورونه جوړیدل. ازموینه درې میاشتنۍ وه او کلنۍ ازموینه حتمي او په ډېر دقت اخیستل کیدله، ممتحنین له نورو ادارو راغوښتل کیدل، د مضمون ښوونکي د پوښتنو جوړولو او د نمرو حق نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنو تقريري او تحريري بڼه درلوده او پرته له دې چې د مضمون ښوونکی موجود وي تحريري پوښتنې د يوه ټاکل شوي هيئت له خوا مطالعه کيدې او وروسته نمرې ورکول کيدې، په دې توګه د ښوونې او روزنې ادارې، زده کړې او ازموينې کلک او ګټور نظم درلود.

د ملکي ښوونځي د يو تن داخلی ښوونکی او مشهور عالم مولوي عبدالرؤف کندهاري پلار، مولوي عبدالرحيم کاکړ و او هم وليعهد عبدالله جان يې مشهور زده کوونکی و. همدارنګه د حربي ښوونځي يو تن مشهور زده کوونکی کاکا سيداحمد لودين و، چې وروسته يې د (اصول کاکا) په نامه د باسواده کولو يوه نوې لاره جوړه کړه.

په ۱۸۷۸م کال د نومبر په مياشت کې په افغانستان باندې انګريزانو دوهم تيری وکړ، چې په دې سره د پوهنې سربيره د هيواد نورې ادارې هم شنډې شوې او د امير شيرعلي خان هڅې د جګړې د اور خوراک شوې. (۱۸: ۱۳-۱۴)

که څه هم اميرشيرعلي خان د لومړي ځل لپار د افغانستان په تاريخ کې د عصري او رسمي ښوونې او روزنې بنسټ کيښود؛ خو دا ښوونه او روزنه يوازې په پلازمېنه کابل پورې منحصره پاتې شوه او د افغانستان په ولايتونو او اطرافو کې يې څرک نه ليدل کيده او هلته ښوونه او روزنه په همغه عنعنوي شکل روانه وه. لامل يې دا و چې په هغه وخت کې د داسې يو ملي پروګرام پلي کولو امکانات په نشت حساب وو او د اميرشيرعلي خان په اداره کې دومره مادي او معنوي ظرفيت موجود نه و، چې په دې برخه کې د هيواد په سطح کار وکړي؛ خو بيا هم بايد يادونه وشي چې امير د عصري ښوونې او روزنې بنسټ کيښود، چې د هيواد په علمي او کلتوري برخه يې ډېرې ژورې اغيزې پر ځای پرېښودلې.

## د عصري مطبوعاتو رامنځ ته کول

د موضوع د ښې روښانتيا لپاره اړينه ده چې لومړی په عمومي توګه په افغانستان کې د اطلاع رسونې تاريخي تګلورې په اړه بحث وشي او بيا د اميرشيرعلي خان په وخت کې د مطبوعاتو او اطلاع رسونې په اړوند بحث ته چې د موضوع اصلي بحث تشکيلوی ورشو.

د کاغذ او ليک وړاندې اطلاع رسونه د شفاهي ميډيا لکه ډول (نغاره)، سورنا او جار وهلو له لارې تر سره کيده. کله به چې يوه اړينه مسئله رامنځ ته شوه او يا به هم د ملي او عمومي کارونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر سره کولو لپاره د کليو مشرانو يا ښار رئيسانو مطرب ته دنده ورکوله، چې په لوړ ځای نغاره ووهي، خلک راټول او د مسئلې په اړوند هغوی ته خبر ورکړي. د ښار او کليو اوسيدونکو هم له دغه ډول اطلاع او خبر رسونې، سره مينه درلوده. کله به يې چې د ډول او سرنا آواز واوريده، په هر حالت کې به يې د سيمې عمومي راټوليدنې ځای ته ځان رساوه او په موضوع به يې ځان خبراوه.

د اطلاع رسونې يو بل ډول د کليو او ښارونو ترمنځ د ځنځيرونو او پړيو اچول وو. په دې طريقې سره د ښارونو حاکمانو کولای شول، چې د هر ډول خطر په وخت کې له يوې سيمې څخه بلې سيمې ته خبر ورکړي .ځنځير ته به ټکان ورکول کيده او هر ټکان ځانګړې اشارې او علايم درلودل؛ له دې امله د هغه وخت رهبران پوهيدل، چې کومه پيښه رامنځ ته شوې ده او وروسته به د پيښې په تړاو عامو خلکو ته هم خبر ورکول کيده او په تړاو به يې ګډ تصميم نيول کيده. په روايتونو کې راغلي دي، چې د ارياپانو پر مهال د پروان او د کاپيسا د لرغونې پلازمينې بګرام د ښارونو ترمنځ هم داسې يو ځنځير اچول شوی و.

پروان او مروان دوو وروڼو چې يو يې د پروان او بل يې د بګرام حکومت کاوه، د يو او بل له احوال څخه د خبريدلو لپاره له همدې اطلاع رسونې څخه استفاده کوله.

د اطلاع رسونې بله لاره چې د تاريخ په ټولو دورو کې يې وجود درلود جار وهل وو، دغه طريقه به د يوې ډلې جار وهونکو له خوا چې ډولونه او نورې د لوړ غږ لرونکې آلې به يې درلودلې ترسره کېدو. دوی به د ښار ګڼ ميشتې او عمومي ځای کې د نغارو په وهلو سره خلک راټولول او مهم خبرونه به يې تر هغوی رسول. د اطلاع رسونې دغه لارې تر دې وروستيو پيړيو د ليکلو، چاپ او حتی د برقي اطلاع رسونې ميډيا تر مهاله هم ادامه درلودله.

د ليک په رامنځ ته کېدو سره د اطلاع رسونې په برخه کې د ښارونو د مشرانو ستونزې يو څه راکمې شوې. له دې وروسته به د ښارونو حاکمانو عمومي او ټولنيز موضوعات په ډېرو ليکل او د ښار په عمومي ځايونو کې به د مؤظفو کسانو په واسطه خلکو ته بيانيدل. همدا ډول په دغه ډول اطلاع رسونه کې د انځورونو او د نښو کښلو هم ډېر مهم رول درلود. د چاپ د ماشين په رامنځ ته کېدو سره شفاهي اطلاع رسونه او د ښار په عمومي ځايونو کې په ډېرو د ليکل شويو خبرونو بيانولو طريقه پای ته ورسيده. وروسته له دې به حاکمانو عمومي اطلاعات په قلم ليکل او د چاپ ماشين په واسطه به يې يو ډېر شمېر نور هم ترې چاپ او د ښار په عمومي او ګڼ ميشتو ځايونو کې به يې نصبول. په دغه ډول اطلاع رسونه کې بيا هم د نقشو او انځورونو کښل ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهمیت درلود؛ ځکه هرې نقشې او انځور ځانګړې ماناوې درلودلې، چې کولای یې شول مهم موضوعات او تاوده خبرونه انتقال کړي. ( ۲۱: ۳۷-۳۸)

زموږ په هیواد کې هم د ژورنالیزم او اطلاع رسونې تاریخي سیر له ډېرو پړاوونو راتیر شوی دی ، دا چې د مسلطو ټولنیزو قوانینو له مخې زیربنا یا اقتصاد په ټولو ټولنیزو اړیکو او د ژوندانه په وضع کې ټاکلې اغیزې لري؛ نو د افغانستان ژورنالیزم هم ددغه اصل د اغیزې څخه وتلای نه شي او د ډېرو تاریخي زمانو راهیسې هغه د حاکمې طبقې او استثمار کوونکو د ګټو په خدمت کې ګمارل شوی و. هیوانتسنګ مشهور ګرځندوی چې په اوومه میلادي پیړۍ کې د افغانستان د کوشاني ټولواکمنۍ سیمو ته راغلی و او په خپلو یادابښتونو کې یې د افغانستان د ختیځې برخې د راپورچیانو او ضبط احوالاتیانو په هکله داسې لیکلي دي: « کوشانیانو په هر ولایت کې یو مامور د ښو او بدو احوالاتو د ټولولو لپاره ګمارلی و»

د کوشانیانو وروسته عربانو، صفاریانو، سامانیانو، غزنویانو، سلجوقیانو، غوریانو، خوارزمشاهیانو، چنګیزیانو، صفویانو، ابدالیانو او نورو هم د اطلاعاتو او راپورنو ټولولو بیل دفترونه او راپورچیان درلودل.

د احمدشاه باباو د واکمنۍ پر مهال د زبده نویسانو، وقایع نګارانو، حضورنویسانو، چار چیانو، کار کاره باشیانو او اخبار چیانو تر نومونو لاندې همدا ډول تشکیلات موجود وو . دوی به شفاهي او لیکلي اطلاعات، پاچاهي او دولتي فرمانونه تر عامو خلکو او ټولنو رسول او د هغوی احوالات او کوایف به یې په پټه او ښکاره توګه ټولواک او د دربار اراکینو ته وړاندې کول.

هغه وخت چې پر هند باندې د انګریز استعمار پیل شو، دوی د خپلو ګټو د ساتلو او د مرکزي حکومت د پیاوړې کولو لپاره په هند کې په یو لړ اصلاحاتو، اقتصادي او صنعتي فعالیتونو پیل وکړ، د سوداګرۍ او نظامي پیاوړتیا لپاره یې د ریل ګاډو لارې رامنځ ته کړې، صنعي او حرفوي کارخانې یې په کار واچولې، مدني قوانین یې جاري کړل، ښوونځي یې پرانستل، په ۱۶۷۴م کال کې یې په بمبیي کې د انګلیسي حروفو یوه مطبعه په فعاله کړه او د هند پر بیلابیلو ژبو یې د اخبارونو پر چاپ پیل وکړ. کله چې انګریز استعمار د افغانستان له ګاونډیو سیمو سره نیغ په نیغه تماس پیداکړ؛ نو د افغانستان په داخلي چارو کې یې لاس وهنې پیل کړې. دوی د صوبه سرحد (خیبر پښتونخوا) ټولې حساسې سیمې تر خپلې اداري لاندې راوستې او د افغانستان خپلواکۍ او د خاورې تمامیت ته یې سخته خطره متوجه کړه. او د انګریز استعمار د پټو او ښکاره مداخلو له امله د افغان او انګریز تر منځ پرلپسې جګړې رامنځ ته شوې. ددغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګونو له امله افغانان راویښ شول او د مرکزي حکومت د جوړولو او د ملي یووالي د ساتلو له پاره یې په یو لړ اساسي اصلاحاتو پیل وکړ. (۱۵: ۱۱-۱۲)

په افغانستان کې په ریښتینې توګه مطبوعات او اطلاع رسونه د نوي افغانستان له تشکیل څخه وروسته پیل شوې ده. له دې وړاندې له یوې خوا په افغانستان کې د ملي وحدت لرونکې دولت موجود نه وو، یعنې کله به د افغانستان پولې د ګاونډیو هیوادونو په خاوره کې پراخوالی وکړ او کله به هم د ګاونډیانو سیاسي نفوذ زموږ به خاوره کې پراخوالی کاوه، بناً ممکنه نه ده چې د څو مختلفو او ډول ډول دولتي سیستمونو لاندې د افغانستان د مطبوعاتو مطالعات پرمخ یوسو. له بلې خوا مطبوعات د نن په څېر یوه ملي او داخلي پدیده نه وه؛ بلکې یوه پردۍ او صادره شوې پدیده وه، چې لویدیځ کلتوري ممیزات یې درلودل ،د انګریز د استعمار په پیل کېدو سره یې په ختیځ کې وده وکړه،د استعمار او استعمار ګرانو سره یې په یوه وخت کې د عمل لاره ختیځ او په ځانګړې توګه افغانستان ته خلاصه کړه.په همدغه مهال امیرشیرعلي خان د خپل اهلیت او کفایت څخه په کار اخیستنې د خپل امارت په دوهمه دوره کې په لومړي وار د عصري مطبوعاتو د رامنځ ته کولو لپاره هیواد ته سنګي مطبعه راوړه او د مطبوعاتو چاپول یې پیل کړل. (۲۱: ۵۳۷-۵۳۹)

خو ځینې څېړونکي وایي چې ګویا د امیرشیرعلي خان له دوهمې دورې وړاندې د هغه د مخالف ورور محمداعظم خان په دوره کې د لومړي ځل لپاره د سیدجمال الدین افغان تر نظر لاندې د کابل جریدې په نوم یوه جریده په کابل کې خپریدله، دلته اړینه ده چې دا روښانه شي چې آیا رښتیا هم د امیرمحمداعظم خان په دومره لنډه دوره کې دا لوی ګام پورته شوی دی او کنه؟

هغه اثار او کتابونه چې د سیدجمال الدین افغان د علمي، فلسفي، سیاسي، فرهنګي، اجتماعي او ژورنالیستي فعالیتونو په اړه لیکل شوي دي د هغوی له جملې څخه « سیدجمال الدین افغاني و افغانستان » په نوم کتاب کې د هغه د "جریده کابل" په نامه خپرونې څخه هم یادونه شوې ده؛ چې د امیر محمد اعظم خان په وخت کې چاپیدله. سیدجمال الدین له ځوانۍ څخه د محمداعظم خان ښوونکی او مشاور پاتې شوی و. د افغانستان د همدغه واکمن په وخت کې د کابل جریده د سیدجمال الدین افغان تر نظر لاندې خپریدله.د « سیدجمال الدین افغاني و افغانستان » د کتاب لیکوال زیاتوي چې د کابل جریده لومړنۍ جریده وه چې د افغانستان د مطبوعاتو په آسمان کې وځلیده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سيدجمال الدين افغان تر سرمحررۍ لاندې د کابل د جريدې د خپريدو په اړه مختلف نظرونه موجود دي. يو شمېر څېړونکي يې د شتون په اړه او ځينې يې د نه شتون په اړه خپل دلايل لري. هغه شمېر څېړونکو کې چې د کابل د جريدې شتون او خپريدل تائيدوي، په هغوی کې يوه ډله د خپل دليل د اثبات لپاره د سيدجمال الدين افغان په اړه د څېړونکو ليکنې او اسناد کافي بولي. بله ډله څېړونکي وايي چې د کابل جريده چاپي نه وه؛ بلکې په قلمي ډول په څو محدودو نسخو کې خپره شوې وه. يوه ډله څېړونکي وايي چې دا يوه ديوالي جريده وه او د کابل ښار په اعلان ځايونو کې نصب کيده. دا درې واړه نظرونه ددې څرگندونه کوي چې د کابل جريده په قلمي او يا ديوالي ډول موجوده وه.( ۲۷: ۱۴۷-۱۵۰)

خو بله ډله څېړونکي بيا په دې باور دي چې په دې نوم کومه جريده موجوده نه وه او نه هم د امير محمداعظم خان په دوره کې د سيدجمال الدين تر مسؤليت لاندې کومه جريده خپريدله.دوی باور لري چې د اميرمحمداعظم خان د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې مطبعه موجوده نه وه او د هغې دورې هيڅ ډول چاپي اسناد زموږ لاسته نه دي راغلي؛ نو چې کله مطبعه شتون ونه لري هيڅ ډول چاپي خپرونه به هم شتون ونه لري. همدارنگه دوی وايي چې که چيري په دې نوم کومه قلمي يا ديوالي جريده خپره شوې وای؛ نو هرومرو به يې کومه نسخه او نښه راپاتې وای.

ځينو څېړونکو باور ښودلی دی چې کيدای شی د کابل جريده به د امير محمد اعظم خان په واکمنۍ کې نه؛ بلکې د اميرشيرعلی خان په وخت کې د سيدجمال الدين افغان تر سرمحررۍ او مسؤليت لاندې خپره شوي وي. خو دغه نظر ته هم ځينې څېړونکي د شک او ترديد په سترگه گوري؛ ځکه دوی وايي چې د کابل د شمس النهار د جريدې ترڅنګ بيا هم د هغې کومه نسخه او بيلگه په لاس کې نه لري.

محمدکاظم اهنګ په خپل کتاب «سيرژوناليزم افغانستان » کې په بشپړ ډول د کابل په نوم جريدې د شتون او خپراوي په اړه منفي نظر وړاندې کړی دی. نوموړی ليکي، چې يو شمېر څېړونکي له دې امله د کابل د جريدې د شتون او خپريدو په اړه باوري دي، چې په پخوا وختونو کې د کابل خلکو د کابل شمس النهار جريده په لنډ ډول د کابل جريدې په نوم يادوله چې دا نوم همداسې راپاتې شو ؛ نو ځکه څېړونکي باور لري چې د کابل جريده د کابل شمس النهار جريدې په څنګ کې او يا له هغې څخه وړاندې يوه بله خپلواکه جريده او خپرونه وه.

خو بيا هم د ښاغلي آهنګ دغه استنباط د نن ورځې څېړونکو په حلقه کې پلويان نه لري او په اړه يې د تائيد نظر نه شي ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نن ورځې ځیرونکي د رایو په یووالي سره په دې باوري دي او په غوښ ډول نشي ویلای، چې دا جریده به د امیرمحمداعظم خان او یا هم د امیرشیرعلي خان پر مهال د سیدجمال الدین افغان تر مسؤلیت لاندې خپره شوي وي او هم دا نه شو ردولای چې سیدجمال الدین افغان به د شمس النهار د جریدې څخه وړاندې هیڅ ډول مطبوعاتي فعالیتونه نه درلودل. تر هغه چې ددې جریدې په اړه کوم اسناد په لاس رانه شي د شتون او نه شتون په اړه یې نظر هم نه شو ورکولای.(۲۱: ۲۰-۲۲)

په هر صورت په واضح ډول ویلای شو، لکه څرنګه چې د امیرشیرعلي خان په وخت کې نور عصري اداري سیستمونه رامنځ ته شول، په کلتوري او ښوونیز ډګر کې یې لوی ګامونه پورته کړل په همدې ډول د افغانستان عصري مطبوعات هم د امیرشیرعلي خان د حکومت په دوهمه دوره کې پیل شول چې تر دې مهاله یې مختلف پړاونه وهلي دي .

هغه مهال چې امیر د پلار سره په هندوستان کې د سیاسي تبعید ورځې تیرولې؛ نو دده پاملرنه د هند د نورو تمدني عناصرو سربیره عصري مطبوعاتو هم جلبوله او پوهیده چې دغسې مطبوعات د ټولنې د روښانه کېدو او ویښتابه لپاره ډېره اغیزناکه وسیله ده. په همدې ډول سیدجمال الدین په خپله وصیت نامه کې امیر ته د مطبوعاتو توصیه کړې وه. همدارنګه د امیر د کابینې ټول غړي په ځانګړي ډول سیدنورمحمدشاه یو منور شخص و او دې کابینې د عصریت د رامنځ ته کولو او پاللو ظرفیت درلود، حتی قاضي قادر چې د انګریزانو جاسوس او وطن ته خاین سړی و؛ خو په فرهنګي کارونو کې یې ښه ونډه درلودله او د امیر مطبوعاتي منشي او ژباړن و.

امیر ته د هندوستان ټول جراید راتلل او د قاضي قادر په واسطه ورته ژباړل کیدل، یعنې امیر په خپله یو خبیر او روښانفکره سړی و. (۲۸: ۱۰۱-۱۰۲)

افغانستان ته د راغلي روسي هیئت یو غړی او ددې هیئت معالج ډاکټر یاروسکي هم په خپل اثر کې د هغه وخت د هندوستان جرایدو ته اشاره کړې او لیکلي یې دي چې : ''د هند د الله آباد د سیمې د هند د منبر (تربیون اف انډیا) په نوم ورځپاڼې یو څو ګڼې مو ترلاسه کړې او د انګریزي ژبې ژباړونکي په واسطه راته وژباړل شوې او پوه شوو چې افغانستان ته د روسې پلاوې سفر د انګریزانو له لورې په ډېر غور او ځیرنې څارل کیږي.''( ۹: ۲۰۹)

د امبالې په سفر کې د امیر په امر لومړنۍ سنګي مطبعه واخیستل شوه ، کابل ته انتقال شوه او په ۱۸۶۹م کال کې د بالاحصار سره نږدې نصب شوه. (۶: ۵۹۳) په دې سره په هیواد کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطبوعاتو، کتابونو، رسالو او د نورو دفتري رسمي کاغذونو د چاپولو لړۍ پیل شوه، چې له امله یې د لومړي ځل لپاره په هیواد کې عصري مطبوعات او د سیاسي تفکر د خاوندانو یو نوی قشر راپورته شو.

په افغانستان کې د طباعت مرحله د درو مطبعو په موجودیت کې پیل شوه. تر ټولو لومړی یې د شمس النهار مطبعه وه او ددې مطبعې چلوونکی او مهتمم میرزا عبدالعلي خان کابلي و. نوموړي د هغه وخت زده کړو او خطاطۍ سره بلدتیا درلودله او د ژور لید څښتن و. د شمس النهار مطبعه د «مطبع شاهي» په نوم هم یادیدله،چې د دولتي مطبعې مفهوم ورکوي، لا تر اوسه هم په کابل کې د هیواد لویه مطبعه د دولتي مطبعې په نوم یادیږي. د شمس النهار مطبعه کې د میرزا اغلام احمدخان څرخي تر محررۍ لاندې د شمس النهار جریدې سربیره کتابونه، رسالې، رسمي پاڼې او د ډاګخانې ټکټونه هم چاپیدل.

د امیرشیرعلي خان د وخت یوه بله مطبعه د مصطفاوي مطبعې په نوم یادیدله، چې د کابل د بالاحصار څخه د باندې د سردار شیرعلي خان کندهاري په سرای کې یې د طباعت چارې پرمخ وړلې. مصطفاوي مطبعې څخه د «قواعد رساله» په نوم یوه رساله په یادګار راپاتې ده،چې د میرزا احمدخان صادق په اهتمام چاپ شوې ده.

دریمه مطبعه چې د پورته دوه نورو مطبعو په څنګ کې یې طباعتي چارې پرمخ وړلې د مرتظاوي په نوم یادیدله. د شمس النهار جریدې یو شمېر ګڼې هم په همدغه مطبعه کې د میرزا عبدالعلي خان کابلي په اهتمام په چاپ رسیدلې وې او د همدغې مطبعې چارې یې هم په غاړه وې.

باید یادونه وکړو چې د پورته درې واړو مطبوعو چارې په سنګي طریقه پرمخ وړل کیدې. د سنګي طبع کولو طریقه د نړۍ د طباعت په تاریخ کې د حروفې طریقې څخه وروسته رامنځ ته شوې ده، کارونه یې ساده او په کم لګښت سره پرمخ تلل؛ نو ځکه خپروونکو هم له دې ډول طریقې څخه ډېره ګټه اخیستله.

که څه هم په افغانستان کې د طباعت د پیل مرحله د همدغو درې مطبعو په واسطه پیل شوه او په لږ ظرفیت سره یې د طباعت چارې پرمخ وړې؛ خو په افغانستان کې یې د علمي کلتور او ژورنالیزم ځلانده بنسټ کیښود او تر ټولو جالبه خبره داده چې سربیره پردې چې په هیواد کې ددغه صنعت پیل ډېر ابتدایي و؛ خو پیل یې د هیواد د خپلو علمي او فني شخصیتونو لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرزاغلام احمد ثرخي، میرزا عبدالعلي خان کابلي او مرزا احمد صادق خان په واسطه وشو، چې د افغانستان د مطبوعاتو په تاریخ کې یې نومونه د تل لپاره ژوندي پاتې شول. (۱: ۵-۷)

د مطبوعو د راتګ څخه وروسته د مطبوعاتو او د کتابونو رسمي لړۍ پېل شوه او د سیدجمال الدین د اصلاحي برنامې سره سم په ۱۸۷۳م کال کې د شمس النهار لومړنۍ ګڼه له چاپه راووته. دغې جریدې خپل ځانګړې لوحه او نښان درلوده، په دې لوحه کې دوه زمریان لیدل کیږي چې په یوه لاس کې توره او بل لاس د دواړو ترمنځ د شمس النهار عنوان لیدل کیږي او اندازه یې ۱۲×۲۶ سانتي متره وه. لومړنۍ ګڼې یې په دوو مخونو کې وې، چې وروسته شپاړسو مخونو ته لوړه کړای شوه او په نستعلیق متن به هرو دوو اونیو کې چاپ کیدله. (۲: ۳۴)




د جریدې په متن کې له سرمقالې پرته بهرني خبرونه، د افغانستان د ولایاتو پېښې او خبرتیاوې او داسې نور معلومات ځای پر ځای کیدل. د متن د لیکلو ژبه یې فارسي وه ؛خو ځینې پښتو لیکنې هم پکې لیدل کیدې. د لکنې ژبه یې ډېره سخته او پخوانۍ مقیده فارسي وه، چې یو ساده مطلب به په ډېرو اضافي کلماتو کې بیانیده. ډېره برخه یې د دولت په ګټه تبلیغاتو ته ځانګړې شوې وه او همدارنګه د ادبیاتو له نشر سره په تملق او مبالغه د امیرشیرعلي خان د شخصیت ستاینه په کې کیده، چې له عامې ژبې او عامه مطبوعاتو سره یې توپیر درلود.

خو ددې سربېره دې جریدې د خلکو د اذهانو د روښانتیا او تنویر کولو لپاره هم یو شمېر مقالې چاپولې د بیلګې په توګه د یوې مقالې په یوه څنډه کې یې داسې لیکلي دي: د افغانستان خلکو د پنبې له کرنې څخه زیان لیده؛ ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه يې په لړه بيه پر انګلستان خرڅوله او د هغو په عوض به يې ګران او قيمت توکران لاس ته راوړل او دا له دې کبله و چې دغو خلکو خپل علم او کمال نه درلود. (۲۸: ۱۰۱)

شمس النهار له هيواده بهر هم لوستونکي درلودل او په هغې کې يې ګډون کاوه. د هرې ګڼې بيه ( لس آنې ) د هغه وخت مروجې پيسې وې، چې په هند کې هم معمولې وې. (۴: ۳۸)

د پورته ټولو ځانګړتياو په درلودلو سره د اميرشيرعلي خان د دورې مطبوعات او په ځانګړې ډول د کابل شمس النهار جريده د سيمې په کچه يوه پرمختللې او مترقي جريده وه، ځکه نوموړې جريدې نه يوازې دا چې د هيواد او سيمې خبرونه يې خپرول؛ بلکې دې جريدې محلي صنعت او د خلکو په ژوند کې د هغوی ارزښت، عامه امنيت او د عامه رفاه مسايل په ډېر ښه ډول بيانول. په دې برخه کې به د افغانستان معاصر تاريخ د شمس النهار بنسټګر اميرشيرعلي خان خدمتونه له ياده ونه باسي.

## معماري، صنعت او سوداګري

ددې لپاره چې د کابل په ښار کې د دولت عسکر او لښکرې د خلکو مزاحمت او ځورونې لامل نه شي اميرشيرعلي خان پريکړه وکړه چې د بې بې مهرو د غونډۍ په شاوخوا کې د شير پور په نامه يو ټينګ ښار ودان کړي؛ نو ځکه يې په ۱۸۷۰م کال کې د مهندسانو په واسطه ددې ښار نقشه برابره او د عمل ډګر ته يې وړاندې کړه. دغه ښار د بي بي مهرو غونډۍ په شاوخوا کې په ۲ زره جريبه ځکه کې تر پلان لاندې ونيول شو. د ديوالونو لوړوالی يې ۲۰ فوټه او سور يې ددې وړتيا درلوده، چې توپ پرې ځرخيدلی شو. خټه يې د فيلانو په واسطه پخيدله. ددې ښار يوه پوځي قشله چې د کتنې وړ ګنجايش ولري په پام کې نيول شوې وه.

له پنځو کالو څخه د زياتې مودې لپاره د ورځې( ۶ ) زره کارګران او يو زر معماران او ترکاڼان په دې ودانۍ کې په کار بوخت وو. عسکرو ته پر اصلي معاش سربيره د مياشتې پنځه روپۍ هم ورکول کيدې، څو خپلو ورځنيو چارو ته هم پاملرنه ولري؛ خو د معمارانو اجوره هره ورځ په نغدي توګه د دولت له خزانې څخه ورکول کيده. په داسې حال کې چې پخوا د سړکونو، لارو او ودانيو جوړولو کارونه جبري وو او د بيګار په ډول به ترسره کيدل او دغه کار به زياتره پر عامو خلکو او بزګرانو کيده او تحميلي بڼه يې درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې ښار ټول کارونه بشپړ نه شول او د افغان او انګریز په دوهمې جګړې سره يې کارونه نیمګړي پاتې شول، چې وروسته د وخت په تیریدو ړنګ شو.ددې ښار په یوه څنډه کې جنګي کلا آباده شوه او د محمدظاهر شاه د واکمنۍ په وخت کې هم ددې کلا په منځ کې ځینې ودانۍ جوړې شوې چې تر یوې اندازې د عسکرو د ځای پر ځای کولو محل ګڼل کیده او همدارنګه عسکري لوژستیک او د اردو روغتون هم په کې ځای پرځای شو. (۲۶: ۴۵ـ ۴۶)

دا چې په هیواد کې مرکزي اداري ټینګښت پیدا کړ، اقتصادي، صنعي، سوداګرۍ او د څارویو روزنې ته هم پاملرنه وشوه. د دولت په هڅو سره او د امنیت په موجودیت کې لویې لارې جوړې او سوداګریزې اسانتیاوې رامنځ ته شوې، امیرشیرعلي خان د هیواد د کرنیزو تولیداتو پرمختیا ته هم پاملرنه وکړه او هم يې په بزګرانو باندې د رسمي مالیاتو دروند بار سپک کړ.

په دې دوره کې په صنعت کې ډېره پاملرنه نظامي صنعت ته شوې ده د بیلګې په توګه په هغه دوره کې د اردو د تجهیز لپاره د توپ جوړولو، ټوپک جوړولو او باروت جوړولو فابریکې جوړې شوې. د خارجي توپونو، ټوپکو او د پخوانیو وسلو سربیره هغه مهال په میاشت کې یو توپ د کابل په نظامي فابریکو کې جوړیدو. ټوپکونه او باروت هم په ډېره اندازه په دې کارخانو کې تولید کیدل. (۲۹: ۵۹۴- ۵۹۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## هغه لاملونه چې د نوي مدنیت هڅې یې زیانمنې کړې

امیرشیرعلي خان د افغانستان د هغو امیرانو او پادشاهانو له جملې څخه دی، چې د زړه له تله یې غوښتل خپل هیواد ته ریښتینې خدمتونه ترسره کړي او خپل هیواد د پرمختللې نړۍ د هیوادونو په قطار کې ووینې. نوموړي د همدې موخې لپاره له هرې ممکنه لارې کار واخیست، مخکې پراته خنډونه یې له منځه یو وړل او په دې لاره کې چې له هرې ستونزې سره مخامخ شو مبارزه یې ورسره وکړه او په افغانستان کې یې داسې نوي بنسټونه کېښودل چې ځینې یې اوس هم په خپل ځای پاتې دي؛ مګر ددې ټولو کارونو سربېره په دې لاره کې د هغه دوامداره هڅې زیانمنې شوې او یو لړ لاملونه ددې سبب شول، چې نه یوازې یې د نوي مدنیت بهیر په ټپه ودراوه؛ بلکې امیرشیرعلي خان خپله پادشاهي او خپل ژوند هم پکې له لاسه ورکړ. دا لاملونه یو شمېر بهرني، یو شمېر د کور دننه او یو شمېر داسې هم وو، چې په خپله د امیر د یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیروتنو او خطاو څخه سرچینه اخلي. په دې څپرکي کې به په همدغو لاملونو بحث راټول کړو، چې د هغه وخت افغانستان د نوي مدنیت هڅې یې زیانمنې کړې .

## ددې دورې دوامداره نه پاتې کیدل

د افغانستان په تاریخ کې داسې ډېرې بیلګې شته، چې څو ځله یو شمېر واکمنانو د هیواد د آبادولو هلې ځلې پیل کړې او هڅه یې وکړه چې هیواد په سیاسي، اقتصادي او کلتوري توګه وده وکړي؛ خو یو شمېر بهرني او داخلي لاملونه سره یو ځای شوي او د پرمختګ پروسه یې ټکنی کړې ده او یا یې په بشپړ ډول له منځه وړې ده. د امیرشیرعلي خان نوې طرحې هم له ورته حالت سره مخامخ شوې .

د امیرشیرعلي خان د وفات وروسته یې زوی یعقوب خان واک ته ورسید او نوموړی په رواني او جسمي کمزورتیا اخته شخص و؛ ځکه چې پوره اته کاله یې په زندان کې تیر کړي وو او د دومره لوی مسؤلیت د ادا کولو وړتیایې نه درلوده. د نوموړي د حالت په اړه مؤرخ عطایي لیکي چې: "یعقوب خان تر بند وړاندې ډېر غښتلی او هوښیار سړی و، ډېر اداري او نظامي خدمتونه یې ترسره کړي وو او د هرات حاکم پاتې شوی و؛ خو د بند فشار او تجرید یې د بدن قوت او ځواک زبېښلی و او کله چې له بندي خانې راووت د چارو مسؤلیت هم ورته وسپارل شو، نو هیڅ نه پوهیده او حیران پاتې و چې څه وکړي ". (۲۸: ۱۲۱)

له یوې خوا د یعقوب خان دا ډول روحي او بدني حالت او له بلې خوا د انګریزانو مستقیم تیری ددې سبب شو، چې اداري انسجام ویجاړ، ګډوډ او حالات د اعتبار څخه بې برخې شي، له دې امله د امیرشیرعلي خان تګلاره له پلي کېدو څخه پاتې شوه.

د انګریزانو دوهم تیری یو بل لامل دی چې د امیرشیرعلي خان د مدنیت هڅې یې زیانمنې کړې په دې اړه رسول رهین لیکي چې: د انګریزانو دوهم تیري هیواد ته درانه زیانونه واړول، په دې مانا چې منظمه اداره له منځه لاړه، نظامي تشکیلات وران شول، د هیواد د پلازمینې مرکز د (کابل د بالاحصار ښار) وران شو، صنعتګر او کسبګر یې له وطن څخه د دفاع په لاره کې له منځه لاړل، د استالف صنعتي ښار او د غزني ښار سوداګریز بازارونه وسوځېدل، د کندهار او ننګرهار د ښار صنعتي ځایونه خالي او دښمن د نظامي استحکاماتو په توګه وکارول او د کابل، زابل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروان، کاپیسا، ننګرهار او کندهار کروندې شنډې شوې او په دې سره کرنه په اطرافو، صنعت او سوداګري په ښارونو کې له منځه لاړه. (۲۱: ۷۰- ۷۱)

همدارنګه د انګریزانو له تیري وروسته امیر عبدالرحمان خان چې ۲۱ کاله یې واکمني وکړه او نوموړي هم په بشپړ ډول د امیرشیرعلي خان د اصلاحاتو لړۍ تعقیب نه کړه؛ خو ځینې کارونه یې د یادولو وړ دي. د بیلګې په توګه نوموړي د توري او شلاق په زور په هیواد کې سراسري امنیت رامنځ ته کړ او هیچا ددې جرئت نه درلود، چې د نظام په خلاف راپورته شي او ځوک چې راپورته شول هغوی یې په پوره صلاحیت سره له منځه یووړل. له دې امله په هیواد کې پوره نظم رامنځ ته شو. تاریخ لیکونکی غلام محمدغبار د هغه مهال تاریخ لیکونکي میرزا یعقوب خان خافي د لیکنې په حواله لیکي چې غله پانسي کیدل او که چېرې به سوداګریز کاروانونه غلا شول نو خامخا به یې مالونه بېرته پیدا کیدل او سوداګرو ته سپارل کیدل. (۲۹: ۶۴۸)

حبیبي دده په اړه لیکي چې: '' امیر عبدالرحمان خان په کورنیو چارو کې زړور، جنګیالی او پیاوړی واکمن و، چې د مخالفانو په وژلو کې یې ساری نه درلود، دی نوښتګر او په نړیوالو پیښو پوه سړی و، څه نا څه لیک لوست یې هم زده وو، په دري ژبه یې ( پندنامه ) نومی کتاب او همدارنګه مشهور کتاب ( تاج التواریخ ) یې هم ولیکه. د ډاډمنو سپه سالارانو تر مشرۍ لاندې یې لکه غلام حیدرخان څرخي او فرامرز خان پیاوړی پوځ جوړ کړ، ځواکمنه جاسوسي شبکه یې جوړه کړه، په کار پوه حاکمان یې وګمارل، په ښارونو کې یې پوستې ځانګې خلاصې کړې، شرعي محکمې یې بیا ورغولې، شاهي مدرسه یې رامنځ ته کړه، چاپخونه یې جوړه کړه او د ټوپک جوړولو کارخانه یې هم ودانه کړه'' . (۱۰: ۳۲۵- ۳۲۶)

ددې ټولو کارونو سربېره بیا هم په کلتوري برخه کې، چې د امیرشیرعلي خان د دوري له بنسټیزو اصلاحاتو څخه شمېرل کیده پاملرنه ونه شوه. دده په اړه عطایي لیکي چې: عبدالرحمان خان په خپله بې سواده و او هم یې له باسواده انسان څخه ښه نه راتلل. ده د فهم او پوهې خاوندان یا له وطن څخه فرار کړل او یا یې په زندانونو کې وغورځول او په خپله ۲۱کلنه واکمنۍ کې یې یو ښوونځي هم تاسیس نه کړ. ( ۲۸: ۱۲۹ )

همدارنګه دده په اړه رسول رهین لیکي چې: امیر عبدالرحمان د امیرشیرعلي خان د وخت کابینه ونه منله او د دولت په مهمو مقامونو کې یې په هیچا اعتبار ونه کړ او ټول عمده دوایر یې په خپله اداره کول. نوموړي د کلتوري خدمتونو په برخه کې هم کومه څرګنده او ښکاره بیلګه نه لري چې یادونه ترې وشي. که څه هم امیر له نوي نړیوال کلتور او تمدن څخه خبرتیا درلوده؛ خو بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم دې برخې ته اعتنا ونه کړه او په ټول هیواد کې یې یو ښوونځې او یوه جریده هم رامنځ ته نه کړه، حال دا چې افغانستان په دواړو کې سابقه درلودله. یوازې امیر د لیتوګرافی مطبعې هیواد ته واردې کړې چې یو شمېر محدود کتابونه او رسالې چې د پاچا په اطاعت کې لیکل شوې وې او هم څو اداري قوانین وو، چې په دې مطبعو کې په چاپ ورسیدل.(۲۱: ۷۵)

دا او دې ته ورته لاملونه ددې سبب شول چې د امیرشیرعلي خان د اصلاحاتو لړۍ یې له مخکې تګ څخه راوګرځوله او دوامداره پاتې نه شوه.

## له تزاري روسیې سره تمایل

په دوهم څپرکي کې مو د امیرشیرعلي خان دربار ته د روس استازي ستالیتوف د راتګ په اړه معلومات وړاندې کړل؛ او وموليدل چې روسیې د خپلې موخې د ترلاسه کولو لپاره استازی راالیږلی و او کله یې چې موخه ترلاسه کړه پرته له دې چې کوم رسمي سند لاسلیک شي امیر ته د غوړو وعدو په ورکولو سره، خپل استازي ور وغوښت او امیر یې د انګریزانو ډبولو ته یوازې پرېښود. خو دلته بحث دادی، چې ولې امیر له روسیې سره تمایل درلود او دې تمایل کومې پایلې درلودې.

امیرشیرعلي خان د امارت له لومړیو وختونو څخه په داخلي سیاست کې د یوې مرکزې قوي اداري او د داخلي اصلاحاتو پلوی شخص و او په خارجي سیاست کې یې غوښتل چې هیواد یې خپلواک وي او نه یې غوښتل چې د افغانستان له خاورې څخه کوم بل ګاونډي هیواد ته ضرر ورسیږي، په ټوله کې د ده خارجي سیاست په مسالمت امیز او له ګاونډیانو سره د ښو حسنه اړیکو په اساس ولاړ و.

نوموړي ددې موخې لپاره هلې ځلې وکړې، د امبالې، سملې او پیښور کنفرانسونو کې یې د همدې موخې لپاره ګډون وکړ، تر څو انګریزان اړ کړي چې پخواني تړونونه د دوه اړخیزو اړیکو په اساس رامنځ ته کړي؛ خو انګریزانو نه یوازې دا چې هغو پخوانیو تړونونو ته په احترام قایل نه وو؛ بلکې نوې غوښتنې یې درلودلې چې په اساس یې په بشپړ ډول د افغانستان خارجي سیاست د انګریزانو لاس ته لویده. امیرشیرعلي خان نه یوازې دا چې د پخوانیو تړونونو لغوه کول یې غوښتل د انګریزانو نوو غوښتنو ته هیڅ تسلیم نه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې سربېره امیرشیرعلي خان د یعقوب خان د بغاوت، د عبدالله جان ولیعهدي په رسمیت نه پېژندل، د سیستان د حکمیت په مسئله، له امیر سره د مشورې پرته د استازو او تحایفو رالیږل، د انګریزانو له خوا د کوټې او قلات نیول او په ځینو مکتوبونو کې د انګریز ترخې لهجې کارول او دې ته ورته په نورو مواردو کې امیرشیرعلي خان له انګریزانو سخت ناراضه و.

امیر دا ناراضیتوب په ښکاره ډول څرګند اوه، په دې اړه عطایي لیکي چې: کله به چې له امیر سره د انګریزانو له خوا ناخواله وشوه نو بد کلمات به یې استعمالول په زوره به یې ناري وهلې چې دا د ارنوت قوم غواړي ما خپل قوم ته سپک کړي. (۲۸: ۹۴)

په دې ډول د امیرشیرعلي خان او انګریزانو ترمنځ اړیکې ورځ تر بلې د کړکیچ په لور روانې وې؛ خو کله چې په انګلستان کې محافظه کار ګوند واک ته ورسید او په هند کې د لارډ نارټ بروک پر ځای د فارورډ پالیسۍ سخت طرفدار لارډ لټین واک ته ورسید؛ نو دا کړکیچ د بحران اخري حالت ته ورسید او انګریزانو پر امیرشیرعلي خان نیغ په نیغه فشارونه وارد کړل. له دې امله امیرشیرعلي خان د انګریز په دوستۍ بې اعتماده او د روس په دوستۍ یې باور وکړ.

د روس د استازي مل ډاکټر یاروسکي په خپلو یاداښتونو کې لیکلي چې امیرشیرعلي خان له روسي استازي سره په خپله لومړنۍ ناسته کې داسې وویل: ''مخکې له دې چې زما اړیکي له انګریزانو سره خرابې شي، هغوی ډېره هڅه وکړه، چې ما خپل ځان ته جلب کړي ، ددې لپاره چې ما خپل طرفدار کړي، هر څه یې چې په توان کې وو دریغ یې نه کړل، د وسلې، پیسو، صنعتي فابریکو او د فني متخصصینو او داسې نورو مرستو وعدې یې وکړې؛ خو زه په دې ښه پوهیدم چې دغه مرستې او وعدې په پټه کې له ځانه سره څه راوړي، څه چې دوی له هندي امیرانو او سردارانو سره وکړل پوره خبر وم؛ نو روسانو سره مې دوستۍ ته ترجیح ورکړه او ومې غوښتل، هغه څه چې ځلوېښت کاله مخکې زما پلار په نظر کې درلودل، هغه ته عملي بڼه ورکړم.''(۴۲: ۷۷)

امیر ددې هیله درلوده چې د روس د استازي په وجود او د روس د دوستۍ په اعلان سره به پر انګریزانو تهدیدات او فشارونه وارد کړي، مګر انګریزانو ددې تهدید په وړاندې په چټک ډول عمل وکړ او د نظامي تیري لاره یې غوره کړه او د امیر تهدیدات یې خنثی کړل.

په داسې حالاتو کې اړینه وه چې امیرشیرعلي خان له روسانو سره د دوستۍ له هغې پخوانۍ تجربې درس اخیستی وای کومه چې د هغه پلار امیر دوست محمدخان په وخت کې اجرا شوې وه، ځکه هغه وخت د ویتکوویچ په راتګ سره انګریزانو په افغانستان لومړی تیری وکړ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړې اور د روسانو په لاس بل شو؛ خو روسانو هڅه ونه کړه چې دا اور مړ کړي او افغانان یې انګریزانو ته پرېښودل.

دا ځل هم هغه ورته حالت رامنځ ته شو او کله چې ستالیفوف بېرته ستنیده نو امیر ته یې وعده ورکړه، چې د روس ۳۰ زره پوځ چې په ترکستان کې د تیارسۍ په حالت کې ولاړ دی او ستاسو مرستې ته به راورسیږي. امیر د ستالیتوف په دې وعدې هیڅ شک نه درلود ځکه کافمن په خپل رسمي مکتوب کې ورته لیکلي وو، چې پر ستالیتوف داسې باور وکړه لکه تاسو یې چې د ترکستان د حاکم په توګه پرماکوئ.

په دې ډول امیر ته د ستالیتوف وعدې د کاڼې کرښې ښکاره شوې، د هغه په مشورو یې باور وکړ او د برتانوي استازي د منلو څخه یې راوګرځاوه. که چېرې د روس استازي له داسې یوې عهدنامې او د ګورنر جنرال کافمن له رسمي مکتوب سره کابل ته نه وای راغلی او خوش باوره امیر یې له انګریزانو سره د اړیکو پریکولو ته نه وای هڅولای؛ نو یقیناً چې انګریزانو به دوهم تیری نه وای ترسره کړی او دا ناورین به نه رامنځ ته کیدو.(۹: ۲۶۰- ۲۶۱)

## کورنۍ ستونزې

د امیرشیرعلي خان د دورې یوه بله ستره ننګونه چې د نوي مدنیت هڅې یې زیانمنې کړې هغه کورني اختلافات وو او دې ډول اختلافاتو په شاهي کورنیو کې د زمانشاه له وخته جریان درلود، چې افغانستان یې په هر اړخیزه توګه له ستونزو سره مخامخ کړی و.

د امیرشیرعلي خان لومړۍ دوره حکومت په همدغو کورنیو اختلافاتو تیر شو او ونه توانیده چې خپله کړنلاره او پلان تطبیق کړي؛ خو د حکومت په دوهمه دوره کې چې رقیبان ورونه یې مړه او بل لوي رقیب عبدالرحمان چې د هغه وراره او د امیر محمد افضل خان زوی و په بخارا کې د روسانو تر حمایت لاندې اوسیده لږ څه د آرام ساه واخیسته، امنیت یې رامنځ ته او د اصلاحاتو د پلي کېدو زمینه ورته برابره شوه.

مګر لږه موده وروسته یې زامن په وړاندې راپورته شول او دا ځل تر ډېره بریده دا کورنۍ ستونزې او اختلافات په خپله امیر د سیاسي تیروتنې له امله رامنځ ته شول، چې د ده د واکمنۍ د کاواکه کېدو سبب وګرځیدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر شیرعلي خان یوه لویه کمزوري داوه چې د شهزاده عبدالله جان مور بي بي عایشېورباندې ډېر نفوذ درلود، چې د هغه د عقل سترګې يې ړندې کړې وې. هغه د هیواد نازک سیاسي حالات او په دې لاره کې یې د کورني جنجال رامنځ ته کېدو ته هیڅ پاملرنه ونه کړه او اووه کلن زوی عبدالله جان یې رسماً د ولیعهد په توګه اعلان کړ او خپل مشر زوی یعقوب خان چې له ده سره یې د کابل په نیولو کې ډېره مرسته کړې وه او تر هرچا ډېر ددې منصب حقدار و له پامه وغورځاوه. یعقوب خان هم د پلار ددغې بې انصافۍ په وړاندې برالا بغاوت ته ملا وتړله او د هرات په لورې روان شو.

یعقوب خان له کابل څخه د حرکت کولو وروسته لومړی ځان کندهار ته ورساوه او د کندهار ښار يې کلابند کړ؛ خو دا چې د ښار د نیولو وس یې نه و د ګرشک په لور روان شو او د ګرشک حاکم ښار ته د ننوتلو اجازه ور نه کړه او په ګولیو یې ځواب ورکړ. یعقوب خان فراه ته ولاړ او ددې ځای حاکم میر افضل خان د پاتې کېدو بلنه ورکړه او ورته یې وویل چې په پسرلي کې به کابل ته ورسر لاړ شي او له پلاره به بخښنه ورته وغواړي. یعقوب خان د هغه خبره ومنله؛ خو سپه سالار فرامرزخان چې د یعقوب خان د نیولو دنده ورکړل شوې وه، دا وخت د ګرشک حدودو ته نږدې شوی و. میرافضل خان هڅه وکړه چې فرامرز خان د یعقوب خان له نیولو څخه راګرځوي؛ خو فرامرز تګ ته ادامه ورکړه؛ ځکه نو میرافضل خان یعقوب خان ته خبر ورکړ چې ځان ګوښه کړي او هغه لومړی سیستان او بیا بېرته غوریانو ته را وګرځید او د غوریان کلا یې ونیوله.

د هرات والي فتح محمدخان چې د یعقوب خان په توصیه د هرات والي شوی و، خپل زوی محمد عزیزخان ته امر وکړ چې د غوریانو کلا بېرته له یعقوب خان څخه ونېسي؛ خو محمدعزیز خان چې د یعقوب خان د ښېګڼو قرضدار و ځان یعقوب خان ته تسلیم کړ او یعقوب خان په هرات حمله وکړه او د هرات ښار یې محاصره کړ. امیرشیرعلي خان د یعقوب خان په خلاف تازه دمه قواوې هرات ته ولیږلې، خو د هرات خلکو د ښار دروازې د یعقوب خان پرمخ خلاصې کړې او ښار فتح شو. فتح محمدخان او زوی یې محمد عزیز خان دواړه په جنګ کې زخمیان او بیامړه شول او یعقوب خان په خپلواکۍ سره په هرات کې حکومت پیل کړ.

سپه سالار فرامرز خان د هرات د نیولو په موخه یو ځل بیا په جګړې لاس پورې کړ او د ادرسکن په سیمه کې د سختې جګړې په نتیجه کې د کابل د ځواکونو دوه لوی افسران، سردار خان او جنرال فتح علي شاه خان ووژل شول. په همغه شپه یعقوب خان، سپه سالار ته لیک ولیږه چې په هغه کې یې لیکلي وو، چې تر اوسه په هرات کې د خپل پلار په نامه خطبه وایم او د هغه اطاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو ته تیار یم او له پلار څخه درې غوښتنې لرم، یا مې دې وبخښي او خپل حضور ته مې دې وبولي، یا دې راته ووايي چې له هیواد ووځه او یا دې د بخښلو وروسته د هرات حکومت راوسپاري. فرامرز خان او سردار اسلم خان د هغه د لیک په ځواب کې ولیکل، چې که ربښتیا هم غواړې د پلار اطاعت وکړې، ورور دې سردار ایوب خان په هرات کې پرېږده او ځان کابل ته ورسوه. په همدې وخت کې اسلم خان او د دوه نورو قاتلانو په دسیسه کې سپه سالار فرامرز خان ووژل شو او د دوی دسیسه رسوا او امیرشیرعلي خان هغوی ونیول او زندان ته یې واچول.

یعقوب خان په هرات کې خپل ورور ایوب خان پرېښود او د بخښنې د غوښتلو لپاره یې په کابل کې د پلار حضور ته ځان ورساوه. امیرشیرعلي خان هم هغه وبخښلو او دوه میاشتې وروسته یې بېرته هرات ته د حاکم په توګه ولیږه. (۸: ۳۲۸-۳۳۱)

په همدغه وخت کې د یعقوب خان د بخښلو په اړه د هند وایسرا لارډ مایو لیک راورسید او له امیر نه یې په ټینګه غوښتي وو، چې له زوی سره روغه وکړي. په دې سره امیر دا خبره په کورنیو چارو کې د انګریزانو لاس وهنه وبلله او فکر یې وکړ، چې ګویا یعقوب خان د انګریزانو په لمسون دغه کارونه وکړل، حال دا چې داسې نه وه بلکې داد انګریزانو یوه بله دسیسه وه چې امیر ته یې په کورنۍ کې مخالفتونه را پیدا کړل. (۳۸: ۱۴۱)

په دې سره د پلار او زوی تر منځ دوستۍ ډېر دوام ونه کړ او په ۱۸۷۳کال کې یعقوب خان په خپله خوښه له ډېرو سوغاتونو سره کابل ته راغی؛ خو امیر په ډک دربار کې پر هغه غصه شو او په هغه یې د بغاوت تور ولګاوه او هغه ته یې اختیار ورکړ چې یا په کابل کې زندان قبول کړي او یا په هرات کې د امیر د لښکر انتظار وباسي. یعقوب خان په کابل کې زندان قبول کړ او امیر په لوی لاس له یوه لایق زوی څخه ځان محروم کړ. (۸: ۳۳۱-۳۳۲)

څه وخت چې یعقوب خان بندي شو نو بل ورور ایوب خان یې په بغاوت راپورته او په هرات کې یې د خپلواکۍ اعلان وکړ؛ خو د امیر د پوځ په وړاندې له ماتې سره مخامخ شو او ایران ته یې پناه یو وړه. په دې ډول امیر خپل ځوان او په کار پوه زامن په خپله له لاسه ورکړل او د هیواد په اداره کې یې ترې ګټه وانخیسته.

بله مهمه پیښه چې په سلطنتي کورنۍ کې رامنځ ته شوه هغه د امیر محمداعظم خان زوی د محمدسرورخان بندي کیدل و، چې د پلار تر مړینې څخه وروسته له ایران څخه راغلی و. نوموړي یعقوب خان د خپل پلار په وړاندې تحریک کړی و؛ خو یعقوب خان هغه ونیوه او کابل ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیږه او هلته د امیر له خوا بندي شو. همدا ډول محمداسلم خان د فرامرز خان د قتل په تور له خپل اعیاني ورور محمدحسین خان سره بندي شو. محمد اسلم خان لږ وروسته په زندان کې دوه نور ورونه محمدحسن خان او محمدقاسم خان ددې لپاره ووژل، چې ځانونه یې د امیر طرفدران ثابت کړي وو. په دغه کار سره امیر نور هم متاثره شو او په کورنۍ کې نفاق نور هم ډېر شو. (۴۲: ۴۱)

## مـونـدنـې

د افغانستان په تیر تاریخ کې داسې د عطف او پام وړ پېښې شته چې د څیړنو او پلټنو لپاره اړین ظرفیت لري. د همدې شمېر عطف نقطو څخه د افغانستان په تاریخ کې یوه د پام وړ دوره د امیر شیرعلي خان واکمني او په ځانګړې توګه د هغو اصلاحاتو په اړه څیړنه او پلټنه ده چې د هغه مهال د واکمنې اداري له خوا مطرح شوي دي.

ددې سره سره چې یو شمېر نامتو مؤرخینو په دې اړه اړینې څیړنې او معلومات وړاندې کړي دي خو لا هم داسې ټکي شته چې نورو څیړنو ته اړتیا لري. د همدې دورې ټولې ناڅرګنده او پټې خواوې باید برملا شي چې زموږ د هیواد تاریخ دا ځلانده دوره لا د پوهیدلو وړ وګرځي.

ددې لیکنې په جریان کې له لاندې مواردو سره ډېر مخامخ شوم.

۱- امیر شیرعلي خان غوښتل چې په سیمه کې د یو منل شوي ځواک په توګه تبارز وکړي او دا هغه وخت شونې وه چې امیر د دولت بنسټونه ځواکمن کړي وای او د وخت د غوښتنو په اساس دا د امکان څخه بهر وه چې د دولت بنسټونه په هماغه پخوانۍ طریقه ځواکمن شي. نوموړی په دې پوهیده چې د معاصرو دولتونو په څېر باید معاصر تمدني عناصر رامنځ ته شي، سیاسي، اقتصادي او ټولنیز بنسټونه ځواکمن شي او په دې ډول له بهرنیو تیریو څخه د افغانستان ساتنه وکړي.

۲- امیر شیرعلي خان د نوي تمدن او د سیاسي سیستم بنسټونه کیښودل او تر څو پورې یې چې په واک کې و، هغوی ته یې په دوام ورکولو، پرمختګ ورکولو او لا ځواکمن کولو کې خپلې هلې ځلې جاري وساتلې؛ خو د نوموړي تر مړینې وروسته په بشپړ ډول د هغه په ایښودل شوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټونو نوې ودانۍ جوړې نه شوې او دا هیواد د یوې مودې لپاره له پرمختګ څخه محروم پاتې شو.

۳- امیر شیرعلي خان غوښتل چې په بهرني سیاست کې خپلواکي ترلاسه کړي؛ نو ځکه یې له انګریزانو سره هیڅ ډول نوي تړونونه لاسلیک نه کړل؛ بلکې پخوانیو لاسلیک شویو تړونونو کې یې هم له سره کتنه او تعدیلات غوښتل او له انګریزانو څخه یې جدي غوښتنه دا وه چې تیر تړونونه دې اصلاح شي او د دوه اړخیزو اړیکو په اساس دې له سره لاسلیک شي.

۴- امیر شیرعلی خان د نوي تمدن د ایجاد هڅې د هیواد پر انکشاف اغیزمنې وې، نوموړي دا کار ښه په جرئت سره ترسره کړ خو دا هم باید ومنو چې امیر د یو شمېر اشتباهاتو چې د موضوع په متن کې یې یادونه شوې ده مرتکب شو چې له امله یې رامنځ ته شوې طرحې زیانمنې شوې.

پورتنیو توضیحاتو ته په پام باید ووایو چې د امیر شیرعلي دوهمه دوره واکمني او د هغه اصلاحي کړنې له هره اړخه د اهمیت او ارزښت وړ دي. پکار ده چې دا واکمن د هیواد د هغو واکمنانو او مشرانو په قطار کې وشمېرو ، چې دې هیواد ته یې ریښتینې خدمتونه ترسره کړي دي او ددې هیواد له ځمکنۍ بشپړتیا څخه یې ساتنه کړې ده.

## مناقشه

د امیر شیرعلي خان د خدمتونو او په افغانستان کې د عصري ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ټولنیزو سیستمونو د ایجاد په اړه بیلابیلو پوهانو څېړنې ترسره کړي دي. غواړم چې په دې برخه کې دا څېړنې سره پرتله او یوه کوچنۍ مناقشه رامنځته کړم، تر څو ددې لیکنې مهمې او ځانګړې برخې په سم ډول روښانه شي .

مؤرخ غبار د امیر شیرعلي خان په اصلاحاتو کې د هغه فکري وړتیا له پامه نه غورځوي، خو ددې په څنګ کې ددې واکمن پر مهال د علامه سیدجمال الدین افغان له فکري اغیزې څخه هم سترګې نه پټوي او زیاتوي چې سیدجماالدین افغاني نه یوازې چې په افغانستان؛ بلکې په ډېرو اسلامي هیوادونو کې د نوي تمدن د پراختیا او غوړېدا لپاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې کړې دي.( ۲۹: ۵۹۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول مؤرخ عطايي هم د اميرشيرعلی خان د نوي تمدن بيلګې يو په يو بيان کړې دي. په ځينو مواردو کې يې امير ستايلی؛ خو په ځينو مواردو کې يې د تاريخ د اصولو مطابق پر هغه نيوکې هم کړې دي. ځکه امير د خپلو ښو کړنو ترڅنګ ځينې تيروتنې هم کړې دي، چې بايد هر څيړونکی يې د تاريخ د ليکنې د اصولو مطابق بيان کړي. نوموړي د امير اداره په عصري پرنسيپونو ولاړه اداره بولي ځکه چې په دې برخه کې يې اصلاحات د ادارې له لوړې برخې څخه پيل کړي دي، يعنې لومړی يې عصري کابينه رامنځ ته کړه او په دې کابينه کې يې د هغه وخت په کار پوه او خبير کسان راټول کړل او تر ټولو ښه چاره يې دا وه چې په دې کابينه کې يې د خپلې کورنۍ او سردارانو څخه هيڅ څوک ونه ټاکل او د مختلفو قومونو او ژبو کسان يې په کې ځای پر ځای کړل. ددې غوره ټکي په څنګ کې يې د هغه په اداري او سياسي برخه کې د يوې ځواکمنې اطلاعاتي ادارې نه شتون ته د انتقاد ګوته نيولې ده؛ ځکه چې د يوه سياسي نظام په ساتلو کې ځواکمن استخبارات ډېر لوی رول لري او دا چې امير په خپل سياسي نظام کې له دې لوی او مهم ارګان څخه بې برخې و، له لويو ټکرونو سره مخامخ شو او له دې اړخه ورته ډېر زيانونه ورسيدل. دده په اداره کې د انګريزانو غټ جاسوسان ګرځيدل؛ خو نه ده او نه هم دده همکارانو وکړای شول چې دا خاينې څېرې رسوا کړي. (۲۸: ۱۰۰)

امير د نورو اصلاحاتو په څنګ کې د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې دعصري ښوونې او روزنې بنسټ هم کېښود. په پلازمېنه کابل کې يې يو ملکي او بل حربي ښوونځي تاسيس کړل او په دې برخه کې د امير پاملرنه تر دې بريده رسيدلې وه چې آن په خپله يې د ښوونې او روزنې بهير او د ازموينو له جريان څخه نظارت کاوه. (۳۳: ۱۹ـ ۲۰) خو بيا هم په عمومي ډول د امير شيرعلي خان د وخت پوهنيز بهير په دوو برخو وېشل کيږي، چې يوې ته يې عنعنوي بهير ويلای شو چې له ډېر پخوا څخه يې په افغانستان کې رواج درلود او دا بهير په کورونو او جوماتونو کې پرمخ روان و چې ډېری برخه يې ديني زده کړې وې.دوهم ته دولتي پوهنيز بهير ويلای شو، چې دا يوازې په پلازمېنه کابل کې د دولتي ځانګړي لګښت په واسطه پرمخ وړل کيده.

په ورته ډول مطبوعات هم له دغه ډول حالت سره مخامخ وو، که څه هم د کابل د شمس النهار جريدې په رامنځ ته کيدو سره په افغانستان کې اطلاع رسونه کې بنسټيز بدلون رامنځ ته شو او د اطلاع رسونې چاپي ميډيا هيواد ته معرفي شوه؛ خو دا چاره په هيواد کې سراسري نه شوه او په کليو او بانډو کې جار وهل، نغاره او ډول وهل په خپل حال باقي پاتې شول. د شمس النهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

جریدې په خپریدو سره د لویو ښارونو حاکمان بریالي نه شول، چې په پراخه توګه هیوادني او شخصي اطلاعات په چاپي ډول د هیواد هرې برخې ته ورسوي. (۲۱: ۵۳۹)

په نظامي برخه کې چې امیر کوم خدمتونه کړي دي، ډېر د پام وړ دي او اوس هم د افغانستان په نظامي سیستم کې د امیر شیرعلي خان د وخت بیلګې کتلی شو. ده یوه روزل شوې او مجهزه اردو جوړه کړه؛ مګر ده بیا هم په دې اردو باور ونه کړ او دده، ددې تیروتنې له امله د افغانستان د هغه وخت اردو بې موراله او خوره وره شوه. د انګریزانو د هغه وخت د نظامي چارو پاخه پوهان وايي چې که چیرې امیر هغه روزل شوې اردو د جګړې میدان ته راویستلې وای، خامخا به یې انګریزانو ته ماتې ورکړې وای. (۲۸ : ۱۰۳)

د امیر شیرعلي خان سیاسي ستونزې په دوه برخو وېشلی شو، یو کورنۍ سیاسي ستونزې او دوهم بهرنۍ سیاسي ستونزې.

په کورنیو سیاسي ستونزو کې یې له زامنو سره اختلافات وو چې دا اختلافات د هغه د خپلې سیاسي تیروتنې له مخې رامنځ ته شول، نوموړي تر نورو ډېر کوچنی زوی عبدالله جان د خپل ځای ناستي په توګه وټاکه، چې له دې امله یې مشران زامن له هغه خفه او ترمنځ یې خبره تر جګړو ورسیده.

دوهم بهرنۍ سیاسي ستونزې، هغه دا چې افغانستان د هند د لارې په سر پروت هیواد و او انګریزانو ویره درلوده چې روسان به د افغانستان له لارې په هند ورشي او په هند کې به د انګریزانو ګټې زیانمنې کړي، روسانو هم د انګریزانو د ویرولو په موخه ورځ تر بلې د مرکزې آسیا سیمې نیولې او د افغانستان سرحدونو ته نږدې کیدل. انګریزانو هم په ورته عمل لاس پورې کړ او د امیر شیرعلي خان په وخت کې تر کوټې راورسیدل. دوی یوازې د هند پر سر رقابت نه درلود، بلکې په اخوا اروپا کې یې هم د بالکاناتو پرسر هم لانجې روانې وې. ددې استعماري هیوادونو ترمنځ په جنجالونو کې تر هر بل هیواد افغانستان ته ډېر زیان ورسیده. افغانستان په ځان بسیا هیواد نه و چې ددې خطرونو مخه یې نیولې وای. د دواړو هیوادونو له خوا فشارونه وارد شول په ځانګړي ډول دا فشارونه هغه وخت ډېر شول، چې په هند کې د مخکې تګ پالیسۍ طرفدار لارډ لیټین واک ته ورسید او له امیر څخه یې داسې غوښتنې پېل کړې چې امیر هغه منلی نه شوای؛ ځکه د هغو غوښتنو له مخې افغانستان په بشپړ ډول د سیاسي خپلواکۍ څخه محروم کیدو. روسانو هم له امیر سره صداقت ونه کړ او کومې وعدې یې چې ورسره کړې وې په هغو یې عمل ونه کړ او د برلین په کنفرانس کې روسانو دا ومنله چې افغانستان د انګریزانو د نفوذ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیمه کې شامل دی، نو ځکه انګریزانو ته پر افغانستان د یرغل کولو زمینه مساعده شوه. په دې ځای کې باید ووایم چې امیر باید د انګریزانو په څېر په روسانو هم باور نه وای کړای او د دوی په اړه یې ژوره سیاسي مطالعه کړې وای؛ ځکه چې دا دواړه استعماري هیوادونه وو، هغوی ته د خپلو هیوادونو ګټې تر هر څه لوړې وې او یوازینۍ موخه یې داوه چې کمزوري هیوادونه مستعمره کړي.

هغه مهم کار چې امیر شیرعلي خان په بهرني سیاست کې رامنځ ته کړ هغه د مقابل لوري هیواد سره د دوو اړخیزو اړیکو په اساس د تړونونو او سیاسي هوکړه لیکونو رامنځ ته کول او مخکې له مخکې مقابل لوري ته د رسمي مصوبې وړاندې کول و، چې له ده څخه وړاندې کوم بل واکمن دا کار نه و کړی. د بیلګې په توګه له ده وړاندې چې کوم تړونونه د افغانستان دولت له انګریزانو سره لاسلیک کړي وو، مصوبه به یې د انګریزانو له خوامخکې له مخکې تیاره شوې وه او د افغانستان د دولت په استازې منل کیده. خو امیر شیرعلي خان چې کومې مذاکرې له انګریزانو سره وکړې خپلې غوښتنې یې د خپلو ګټو په اساس انګریزانو ته د یوې رسمې مصوبې په توګه وړاندې کړې. له یوې خوا امیر شیرعلي خان په خپل وخت کې له انګریزانو سره هیڅ ډول نوی تړون لاسلیک نه کړ او له بلې خوا یې غوښتل ټول پخواني تړونونه د دوه اړخیزو اړیکو په اساس تعدیل کړي .

امیر له انګریزانو سره په ټولو ناستو او په ځانګړي ډول د امبالې په کنفرانس کې ډېره هڅه وکړه، چې انګریزانو څخه د هیواد سیاسي خپلواکي ترلاسه کړي، په دې مانا چې امیر د انګریزانو له تجرید سیاست څخه په ښه ډول واقف و او هغه پوهیده چې افغانستان په بشپړ ډول په انزوایي حالت کې قرار لري، نو ځکه کې یې په هره ناسته کې بیا بیا دا وړاندیز کاوه چې نوي تړونونه دې د دوه اړخیزو اړیکو په اساس رامنځ ته شي.(۲۴ : ۹۶)

انګریزانو نه یوازې داسې ونه کړل بلکې له تجرید سیاست سره یې د روسانو په مشوره د حایل« Buffer state» سیاست هم ورغوټه کول غوښتل، تر څو افغانستان داسې عیار کړي چې روس او انګریز دواړه په هغه کې لاس وهنه ونه کړي، په دې ډول به د دواړو استعماري هیوادونو د ټکر خطر له منځه ولاړ شي؛ خو امیرشیرعلي خان د انګریزانو له دې دواړو سیاستونو څخه نفرت درلود.(۲۷: ۹۱)

که څه هم امیر د انګریزانو له دې سیاستونو څخه خبر و؛ خو د برلین په کنفرانس کې چې روسانو د افغانستان پر سر له انګریزانو سره کومه معامله وکړه، له هغه یې هیڅ ډول خبرتیا نه درلوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته باید ووایو چې دا د امیر یوه بله سیاسي کمزوري وه، چې له داسې یوې لویې پېښې څخه یې خبرتیا نه درلودله.

## پایله

دا لیکنه چې د افغانستان د نوي سیاسي سیستم په ایجاد کې د امیر شیرعلي خان د ونډې تر عنوان لاندې لیکل شوې له ۴۲ بیلابیلو معتبرو ماخذونو څخه په کې ګټه اخیستل شوې ده.دا دوره د افغانستان د تاریخ یوه مهمه او له بلې خوا ډېره حساسه دوره وه؛ ځکه چې له یوې خوا په افغانستان کې د نوي مدنیت د غوړېدا هڅې روانې وې او له بلې خوا داخلي او بهرنیو دښمنانو د هغه مدنیت د ورانولو نقشې جوړولې. په ځانګړې ډول ګاونډیانو نه غوښتل چې په څنګ کې یې داسې یو هیواد موجود وي، چې له هره اړخه پر ځان بسیا وي. هغوی نه غوښتل چې په افغانستان کې یوه قوي مرکزي اداره موجوده وي.

له بلې خوا امیرشیرعلي خان یو متجدد او روښانفکره شخص و، نوموړي د هیواد د آبادۍ او پرمختګ لپاره لوړې هیلې درلودلې، هغه د ګاونډیو هیوادونو له عصري تمدن او حالاتو سره پوره اشنایي درلودله، په ځانګړي ډول نوموړي د هند اداره، صنعت، مطبوعات، پوځ او معارف له ډېر نږدې څخه لیدلي وو، نو ځکه امیر هم د هماغه احساس له مخې چې درلوده یې د هیواد آبادۍ او پرمختګ ته پاملرنه وکړه. امیر شیرعلي خان په دې لړ کې د سیدجمال الدین افغان له جوړې کړې نقشې څخه په سم ډول کار واخیست؛ خو نوموړی یې په هیواد کې اوسیدو ته پرې نښود او بې له شکه که نوموړی یې له ځانه سره ساتلی وای، کیدای شوی چې نن به د افغانستان څېره په بشپړ ډول بدله وای. ویلای شو چې سیدجمال الدین افغان د امیر شیرعلي خان په اصلاحي کارونو کې عملي نه بلکې علمي ونډه لري.

همدارنګه امیر د خپلو پروګرامونو په پلي کولو کې له نورو مجربو داخلي او بهرنیو کسانو څخه کار واخیست، په ځانګړي ډول سیدنورمحمدشاه، چې د امیر په کابینه کې صدراعظم ټاکل شوی و، نوموړی پوه عالم او یو هوښیار سیاستمدار و او دده سیاسي هوښیارۍ ته د هغه وخت انګریزان هم قایل وو، خاصتاً چې له هغوی سره یې په کنفرانسونو کې د افغانستان بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استازېتوب کړی و. امیر شیرعلي خان ځینې فني کسان چې هندي مسلمانان وو له هند څخه استخدام کړل، که څه هم هغوی د امیر په اصلاحي چارو کې ونډه درلودله؛ خو په څنګ کې یې انګریزانو ته پخه جاسوسي هم کوله او په دې برخه کې یې امیر شیرعلي خان ته لویې ستونزې جوړې کړې. باید یادوونه وشي چې دا به د امیر کمزوري او یا تېروتنه وي چې د دولت په اډانه کې یې استخباراتو ته پاملرنه ونه کړه، که چېرې امیر ښه استخبارات درلودای؛ نو له هغو خطرونو او ناخوالو څخه به امیر خلاصون پیدا کړی وای چې په پای کې ورسره مخامخ شو. له دې امله امیر دوی تر پایه ونه پېژندل او هغوی هم د امیر تر سیوري لاندې د انګریزانو لپاره ښه خدمت وکړ.

ومو ویل چې امیر شیرعلي خان یو وطن دوست شخص و، د ادارې او تدبیر له مخې د ځانګړې ورتیا څخه برخمن و، خو د کورنیو او بهرنیو سیاسي ستونزو له امله به ډېر ځله له سختو رواني او روحي فشارونو سره مخامخ کیدو،چې په دې سره به کله کله له دولتي چارو لاس په سر شو. له دې امله یو شمېر پلانونه یې په خپله د ناکامۍ په خوله کې ورکړل. په داخلي سیاست کې له ډېرو ستونزو سرمخامخ شو او د شاهي کورنۍ په ننه کې جګړې پیل شوې. په بهرني سیاست کې هم له ناکامی سره مخامخ شو او انګریزانو د هغه له کمزورۍ څخه ګټه پورته کړه او په افغانستان یې د دوهم ځل لپاره تیری وکړ او افغانستان له یو نوي ناورین سره مخامخ شو.

دا چې د هر یو واکمن دوره د یو شمېر مثبتو او یو شمېر منفي کړنو په اساس ارزول کیږي، په دې ځای کې به د امیر شیرعلي خان ښې کړنې او د هغه ځینې تیروتنې په لنډ ډول بیان شي.

د امیر شیرعلي خان ښې کړنې په لاندې ډول مطرح شوي دي:

امیر شیرعلي خان یو په وطن مین او روښانفکره واکمن و، هغه ته دهیواد دنوی تمدن بنسټګر ویل کیږي، د هیواد د پرمختګ لپاره تل په لټه او تجسس کې و. د هغه په سیاسي برخه کې هڅه داوه چې هیواد یې سیاسي خپلواکي ولري، هغه هڅه کوله چې په سیاسي مذاکرو او کنفرانسونو کې د یو ځواکمن اړخ په توګه ګډون وکړي،د هغه هڅه داوه چې له ګاونډیانو او نورو هیوادونو سره سیاسي او سوداګریزي اړیکي ولري او د تجرید او انزوایي حالت څخه ځان راوباسي کوم چې د هغه د پلار له وخته انګریزانو پر افغانستان تپلی و، هغه د نورو واکمنانو په څېرد وطن د ګټو په خلاف له هیچا سره کوم سیاسي تړون لاسلیک نه کړ، هغه برسیره پر دې چې د هیواد ارضي تمامیت ته جدي پاملرنه درلودله، بل خوا یې له خپلې خاورې چا ته اجازه نه ورکوله چې ګاونډیو هیوادونو ته خطر پیدا کړي او خپله یې هم هڅه نه کوله چې له کوم ګاونډي هیواد سره جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي او له ګاونډیانو یې هم د ښه ګاونډیتوب هیله درلودله. د هغه تر ټولو غوره صفت دا و چې د سیمې اخبارونه یې مطالعه کول، تر څو د یو واکمن په توګه د سیمې او نړۍ له حالاتو خبر وي.

امیر شیرعلي خان ددې غوره کړنو سربیره ځینې تیروتنې هم وکړې د بیلګې په توګه، د کوچني زوی عبدالله جان په ولیعهد کولو سره یې په لوی لاس ځوان ځواکمن او په چارو پوه زامن (محمد یعقوب خان او محمدایوب خان) له ځان څخه خفه او آن تر دې چې له هغوی سره یې جګړه وکړه، محمدیعقوب خان یې پوره اته کاله په بند کې وساته او محمدایوب خان یې ایران ته فراري کړ. د نومورړي دا دوه زامن د ده دوې ځواکمنې متې وې او دا متې یې په خپله فلج کړې، که چیرې دا دوې متې فعالې وای؛ نو پرته له تردیده ویلای شو، چې امیر به په خپلو چارو کې ډېر بریالی وی. د امیر بله تېروتنه داوه چې په ځینو مواردو کې ډېر خوشباوره و؛ ځکه د هغه په دربار کې او د هغه تر ږیرې لاندې انګریز جاسوسان راغونډ وو، ده د امبالې د کنفرانس په وخت کې یو شمېر هندي مسلمان متخصصین استخدام او کابل ته له خانه سره راوستل، په ملکي او نظامي برخو کې یې زیات واکونه ورکړل، خو نوموړي یو ځل هم فکر ونه کړ چې دوی څوک دي او د هغوی شالید یې مطالعه نه کړ. همدا دوی وو چې امیر ته یې په کور دننه لویې ستونزې ایجاد کړې او دده ورځنی راپور یې انګریزانو ته رساوه. د امیر شیرعلي خان یوه بله تېروتنه چې په بشپړ ډول د هغه او د هیواد د تباهی سبب شوه، هغه د برلین له کنفرانس څخه خبرتیا نه درلودل او په روسانو باندې باور کول و. امیر د روس استازي په مشورو انګریز استازي خپل حضور ته ونه منل او انګریزانو ته یې د رد ځواب ورکړ، ده د روسانو تش په نوم وعدو باور وکړ.

په پای کې ویلای شو چې امیر شیرعلي خان د هغه وخت د غوښتنو په اساس په افغانستان کې د عصري نظام بنسټونه کېښودل؛ خو دده دا هڅې د یو شمېر داخلي او بهرنیو لاملونو په اساس زیانمنې شوې، د نوموړي واکمني یې هم پای ته ورسوله او ملت یو ځل بیا له انګریز استعمار سره په مخامخ جګړه کې واقع شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

دا چې د څېړنې پرمهال له یو شمېر تشو او نیمګړنیاو سره مخامخ شوم او په پوره ډول مې ونه شوای کړای چې د موضوع په اړه بشپړ معلومات راټول کړم؛ نو ځکه غواړم چې دا لیکنه په لاندې مشخصو وړاندیزونو پای ته ورسوم.

۱- محققین او څېړونکي باید ددې مهمې تاریخي دورې په باره کې خپلو علمي څېړنو ته ادامه ورکړي، ترڅو ټول تیاره او پټ ابعاد یې راڅرګند او راتلونکو نسلونو ته د غوره معلوماتو په حیث په میراث پاتې شي.

۲- دا چې امیر شیرعلي خان د افغانستان د کلتوري پیاوړتیا په برخه کې ډېر مهم کارونه کړي دي؛ له دې امله د اطلاعاتو کلتور وزارت ته وړاندیز کوم، چې لکه د نورو فرهنګ پالو تاریخي شخیصتونو په څېر دې دا واکمن او د هغه صدارعظم سیدنورمحمدشاه هم ولمانځل شي، د هغوی په یاد دې علمي سمینارونه او سېموزیمونه جوړ شي.

۳- سید نور محمدشاه چې یو وتلی سیاست وال و او د هغه وخت د کابینې مشر او صدارعظم و؛ خو تر دې مهاله څېړونکو په خپلو څېړنو کې یوازې د نوموړي سیاسي منډو ترړو ته ځای ورکړی دی. له همدې امله وړاندیز کیږي چې د هیواد څېړونکي د هغه د شخصي ژوند په تړاو ژورې او دقیقې څېړنې ترسره، ترڅو د هغه د ژوند ټول اړخونه په سم ډول راڅرګند شي.

۴- دا چې امیر شیرعلی خان د لومړي ځل لپاره په افغانستان کې عصري اداري بنسټونه رامنځ ته کړي دي، له دې امله دولتي چارواکو ته مو وړاندیز دادی، چې یو شمیر ځایونه ددې خبیر او علم دوست واکمن په نوم ونوموي، تر څو له یوې خوا د هغه خدمتونه له پامه نه وي غورځول شوي او له بلې خوا اوسنیو او راتلونکو واکمنانو ته یوه بیلګه وګرځیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱- آهنگ، محمدکاظم.(۱۳۹۳). تاریخ مختصر اطلاعات جمعي در افغانستان. کابل: مطبعه بنگاه انتشارات میوند.

۲- باوري ،محمدرسول.(۱۳۹۲). د افغانستان د تاریخ پنځوس پاڼې ( د مقالو ټولګه). کابل:د بهیقي د کتاب خپرولو ریاست.

۳- بیدار، کریم الله .(۱۳۹۳). د افغانستان سرحدونه. جلال آباد: ګودر خپرندویه ټولنه .

۴- تنویر،محمدحلیم.(۱۳۸۰).د افغانستان تاریخ او خپروني. ژباړونکي، محمدزبیر شفیقي او فدامحمدفایض. پېښور: صبور نشراتي مرکز.

۵- تڼیوال، محمدظریف.(۱۳۸۹).د افغانستان عمومي جغرافیه.کابل :کاروان چاپخونه.

۶- پوپلزی ، عزیز الدین وکیلي . ( ۱۳۸۷). فرهنګ کابل باستان ( جلد اول) . کابل : مطبعه طباعتي او صنعتي احمد.

۷- جرج، ن کرزن .(۱۳۴۹).ایران و قضیه ایران. جلد دوم، مترجم: غلام علي وحید مازندراني .شرکت انتشارات علمي و فرهنګي ایران.

۸- جهاني،عبدالباري .(۱۳۸۰).هرات، پښتانه او ستره لوبه. کویټه : صحاف نشراتي مؤسسه.

۹- جي ایل، یاروسکي.(۱۳۹۱).د امیرشیرعلي خان دربار ته د تزاري روسیې استازیتوب. ژباړه، داد خان غزنیوال. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

۱۰- حبیبي،عبدالحی.(۱۳۸۲).د افغانستان لنډ تاریخ.ژباړه،عبدالروف بینوا.پیښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۱۱- حبیبي، عبدالحی.(۱۳۸۲).د پوهاند علامه حبیبي شل مقالې. کندهار: نارنج خپرندویه ټولنه.

۱۲- حسامي، حضرت ګل .(۱۳۸۸) .تاریخ قضا در افغانستان.کابل: انتشارات سعید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳ـ ځدراڼ، ګلزرک. د افغانستان تاريخ. صبا خبرندويه ټولنه.

۱۵- ځلمی، محمدولي.(۱۳۶۷). د کابل نوميالی ورځپاڼې او جريدې. کابل: دولتي مطبعه

۱۶- دوديال، محمدبشير.(۱۳۸۸).اداره. جلال آباد: ګودر خپرندويه ټولنه.

۱۷- رشتيا، سيد قاسم.(۱۳۸۴). افغانستان در قرن نزده.کابل: بنګاه انتشارات ميوند.

۱۸- رفيع، حبيب الله.(۱۳۷۷).په افغانستان کې د عصري ښوونې او روزنې پيل او پرمختيا. پېښور: د افغانستان د مطالعاتو مرکز.

۱۹- رفيع، حبيب الله.(۱۳۸۸).د افغانستان لنډکی تاريخ. جلال آباد: ګودر خپرندويه ټولنه.

۲۰- رفيع، حبيب الله.(۱۳۹۲). ملي زاويه. استاد حبيب الله رفيع ادبي ټولنه.

۲۱- رهين، عبدالرسول.(۱۳۹۱). تاريخ مطبوعات افغانستان (از شمس النهار تا جمهوريت). کابل: انتشارات سعيد.

۲۲- زماني، خير محمد.(۱۳۹۲).تاريخ روابط خارجي افغانستان. کابل: انتشارات رسالت.

۲۳- زماني، خير محمد.(۱۳۹۲).تاريخ معاصر افغانستان (۱۷۴۷-۱۹۲۹).کابل: مطبعه عازم.

۲۴- صفاري، سلطان شاه.(۱۳۹۴).د افغانستان د بهرنيو اړيکو تاريخ. کابل: انتشارات مستقبل.

۲۵- صديقي، زرولي. (۱۳۹۴). ''د امير حبيب الله خان لنډه پيژندګلوي او د ده د مهال دوه مهمې پېښې'' د شيخ زايد پوهنيزه مجله. کابل: د لوړو زده کړو وزارت مطبعه.

۲۶- عارض، غلام جيلاني.( ۱۳۸۲).د تاريخ په اوږدو کې د افغانستان سرحدونه او اداري ويش. ختيځ بيا روغونې اداره (کور).

۲۷- عصمت الهي، محمدهاشم.(۱۳۸۲).نظام مطبوعات افغانستان. تهران: انتشارات بيکران.

۲۸- عطايي، محمدابراهيم.(۱۳۸۳).د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه. کابل: ميوند خپرندويه ټولنه.

۲۹- غبار، ميرغلام محمد.(۱۳۶۶).افغانستان در مسير تاريخ. کابل: مرکز نشر انقلاب با همکاري جمهوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳۰- غبار، میرغلام محمد.(۱۳۷۷).احمدشاه بابا افغان. ژباړه، امین الله دریځ.پېښور: دانش کتابخانه.

۳۱- فراهي،عبدالغفار.(۱۳۸۲).افغانستان د یموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۳۲- فرهنګ، میرمحمد صدیق.( ۱۳۷۱ ).افغانستان درپنج قرن اخیر. جلد اول و جلد دوم ،تهران : موسسه مطبوعاتي اسماعلیان.

۳۳- کامګار، جمیل الرحمان .(۱۳۸۷).تاریخ معارف افغانستان.کابل: بنګاه انتشارات میوند .

۳۴- کهزاد ، احمدعلي. زمانشاه ،فعالیت استعماري. د اریک خپرندویه ټولنه.

۳۵- کهزاد، احمد علي . (۱۳۸۷). بالاحصار کابل وپیش آمدهای تاریخی آن . جلد اول و دوم.کابل: بنګاه انتشارات ومطبعه میوند .

۳۶- ګنډا سنګ.(۱۳۸۸).دراني احمدشاه. ژباړه، نصرالله سوبمن.کابل: اسد دانش مطبعه.

۳۷- ګوش،دلیپ کمار.(۱۳۶۳).انګلستان و افغانستان. ترجمه ،میرحسین شاه. کابل: مطبعه پوهنتون.

۳۸- مجددي ،عبدالحق، مجددي، فضل الله.(۱۳۸۲).حقیقة التواریخ. کابل: بنګاه انتشارات میوند .

۳۹- محتاط،عبدالحمید .(۲۰۰۴).تاریخ تحلیلي افغانستان. لندن.

۴۰- محمدحیات خان.( ۱۳۸۶).حیات افغاني. اول او دوهم ټوک، ژباړه : فرهاد ظریفي او عبداللطیف طالبي، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۴۱- نعیم زی، محمد نسیم .( ۱۳۹۴). افغانستان دتاریخ په پلوشو کې. خپرندوی: په خپله لیکوال.

۴۲- نیازی، مستعلي.(۱۳۸۶).د امیر شیرعلي خان امارت او د امیر سیاسي ستونزې .جلال آباد: همددرد صنعتي مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۳- ویاړ، محمد کبیر. (۱۳۸۹). د افغانستان تاریخ د وروستیو دوه نیمو پیړیو په اوږدو کې. کابل:
اسد دانش مطبعه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی ننبلونه (ضمیمه)

## د امیر شیرعلي خان څخه وروسته د نوي سیاسي سیستم د ایجاد هڅې

د امیر شیرعلي خان د واکمنۍ وروسته د یو شمېر کلونو په اوږدو کې د هغه یو شمېر پلانونه په بشپړ ډول له پامه ولویدل. له یوې خوا دده علیل او ناروغ زوی محمد یعقوب خان واک ته ورسید، چې اته کاله یې د زندان سختیو، انزوایي حالت او روحي شکنجې له امله هم ذهني او هم جسماني توازن بایللی و؛ نو کله چې واک ته ورسید نه پوهیده چې څه وکړي او له کومه یې پېل کړي. له بلې خوا د انګریزانو یرغل او په وړاندې یې د افغان ملت وسله وال پاڅون چې په پایله کې انګریزان له ماتې سره مخامخ او د هیواد څخه وتلو ته اړ شول. دا داسې یو حالت و چې د دولت اداري او سیاسي نظام په بشپړ ډول مختل شو او د یوې مودې لپاره په هیواد کې انارشي رامنځ ته شوه.

د انګریزانو د وتلو جریان و چې فولادي واکمن امیرعبدالرحمان خان واک ته ورسید. امیر عبدالرحمان خان د افغانستان هغه واکمن و، چې دده په دوره کې د واک پر سر کورني اختلافات پای ته ورسیدل، یوه واحده مرکزي اداره رامنځ ته شوه، سیاسي مخالفین په بشپړ ډول له منځه یوړل شول، په ټول هیواد کې سراسري امنیت قایم شو، له ګاونډیانو سره ډېر شمیر پولې معلومې شوې، پوځ یو ځل بیا منسجم شو او ځواکمنه استخباراتي اداره رامنځ ته شوه؛ خو د امیرعبدالرحمان خان ددې لویو خدمتونو برسیره باید دا ومنو چې هغه د امیر شیرعلي خان یو شمېر اصلاحات تعقیب نه کړل. د بېلګې په توګه هغه د یو مطلق العنان واکمن په توګه عمل کاوه او د کابینې ډېری چارې یې په خپله اجرا کولې او همدارنګه په علمي او کلتوري برخه کې یې هم چندان لاسته راوړنې نه درلودلې. خو دده تر مړینې وروسته یې زوی امیرحبیب الله خان یو ځل بیا د عصري مدنیت عناصر راژوندي کړل، چې دلته ورڅخه لنډه یادونه کوو.

امیرحبیب الله ځان په (۱۹۰۱م) کال کې واک ته ورسید او په (۱۹۰۲م)کې یې د سراج الملة والدین لقب ځانته غوره کړ. د هغه باور داوه چې د یو دولت او ملت ترقي د پوهې پرته امکان نه لري. نوموړي ځان د خپل پلار برعکس ملایم، علم دوست او د هیواد د ترقۍ خوښوونکي په توګه ولس ته وروپیژانده. که څه هم نوموړی استراحت طلبه او ظرافت غوښتونکی شخص و او په پوره ډول یې د شلمې پیړۍ له علمي پرمختګونو څخه ګټه پورته نه کړه. خو ددې سره سره یې بیا هم د معارف او مطبوعاتو په غوړیدا کې یو اندازه کارونه وکړل. هغه په (۱۹۰۳)کال کې د حبیبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښوونځی جوړ کړ او په (۱۹۰۶) م کال کـې يې د سراج الاخبار په نوم يوه جريده له چاپه راوويستله. (۲۵: ۱۰۳-۱۰۶)

اميرحبيب الله خان هم د يوه مطلق العنان واکمن په توګه واکمني کوله او په دې لاره کې يې ښه جدي ګامونه هم پورته کړي دي، د همده په وخت کې د مشروطه لومړی پلا غورځنګ راپورته شو؛ خو نوموړي يې په مقابل کې سخت غبرګون وښود او د غورځنګ يو شمېر مخکښ کسان يې په توپونو والوزول. د مشروطيت دوهم خوځښت؛ خو په پټ شکل ددې واکمن تر ږيرې لاندې وده وکړه، يعنې د ده د کورنۍ مخکښ کسان، د هغه وروڼه او اولادونه وو لکه: نصـــر الله خـان، امان الله خان او عنايت الله خان او داسې نور ددې پټ غورځنګ سرلاري وو. ويل کيږي چې ددې واکمن مرموزه مړينه به هم د همدغه پټ ګوند او خوځښت له لارې ترسره شوې وي. بيا هم ويلای شو چې د امير شيرعلي خان وروسته اميرحبيب الله خان و چې يو ځل بيايې د نړيوال عصري کلتور بيلګې هيواد والو ته معرفي کړې.

د امير حبيب الله خان د مړينې وروسته يې زوی امان الله خان واک ته ورسيد، دا هغه واکمن دی چې په نړيواله او سيمه ييزه سطح يوه پيژندل شوې تاريخي څېره ده. نوموړي په ۱۹۱۹م کال د اګست په ۱۹ لسمه له انګريزانو څخه د هيواد سياسي خپلواکي ترلاسه کړه او عملاً افغانستان د نړۍ له ګڼو هيوادونو سره سياسي اړيکې ټينګې کړې. له دې تاريخي بريا څخه وروسته يې په هيواد کې د پراخو اصلاحاتو پلانونه ترکار لاندې ونيول.

نوموړي عصري سياسي اداره او دولت رامنځ ته کړ او په ۱۹۲۳م کال د جلال آباد په لويه جرګه کې د نظام نامې په نوم د افغانستان لومړنی اساسي قانون تصويب او بيا يې د پغمان په لويه جرګه کې د ملت د استازو په واسطه تائيد کړ.

د فرهنګ په سطح کې معارف دومره پراختيا ومونده، چې د ښوونځيو د تاسيس لپاره خلکو له دولت سره مرستې پيل کړې او د هيواد په ولايتونو او لرو سيمو کې ښوونځي جوړ او زده کوونکو په زده کړو پيل وکړ. د هلکانو برسيره د نجونو لپاره هم ښوونځي جوړ شول او بهرنيو هيوادونو ته هم د تحصيل لپاره نجونې او هلکان وليږل شول.

د مطبوعاتو په برخه کې لسګونه جريدې او مجلې خپريدلې، د ښځو لپاره ارشاد النسوان په نوم يو جريده خپريده او همدارنګه په هر ولايت کې يوې جريدې خپرونې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اقتصادي برخه کې د صنعت پراختیا ته پاملرنه وشوه او په باندینۍ سوداګرۍ کې افغاني پیداوارو د نړۍ مارکیټونو ته لاره پیدا کړه.

په عمراني برخه کې نوي ښارونه جوړ شول او د کابل ښار له پخوا څخه څو چنده پراخ شو، د ولایتونو ترمنځ لارې او سړکونه له سره جوړ شول او په لاره کې د مسافرو د هوساینې لپاره هوټلونه په کار ولویدل. د کابل او ولایتونو ترمنځ د تلګراف لینونه وغزول شول او د اورګاډي د پټلۍ د غزولو لپاره یې له یوې فرانسوي کمپنۍ سره قرار داد وکړ. (۲۸: ۲۸۱-۲۸۲)

خو لکه د تیر په څېر بیا هم بهرنیو او داخلي دښمنانو دا پرمختګ غوښتونکی پاچا خپل کار ته پرینښود او له هیواد څخه وتلو ته اړ شو.

# دوهمه نښلونه (ضمیمه)

# د افغانستان د معاصر تاریخ واکمنان

| ګڼه | واکمن | د واکمنۍ موده | ګڼه | واکمن | د واکمنۍ موده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | احمدشاه بابا | ۱۷۴۷-۱۷۷۳م | ۱۵ | امیر حبیب الله خان | ۱۹۰۱-۱۹۱۹م |
| ۲ | تیمورشاه | ۱۷۷۳-۱۷۹۳م | ۱۶ | غازي امان الله خان | ۱۹۱۹-۱۹۲۹م |
| ۳ | شاه زمان | ۱۷۹۳-۱۸۰۰م | ۱۷ | حبیب الله کلکاني | ۱۹۲۹م |
| ۴ | شاه محمود (۱) | ۱۸۰۰-۱۸۰۳م | ۱۸ | محمد نادر شاه | ۱۹۲۹-۱۹۳۳م |
| ۵ | شاه شجاع (۱) | ۱۸۰۳-۱۸۰۹م | ۱۹ | محمد ظاهر شاه | ۱۹۳۳-۱۹۷۳م |
| ۶ | شاه محمود (۲) | ۱۸۰۹-۱۸۱۸م | ۲۰ | سردار داؤدخان | ۱۹۷۳-۱۹۷۸م |
| ۷ | امیر دوست محمد (۱) | ۱۸۳۴-۱۸۳۹م | ۲۱ | نور محمد ترکی | ۱۹۷۸-۱۹۷۹م |
| ۸ | شاه شجاع (۲) | ۱۸۳۹-۱۸۴۲م | ۲۲ | حفیظ الله امین | ۱۹۷۹م |
| ۹ | امیر دوست محمد (۲) | ۱۸۴۲-۱۸۶۳م | ۲۳ | ببرک کارمل | ۱۹۷۹-۱۹۸۶م |
| ۱۰ | امیر شیرعلي خان (۱) | ۱۸۶۳-۱۸۶۶م | ۲۴ | ډاکټرنجیب الله | ۱۹۸۶-۱۹۹۲م |
| ۱۱ | امیر محمد افضل خان | ۱۸۶۶-۱۷۶۷م | ۲۵ | صبغت الله مجددي | ۱۹۹۲م |
| ۱۲ | امیر محمد اغظم خان | ۱۷۶۷-۱۷۶۸م | ۲۶ | برهان الدین رباني | ۱۹۹۲-۱۹۹۶م |
| ۱۳ | امیرشیرعلي خان (۲) | ۱۷۶۸-۱۸۷۸م | ۲۷ | ملامحمد عمر | ۱۹۹۶-۲۰۰۱م |
| ۱۴ | امیر محمد یعقوب خان | ۱۸۷۸-۱۷۷۹م | ۲۸ | حامد کرزی | ۲۰۰۱-۲۰۱۴م |
| | امیر عبدالرحمان خان | ۱۸۸۰-۱۹۰۱م | | محمد اشرف غني | ۲۰۱۴-..؟ |

[ له هغه شمیر واکمنانو سره د ۱او ۲ شمیرې لیکل شوي دي د لومړي او دوهم ځل د واکمنۍ مانا ورکوي.




(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریمه نښلونه (ضمیمه)

## د سدوزیو او بارکزیو ټبرونو شجرې



(c) ketabton.com: The Digital Library




(۴۰: ۱۵۶ـ۱۵۷)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**